# د افغانستان د بیا رغونې لپاره

# ځانګړی عمومي پلټونکی




## د متحده ایالاتو کانګرس ته

## درې میاشتنی راپور

اکتوبر ۲۰۰۸

**د افغانستان د بیا رغونې د څانګړې عمومي پلټونکي پیغام**

دا د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي (سیګار) لومړنی رسمي درې میاشتنی راپور دی چې د مالي کال ۲۰۰۸ (PL۱۸۱-۱۱۰) د ملي دفاع د صلاحیت ورکونې د قانون (NDAA) د برخې ۱۲۲۹ لخوا ضروري شوی و. د ۲۰۰۸ د جولای ۲۲مه د ځانګړي عمومي پلټونکي په توګه له لوړې کولو راوروسته، ما د دې سازمان د جوړولو او د هغه تعلق د پیل کولو لپاره کار کړی چې د سیګار لپاره د دې مشن د ترسره کولو په لړ کې چې د متحده ایالاتو د کانګرس لخوا وړاندې شوی، ضروري و. دا راپور په دې مشن، د افغانستان په اوسنی وضعه، او زما په هغو پلانونو پوهېدنه بحث کوي چې د سیګار دفتر یې په څه ډول په راتلونکو ورځو کې ترسره کول غواړي.

زما د یو له لومړیو لومړیتوبونو د پوره کولو په لړ کې، ما په سپتمبر ۲۰۰۸ کې د افغانستان لیدنه وکړه. د لوړ پوړو ملکي او نظامي چارواکیو سره زما مباحثې معلوماتي او رازښکاره کوونکې وې. هغو نظرونو چې هغوی ما سره شریک کړل دا خبره واضحه کړه چې په افغانستان کې د بیا رغونې هدف یوه ګرانه او پېچلې مسله ده. دا په یوه داسې هېواد کې ترسره کېږي چې په ستره کچه طبعي سرچینې نه لري، یوه داسې ابادي لري چې د لسیزو جګړو او روان یاغیتوب تباه کړې ده. د دې ننګونې د ترسره کولو لپاره، ما یوه ستراتیژیکه مفکوره جوړه کړې چې د دې لپاره به د خپلواکو او مقصدي حقایقو موندل یقیني کړي چې د اختصاص شویو بودیجو او پیسو یا په بله مانا چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورکړل شوي حساب او وړتیا یقیني کړي. ټولې نښې دا دي چې سیګار به یوې قوي او په لوړه کچه مسلکي کاري ډلې ته اړتیا ولري چې دا مشن پوره کړي، او مونږ د دې هدف د لاس ته راوړلو لپاره په لاره یو.

د کانګرس د غړیو او کاري ډلې سره زمونږ مباحثې په ځانګړي ډول د دې مسوولیت او ابتدایي بودیجې په ترلاسه کولو کې مرستندویه وې، چې د سازمان د کارکوونکیو په پیدا کولو او هغه کار کولو پیل وشي چې زمونږ لپاره په واضح ډول یو پیاوړی مشن دی. سیګار ته د بودیجو ورکولو یو څه مسلې لا حل نه دي، خو زه باوري یم چې هغه به بالاخر حل شي. زه د کانګرس مننه کوم چې د مرستې لپاره یې زمونږ غوښتنې اورېدلې او ځواب کړې. د NDAA برخه ۱۲۲۹ هغه بنسټ دی چې سیګار پرې وجود لري او اوس مونږ ته مسوولیت راکړل شوی چې اړینې پلټنې، معاینې، تحقیقات او تحلیلونه ترسره کړو.

د افغانستان بیا رغونه د متحده ایالاتو د ګټو لپاره مهمه ده او زه په درناوي سره هرو هغو نظرونو ته بلنه ورکوم په کومو چې د سیګار د دفتر ښایي مرسته وشي او د خلکو لا ښه خدمت وکړي.

په ډېر درناوي په ۳۰ اکتوبر ۲۰۰۸ وړاندې شو

ارنلډ فیلډز
تورنجنرال، USMC (متقاعد)
د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکي

# د منځپانګې فهرست

١. عمومي لنډيز.......... ١
٢. د سيګار ستراتيژيکه عمومي کتنه.......... ٥
٣. د افغانستان د بيا رغوني اقدامات.......... ١٢
٤. د افغانستان د بيا رغوني د بوديجو لنډيز ٢٠٠١-٢٠٠٨.......... ١٧
٥. لنډيزونه او تعريفونه.......... ٤٥
٦. ضميمې.......... ٤٦
٧. ماخذونه.......... ١٣٤

## د چوکاټونو او انځورونو لست

انځور ۱: د سيګار ستراتيژيکه مفکوره............................................................................... ۲
انځور ۲: د سيګار اداري چارټ........................................................................................ ٦
انځور ۳: د سيګار ستراتيژيکه مفکوره............................................................................... ۹
چوکاټ ۱: پروګرام او هدفي بوديجې په مالي کال.................................................................. ۱۲
چوکاټ ۲: د سرچينو د بوديجو (په مليونونو کې) عمومي کتنه................................................... ۱۹
چوکاټ ۳: د افغانستان د پروګرام د بوديجو چارټ................................................................... ۲۱
انځور ٤: افغان بوديجې بنسټ په پروګرامي اهدافو، مالي کال ۲۰۰۱........................................... ۲۲
انځور ٥: افغان بوديجې بنسټ په پروګرامي اهدافو، مالي کال ۲۰۰۲........................................... ۲۲
انځور ٦: افغان بوديجې بنسټ په پروګرامي اهدافو، مالي کال ۲۰۰۳........................................... ۲۳
انځور ۷: افغان بوديجې بنسټ په پروګرامي اهدافو، مالي کال ۲۰۰٤........................................... ۲٤
انځور ۸: افغان بوديجې بنسټ په پروګرامي اهدافو، مالي کال ۲۰۰٥........................................... ۲٤
انځور ۹: افغان بوديجې بنسټ په پروګرامي اهدافو، مالي کال ۲۰۰٦........................................... ۲٤
انځور ۱۰: افغان بوديجې بنسټ په پروګرامي اهدافو، مالي کال ۲۰۰۷.......................................... ۲٥
انځور ۱۱: افغان بوديجې بنسټ په پروګرامي اهدافو، مالي کال ۲۰۰۸.......................................... ۲٥
انځور ۱۲: د ۲۰۰۲ کال د بوديجو د افغان ازادۍ د ملاتړ قانون.................................................. ۲٦
انځور ۱۳: د افغان ملي پوليسو بوديجې............................................................................. ۲٦
انځور ۱٤: د مخدره موادو ضد بوديجې............................................................................. ۲۷
انځور ۱٥: د افغان ملي اردو بوديجې................................................................................ ۲۷
انځور ۱٦: د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجې................................................................. ۲۸
انځور ۱۷: د ولسمشرۍ د ساتني خدمتونه.......................................................................... ۲۸
انځور ۱۸: د غېرنظامي کولو، د غېرتحريکولو، او بياخپلولو بوديجې........................................... ۲۹
انځور ۱۹: د بنديانو د عملياتو بوديجې............................................................................. ۲۹
انځور ۲۰: د انسان د وړلو د هوايي دفاعي سيستمونو د له منځه وړلو بوديجې............................... ۳۰
انځور ۲۱: د وړو وسلو د کنټرول بوديجې.......................................................................... ۳۰
انځور ۲۲: د تروريزم د مخنيوي د پروګرام بوديجې............................................................... ۳۱

انځور ۲۳: تروريزم په وړاندې د مبارزې د پروګرام بوديجې...................................................................۳۱
انځور ۲٤: د سرحدي کنټرول (WMD) بوديجې..........................................................................................۳۲
انځور ۲۵: د دوه طرفه پور د اسانولو بوديجې..........................................................................................۳۲
انځور ۲٦: د افغانستان د دولت لپاره د ملاتړ بوديجې.................................................................................۳۳
انځور ۲۷: د ښې دولتدارۍ بوديجې.........................................................................................................۳۳
انځور ۲۸: د افغانستان د اعتبار د بوديجې ..............................................................................................۳٤
انځور ۲۹: د سياسي مقابلې او د اتفاق د جوړولو بوديجې.............................................................................۳٤
انځور ۳۰: د مدني ټولنې بوديجې.............................................................................................................۳۵
انځور ۳۱: د قانون د حاکميت او بشري حقونو بوديجې.................................................................................۳۵
انځور ۳۲: د سرکونو بوديجې..................................................................................................................۳٦
انځور ۳۳: د بشري ځواب بوديجې............................................................................................................۳٦
انځور ۳٤: د افغان-تاجک پول بوديجې.......................................................................................................۳۷
انځور ۳۵: د تعليم\ښوونځيو بوديجې.........................................................................................................۳۷
انځور ۳٦: د روغتيايي کلينکونو بوديجې.....................................................................................................۳۸
انځور ۳۷: د برېښنا بوديجې....................................................................................................................۳۸
انځور ۳۸: د ولايتي بيا رغونې د ټيمونو بوديجې..........................................................................................۳۹
انځور ۳۹: د CERP بوديجې....................................................................................................................۳۹
انځور ٤۰: د ملکي هوانوردۍ بوديجې.........................................................................................................٤۰
انځور ٤۱: د خصوصي سکټور\اقتصاد\دولتي پرمختيا بوديجې...........................................................................٤۰
انځور ٤۲: د اوبو د پروژو بوديجې............................................................................................................٤۱
انځور ٤۳: د زراعت بوديجې....................................................................................................................٤۱
انځور ٤٤: د کډوالو\په نړيواله توګه د بې ځايه شويو کسانو د مرستې بوديجې......................................................٤۲
انځور ٤۵: د خوړو د مرستيا پروګرام..........................................................................................................٤۲
انځور ٤٦: د ماينونو د ليرې کولو بوديجې....................................................................................................٤۳
انځور ٤۷: د دولت-USAID د پروګرام د ملاتړ بوديجې..................................................................................٤۳

# عمومي لنډيز

عمومي کتنه

د ۲۰۰۱ کال راهیسي، متحده ایالاتو افغانستان ته په بشري او د بیا رغوني په مرسته کي تقریباً ۳۲ ملیارده ډالر ورکړي دي. برسېره پر دې، نړیوالي ټولني د افغانستان د بیا جوړوني لپاره ۲۵،۳ ملیارده نور ډالر ورکړي دي. د دې لپاره چي د دې بوديجو په تړاو د پلټنو، معاينو او تحقيقاتو خپلواکه او مقصدي څارنه وکړای شي، کانګرس د مالي کال ۲۰۰۸ (پی ايل ۱۱۰-۱۱۸) لپاره د ملي دفاع د صلاحيت ورکوني د قانون د برخي ۱۲۲۹ د واک لاندې د افغانستان د بيا رغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي (سيګار) دفتر جوړ کړ، چي دا قانون د ۲۰۰۸ د جنوری په ۲۸مه جوړ شو. د متحده ايالاتو د بحري ځواکونو (متقاعد) تورنجنرال ارنلډ فيلډز د ۲۰۰۸ د جون په ۱۲مه د ولسمشر جارج ډبليو. بوش لخوا د لومړني عمومي پلټونکی (IG) په توګه وټاکل شو او وروسته يي د ۲۰۰۸ د جولای په ۲۲مه په خپل دفتر کي لوړه وکړه.

د سيګار بوديجي

پی ايل ۱۱۰-۱۱۸ د افغانستان د امنيتي ځواکونو د بوديجي (ASFF) څخه يو د ۲۰ مليونه ډالرو رقم دې لپاره سيګار ته د ورکولو واک ورکړ چي په ۲۰۰۸ کي کار روان کړي. خو، دا بوديجي سيګار ته هيڅکله ورنکړل شوی. د ضميمه يي بوديجو د اصلي اختصاصونو چي منظوري يي د جون ۲۰۰۸ په ۳۰مه ورکړای شوي وه په نتيجه کي سيګار ته د سپتمبر ۲۰۰۸ پر مهال ۲ مليونه ډالر په لاس ورکړل، چي نور اضافي ۵ مليونه ډالر د ۲۰۰۸ د اکتوبر په ۱ نېټه په لاس ورکړای شول. کانګرس وروسته ۹ مليونه ډالر د ۲۰۰۹ د ټکس لپاره د امنيت، د افت د مرستي، او د دوامي اختصاصونو د قانون څخه مختص کړل، په کومه چي د ولسمشر لخوا د ۲۰۰۸ د سپتمبر په ۳۰مه لاسليک وشو. د دې بوديجو په ترلاسه کولو سره خلک په کار ګومارل پيل شوي او د سيګار د اوږدمهاله پرسونل، اسانتياو او لوژيستيکي غوښتنو د سرچينو لپاره شرايط جوړ کړای شوي دي. سيګار د عراق د بيا رغوني لپاره د عمومي پلټونکی د دفتر (سيګير) سره د ياداښت يوه موافقه کړې ده چي د بېرته ورستنولو پر بنسټ ورته عارضي بوديجه، قرارداد او د مشخصو سرچينو ملاتړ ورکړي. دا انتظام په خپل نوعيت کي لنډمهاله دی، د سيګار په خپلواکی مصلحت نه کوي، او د کانګرس د اختيار ورکولو سره برابر دی.

د سيګار ابتدايي فعاليتونه

د فعاليتونو له پيلولو راوروسته، سيګار په بشپړ ډول په يو شمېر هلو ځلو کي بوخت پاتې شوی په ګډون د:

- د کانګرس د غړيو او کاري ډلي سره خبرې کول چي د هغوی په اراده بشپړه پوهېدنه يقيني کړای شي
- د داسي مهمو شريکوالو سره تر ۶۰ زياتي غونډې ترسره کول چي نېغ په نېغه د افغانستان د بيا رغوني په مسلو کي لاس لري
- د افغانستان په بيا رغونه کي د نړيوالو سازمانونو د ګډون په اړه نيو يارک کي د ملګرو ملتونو د لوړ پوړو مشرانو سره ليدل

- د برونسوم په مونس، او کابل، کې د ناټو د لوړپوړي مشرتابه سره د يو ازاد او پياوړي افغانستان د جوړولو په لړ کې د هغوی د ارادو په اړه مشوره
- د مهمو جنګي ډلي قوماندانانو سره ليدل څو په دې وپوهېدل شي چې هغوی څنګه د پرمختيايي لومړيتوبونو په تعلق سره امنيتي وضعي ته ګوري
- په افغانستان کې د ولايتي بيا رغوني د ټيمونو څخه ليدل څو په هغو امنيتي، کولتوري او مالي ننګونو وپوهېدل شي چې دوی ورسره مخ دي
- په افغانستان کې د يو اوږد موجوديت لپاره شرايط برابرول
- د ۲۰۰۸ د جولای د ۲۲مي څخه راپېږخوا د سازمان کارکوونکي له ۱ څخه ۲۱ تنو ته لوړول

<u>ستراتيژيکه مفکوره</u>

د دې تېزو تياريو او فعاليتونو پر بنسټ، د سيګار د مشن ستروالی واضح دی: په افغانستان کې پرمختيا يوه مخ په زياتېدونکي ګرانه او پيچلي مسله ده. دا په يوه داسي هېواد کې ترسره کېږي چې په ستره کچه طبعي سرچيني نه لري، يوه داسي ابادي لري چې د لسيزو جګړو او روان ياغيتوب تباه کړې ده. متحده ايالات ناټو سره د يو شريکوال په توګه ګډون کوي، کومه چې د ۲۰۰۳ څخه راپېږخوا د افغانستان د بيا رغوني په پروسه کې فعاله ده او د ځينو اړخونو مسووليت پر غاړه لري. د دې پيچلتياو د حل کولو لپاره، سيګار يوه ستراتيژيکه مفکوره جوړه کړې ده (په انځور ۱ کې انځور شوې) کومه چې به د خپلواکي او مقصدي حقيقت موندني لپاره د يو لارښود په توګه کار وکړي څو د افغانستان د بيا جوړوني لپاره د اختصاص شويو يا په لاس ورکړل شويو بوديجو او پيسو احتساب وشي او وړ استعمال يې يقيني شي. په دې توګه، سيګار به افغانستان لپاره د بيا رغوني د يوې مربوطي او اغېزمني نړيوالي ستراتيژۍ د لا زياتي پرمختيا لپاره کار وکړي.

| د سيګار ستراتيژيکه مفکوره | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **د ډاټا راغونډول** | **تکامل او تجزيه** | **لومړيتوب ورکول** | **ځای پر ځای کول** | **پايلي** |
| - تحليلونه<br>- د ډاټا کتنه<br>- مرکې<br>- د تماس لارې | - پلټني\کتني<br>- مالي معلومات<br>- معاينې<br>- تحقيقات | - اداري لورى<br>- لوړه خطره\ د لوړې کچې اهداف<br>- مالي پلټني\ کتني<br>- سرچيني، بوديجې او ملاتړ | - پلټونکي<br>- معاينه کاران<br>- تحقيق کوونکي<br>- د همکارۍ ډلي | - درې مياشتني کانګرسي راپورونه<br>- تحقيقي حوالي<br>- د افغانستان د بيا رغوني پرمختياوې |
| ١ پړاو *بنسټ ايښودل* | ٢ پړاو *لومړنی فعاليتي وړتيا* | | | ٤ پړاو موندني او سپارښتني |
| | | ٣ پړاو *بشپړه فعاليتي وړتيا* | | |

انځور ۱: د سيګار ستراتيژيکه مفکوره

<u>کېدونکې کار</u>

لومړني راپورونه به په دې څلورو مهمو برخو تمرکز کوي:

١. د متحده ایالاتو د هغو بودیجو یو بشپړ لست چې د بیا رغونې لپاره اختصاص شوي او یا په بله مانا په لاس ورکړل شوي

٢. هغه اقدامات د کومو لپاره چې د بیا رغونې د بودیجو منظوري ورکړای شوې وه

٣. د بیا رغونې د اقداماتو حالت

٤. د ضیاع، دوکې، ناسم استعمال، او فساد ثبوت

معاینې، تحقیقونه، او پلټنې به د بیا رغونې د هڅو د بشپړې منظرې معاینه په لاندې پروګرامونو او اقداماتو کې د مشخصې علاقمندۍ سره کوي:

- د قرارداد عملي کول
- د امنیت د سکټور پرمختیا
- د انفراسټرکچر پرمختیا
- د نظامي تجهیزاتو ترلاسه کول
- روزنیز پروګرامونه
- د مخدره موادو پر وړاندې مبارزه
- د عدلي سیستم اصلاح
- د قوماندان د بیړنې ځواب پروګرام (CERP)
- په بشري بنسټ د خوړو بیړنۍ مرسته
- هغه پروګرامونه او مسلې چې د سیګار د تماس په شمېره او نورو واسطو پېژندل شوې دي

د پلټنو او تحقیقاتو پایلې به خپرېږي او آنلاین به په http://www.sigar.mil انټرنیټپانه ترلاسه کېدای شي.

<u>د نړدې مودې خاکه</u>

یوه ابتدايي د عملياتو او تحليل ډله به د ۲۰۰۸ په نومبر کې په افغانستان کې ځای پر ځای کړای شي چې د سيګار د راتلونکي پرسونل لپاره د کار او اوسېدو انتظامات جوړ کړي. تر جنوري ۲۰۰۹ پورې به په افغانستان کې يو فعال د اوسېدو مرکز موجود وي.

په بوديجو د اوسنيو محدوديتونو له امله، سيګار تمه نه لري چې د مالي کال ۲۰۰۹ د څلورمې درې مياشتنۍ پورې بشپړې فعاليتي وړتيا ته ورسېږي. يو لړ تر لږه د ۹۰ مامورينو عمله به د سيګار لپاره ضروري وي چې خپل مشن ترسره کړي او د کومو نه چې دا تمه لري چې ۵۸ به يې د واشنګټن ډي سي په ستره سيمه کې موجود وي؛ ۳۲ به افغانستان کې تر ۱۳ مياشتو پورې سفرونو لپاره مخ په وړاندې موجود وي. سيګار به د خپلو سرچينو په اړتياوو کې د مشن د عمده غوښتنو سره سم بدلون راولي.

# د سیګار ستراتیژیکه عمومي کتنه

د کانګرس اختیار ورکول

متحده ایالاتو د ۲۰۰۱ څخه راپدېخوا په افغانستان کې د بشري او نورو مرستو لپاره تقریباً ۳۲ ملیارده ډالر په کار اچولي دي. دا پیسي د افغانستان د بیا رغوني د هڅي لپاره د کوم ملت لخوا په یواځي سر ورکول کېدونکی تر ټولو غټ رقم دی. د هغو ۲۵ ملیارده نورو ډالرو چي د طالبانو د رژیم له پرېوتو وروسته د ٦۰ نورو هېوادونو لخوا ورکړل شوي سره یو ځای کړای شي، نو د افغانستان په بیا رغونه کې ټوله غېر نظامي نړیواله پانګه له ۵۷ ملیارده ډالرو څخه اوړي. د دې لپاره چي د دې بودیجو خپلواک او مقصدي نظارت وشي او پلټني، معاینې او تحقیقات ترسره شي، کانګرس د افغانستان د بیا رغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي (سیګار) دفتر جوړ کړ. په دې توګه، د سیګار دفتر ته مسوولیت ورکړل شوی چي د هغو پیسو د حساب څارنه وکړي چي په اغېزمن ډول د افغانستان د بیا رغوني لپاره لګول شوې دي، تر څو دا هېواد په داخلي او خارجي توګه په امنیت، دموکراتیک سنبال، او د تروریزم، د نشه یي موادو د کاروبار، او مخدره توکیو د کر په وړاندې ولاړ وي.

د افغانستان د بیا رغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي ټاکنه، چي پراخه څېرنیز صلاحیتونه ورته ورکړل شوي او پر خپلواکی او علمیت سنبال دی، د یوې داسې مهمې او اساسي آلې په توګه کار کوي چي په افغانستان کې د بیا رغوني د هڅو نګرانی ته به د حقیقت بڼه ورکړي.

د سیګار مشن

د سیګار د عمومي پلټونکي مشن یو داسي خپلواک، تمرکزي، او باوري د نګرانی سیستم جوړولو او پر مخ وړل دي چي باوري کړي چي د افغانستان د بیا رغوني لپاره د متحده ایالاتو ټولي بودیجي په هغسي سم، اغېزمن، او وړ ډول لګول شوي لکه چي پکار ده. د دې لپاره، دا دفتر به د متحده ایالاتو په بودیجو د بیا رغوني په پروګرامونو کې د ضیاع، دوکې، او ناسم استعمال مخه نیسي؛ داسي خپلواک او مقصدي د حقیقت موندنې پروګرامونه به ترسره کوي چي د افغانستان د بیا رغوني لپاره د ورکړل شویو پیسو یا اختصاص شویو بودیجو وړ استعمال یقیني کړي؛ او د افغانستان د بیا رغوني لپاره د یوې مربوطي او اغېزمني ستراتیژۍ په پرمختیا کې لا زیات کار وکړي.

لکه چي په پي ایل ۱۱۰-۱۱۸ کې یي تشریح شوی، د افغانستان په بیا رغونه کې هغه ټول فعالیتونه او هڅې شاملي دي چي "د افغانستان فزیکي انفراسترکچر جوړوي یا بیا جوړوي؛ چي د افغانستان د سیاسي او ټولنیزو ادارو بنسټ او یا بیا بنسټ ږدي؛ او یا د افغانستان خلکو ته سامانونه او خدمتونه وړاندې کوي." سیګار به د بیا رغوني د فعالیتونو داسي څارنه ترسره کوي چي په هغې کې به لاندې چارې شاملې وي خو تر دې به محدودې نه وي:


- د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې او تجهیزوني د پروګرامونو لپاره ملاتړ
- د نړیوالو امنیتي ځواکونو لپاره ملاتړ
- د مخدره موادو ضد اقداماتو لپاره ملاتړ
- د عدلي اصلاح او ظرفیت جوړوني لپاره ملاتړ
- د فزیکي انفراسټرکچر پروژې (برقي برجونه، د اوبو او اوبه خور سیستمونه، انرژي، او نور)
- د محلي روزګار د پروژو او پروګرامونو پیلول

- د سرکونو د جوړولو او بهترولو پروګرامونه
- د ښوونځي، کلينک، او روغتون د جوړولو او بيا جوړولو پروژې

<u>اداري پرمختيا او ابتدايي همکاري</u>

**د سيګار پلان شوې اداره**

د سيګار د دفتر په ېينو درېدل د ۲۰۰۸ د مئ په ۲۹مه د عمومي پلټونکی په نومولو سره پيل شو. د ۲۰۰۸ د اکتوبر تر ۳۰مي نېټې، د کارکوونکيو کچه د حکومت ۸ مامورينو او ۱۳ قراردادي پرسونل ته رسېدلي چې د واشنګټن ډي سي په سيمه کې ټاکل شوي دي. لاندې يو چارټ دی چې د سيګار د دفتر پلان شوې اداره انځوروي.




انځور ۲: د سيګار اداري چارټ

**د سیګار د بودیجو اقدامات**

پي ایل ۱۱۰-۱۱۸ د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بودیجې (ASFF) څخه یو د ۲۰ ملیونه ډالرو پیسې د دې لپاره سیګار ته د ورکولو واک ورکړ چې په ۲۰۰۸ کې کار پیل کړي. خو، دا بودیجې سیګار ته هیڅکله ورنکړل شوې. د ضمیمه یي بودیجو د اصلي اختصاصونو چې منظوري یې د جون ۲۰۰۸ په ۳۰مه ورکړای شوې وه په نتیجه کې سیګار ته د سپتمبر ۲۰۰۸ پر مهال ۲ ملیونه ډالر په لاس ورکړل، چې نور اضافي ۵ ملیونه ډالر د ۲۰۰۸ د اکتوبر په ۱ نېټه په لاس ورکړای شول. کانګرس وروسته ۹ ملیونه ډالر د ۲۰۰۹ د ټکس لپاره د امنیت، د افت د مرستې، او د دوامي اختصاصونو د قانون څخه مختص کړل، په کومه چې د ولسمشر لخوا د ۲۰۰۸ د سپتمبر په ۳۰مه لاسلیک وشو. د دې بودیجو په ترلاسه کولو سره خلک په کار ګومارل پیل شوي او د سیګار د اوږدمهاله پرسونل، اسانتیاو او لوژیستیکي غوښتنو د سرچینو لپاره شرایط جوړ کړای شوي دي. سیګار د عراق د بیا رغونې لپاره د عمومي پلټونکی د دفتر (سیګیر) سره د یاداښت یوه موافقه کړې ده چې د بېړنه ورستنولو پر بنسټ ورته عارضي بودیجه، قرارداد او د مشخصو سرچینو ملاتړ ورکړي. دا انتظام په خپل نوعیت کې لنډمهاله دی، د سیګار په خپلواکی مصلحت نه کوي، او د کانګرس د اختیار ورکولو سره برابر دی.

**ابتدايي همکاري**

د فعالیتونو له پیلولو راپدېخوا، سیګار په بشپړ ډول په ډېر شمېر هلو ځلو کې بوخت پاتې شوی په ګډون د:

- د کانګرس د غړیو او کاري ډلې سره خبرې کول چې د هغوی په اراده بشپړه پوهېدنه یقیني کړای شي
- مشورې او غونډې لدې خلکو سره:
  - o ناټو: جنرال بانټز جی. کراډوک، د اروپا عالي ایتلافي قوماندان (SACEUR) او د SACEUR مرستیال (مونس، بلجیم)
  - o افغانستان: جنرال ډیوېډ ډي. مکرنن، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو او نړیوال سوله ساتي ځواک قوماندان
  - o ملګري ملتونه: استازی کای ایډي، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی
  - o په برونسوم او کابل کې د لوړپوړو ناټو چارواکیو سره
  - o د دفاع د وزارت (DoD) او د بهرنیو چارو د وزارت (DoS) دننه د نور لوړپوړي مشرتابه سره، په ګډون د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري (USAID) او د نړیوالو مخدره موادو او د قانون د تنفیذ د دفتر
  - o برید جنرال فرانک ایچ. کیرنې، د متحده ایالاتو د ځانګړیو عملیاتو د قوماندې مرستیال قوماندان
  - o تورنجنرال جان ار. الین، مرستیال قوماندان او تورنجنرال جی ډبلیو. هوډ، د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې مشر، د عملي د نورو اساسي افسرانو سره

- o نور عمومي پلټونکي چې د افغانستان د بیا رغوني د مسلو مسوولیتونه یې په غاړه لرل، په ګډون د حکومت د نګرانی او احتساب دفتر (GAO)، د DoD د IG دفتر، د DoS د IG دفتر، د USAID د IG دفتر

- په اروزګان ولایت کې د هالنډ د ولایتي بیا رغوني ټیم ته او په پکتیا ولایت کې د متحده ایالاتو د ولایتي بیا رغوني ټیم ته ورتلل، په ګډون د لیدنو کتنو د ولایتي والیانو او وزیرانو سره، د پي ار ټي د مشرانو او غړیو سره، د سیمییزو پروژو معاینه کول، په ګډون د روغتونونو، د پولیسو د مرکزونو، او لویو لارو. د دې ټولو سفرونو هدف د بیا رغوني د هڅو د اساسي میکانزم په توګه د دوی د امنیتي، کولتوري او مالي چیلنجونو راښکاره کول وه.

- په افغانستان کې د مستقیم حضور لپاره شرایط جوړول، په ګډون د ملاتړ د لاسته راوړلو لپاره د یاداښتي موافقو تیارولو

- د ۲۰۰۸ د جولای د ۲۲مي نېټي څخه د سازمان د ۱ څخه ۲۲ تنو ته لوړول، په ګډون د اسانتیاو، اکمالاتو، ترانسپورت او نورو د لاسته راوړلو

د USG د بېلابېلو هڅو ابتدایي تحلیلونه وایي چې هر څو که د مهم کار زیاتره برخه ترسره شوې ده، خو د افغانستان د بیا رغوني لپاره د سرچینو یو تفصیلي احتساب ته اړتیا شته.

**فرصتونه**

د سیګار دفتر به:

- په پي ایل ۱۱۰-۱۱۸ کې د کانګرس ورکړی اختیار زیات نه زیات وکاروي څو هغه ټول اهداف او مشنونه عملي کړي چې د سیګار څخه غوښتل شوي.

- زده شوې تجربې به پکار راوړي او د څارني د موجودو ادارو د تجربې او لاسته راوړنو څخه به کار واخلي، چې ځانګړی تمرکز به یې د DoD، DoS، USAID د عمومي پلټونکو په کار وي، او همدار‌از په هغو راپورونو وي چې د GAO لخوا راغونډ کړای شوي.

- د بودیجو د ډاټا د سرچینو هغه بېلابېلي لاري به وپېژني چې هغه پېسې معلوموي چې د افغانستان د بیا رغوني په هڅو کې د دې لپاره لګول شوي چې د دې اندازه واخلي چې بودیجي چرته او کله ورکړل شوي وې، د څه هدف لپاره، او د داسي بودیجو نتیجې.

**ننګوني**

سیګار مني چې:

- پرمختیا په افغانستان کې یوه ډېره ګرانه او پیچلي مسله ده. دا په یوه داسي هېواد کې ترسره کېږي چې کومې مهمې طبعي سرچیني نه لري، او ابادي یې د لسیزو جګړو، او روان یاغیتوب په لاس تباه شوې ده. نور پیچلي کوونکي فاکتورونه یې قبایلي کولتور، د بهرنی واکداری تاریخ، د بې سوادۍ لوړه کچه، او اوږده خو ازاده پوله دي.

- د ۲۰۰۳ راهیسې، د ناټو ایتلاف د بیا رغونې په پروسه کې فعال دی او برخه یې پکې لرلې ده؛ خو، د افغانستان د بیا رغونې د اجنډا کرار کرار جوړېدونکیو سیاسي او امنیتي عواملو د یوې مربوطې او تلپاتې ستراتیژۍ تطبیق چیلنج کړی دی. د پایلې په توګه، د قوماندې او کنټرول واضحه کرښې سورې ښکاري چې له امله یې د مسوولیت او احتساب شرایط ګرانېږي.

- د بریالی بیا رغونې اتکاء پر یو خوندي چاپېریال، اغېزمنه دولتدارۍ، او اقتصادي پرمختیا ده. دا دري واړه ستنې د کوکنارو د ناقانونه کر له امله اغېزمنې کېږي کوم چې د افغانستان دننه او د دې د پولو څخه بهر د یو بې استقلاله کوونکي ټولنیز ځواک خدمت کوي.

<u>د سیګار پروسې، ترجیحات، او کنټرولونه</u>

**د سیګار ستراتیژیکه مفکوره**

د سیګار د ستراتیژیکې مفکورې ابتدایي تمرکز به د هغو موجودو معلوماتو، تحقیقاتو، تحلیلونو او پلټنو څخه د ګټې پر اخیستلو وي چې د نورو سازمانونو لخوا بشپړې شوې دي. د سرچینو او د بودیجو د ملاتړ مهم ترجیحي کول به د هغو معلوماتو جاج او تحلیل وي چې د سیګار د پلټنې، معاینې، او تحقیقي ټیمونو لخوا راغونډ شوي وي. په شریکه به دغه معلومات چې راغونډ کړای شوي وي د اغېزمنو او پر وخت موندنو، جاجونو، او سپارښتنو د کارولو لپاره کارولی شي.

| د سیګار ستراتیژیکه مفکوره | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **د ډاټا راغونډول**<br>- تحلیلونه<br>- د ډاټا کتنه<br>- مرکې<br>- د تماس لارې | **تکامل او تجزیه**<br>- پلټنې\کتنې<br>- مالي معلومات<br>- معاینې<br>- تحقیقات | **لومړیتوب ورکول**<br>- اداري لورې<br>- لوړه خطره\ د لوړې ګټې اهداف<br>- مالي پلټنې\ کتنې<br>- سرچینې، بودیجې او ملاتړ | **ځای پر ځای کول**<br>- پلټونکې<br>- معاینه کاران<br>- تحقیق کوونکې<br>- د همکارۍ ډلې | **پایلې**<br>- درې میاشتنۍ کانګرسي راپورونه<br>- تحقیقي حوالې<br>- د افغانستان د بیا رغونې پرمختیاوې |
| ۱ پړاو *بنسټ ایښودل* | ۲ پړاو *لومړنۍ فعالیتي وړتیا* | ۲ پړاو *لومړنۍ فعالیتي وړتیا* | | ٤ پړاو<br>موندنې او سپارښتنې |
| | ۳ پړاو *بشپړه فعالیتي وړتیا* | ۳ پړاو *بشپړه فعالیتي وړتیا* | ۳ پړاو *بشپړه فعالیتي وړتیا* | |

انځور ۳: د سیګار ستراتیژیکه مفکوره

**پروسې**

دا لومړنی راپور د بودیجو د معلوماتو په لحاظ ډېر غښتلی نه دی؛ خو، راتلونکي راپورونه به د هغو ځای پر ځای کړای شویو پلټونکو، معاینه کوونکو او مفتیشتونو د موندنو پر بنسټ زیات تفصیلي او لا ډېر جامع معلومات وړاندې کړي څوک چې به د متحده ایالاتو د لګښتونو کتنې کوي. د سیګار دفتر به د هغو اقداماتو معاینه کوي د کومو لپاره چې بودیجې منل شوې او د هغوی د حالت راپور به ورکوي چې د یو شمېر مخکې نه ټاکل شویو معیارونو په تله به تلل کېږي.

په پلټنو کې به د بیا رغونې ټولو اړخونو ته بشپړ کتنه کېږي، په ګډون د مخدره موادو ضد هڅو، د عدلي سیستم د اصلاحاتو، د انفراسټرکچر د پرمختیا، امنیت، د CERP د لګښتونو، د افغانستان اداري روزنې، د بیرنیو خوراکونو د مرستې، د نظامي تجهیزاتو ترلاسه کول، د قراردادونو عملي کول، او داسې راپورته کېدونکې مسلې چې د پلټنو د منظورو شویو مواقعو وړاندیز کوي. د دې پلټنو پایلې به خپرېږي او د سیګار پر وېبپاڼه به موجودې وي.

**د سيګار ابتدايي ترجيحات**

**د کانګرس د غړيو سره خبري کول:** د کانګرس د مشرانو او کارکوونکو سره ليدل چي د کانګرس په اختيار او اراده بشپړه پوهېدنه برابره کړای شي.
**حالت: روان**

**افغانستان او ناټو ته سفرونه ترسره کول:** د بيا رغوني د هڅو د اوسني حالت په خپلو سترګو اندازه اخيستل.
**حالت: بشپړ شوی**

**د مهمو ګډونوالو سره غونډې کول:** د اړوندو ادارو او سازمانونو سره کاري اړيکي او ملګرتياوې جوړول.
**حالت: روان**

**د ملګرو ملتونو د لوړپوړو مشرانو سره غونډې کول:** د هغو نړيوالو سازمانونو رول بحث کول چي د افغانستان په بيا رغونه کي برخه لري.
**حالت: بشپړ شوی**

**د جنګي برخي د مهمو قوماندانانو سره غونډې کول:** په دې اړه نظرونه غوښتل چي څنګه هغوی پرمختيايي ترجيحاتو سره د امنيت توازن ساتي.
**حالت: بشپړ شوی**

**په افغانستان کي د ولايتي بيا رغوني د ټيمونو څخه کتل:** پر هغو امنيتي، کولتوري، او مالي چيلنجونو پوهېدل چي دوی ورسره په تاکتيکي کچه مخ دي.
**حالت: د پي ار ټي د ۲٦ په پام کي نيول شوي کتنو څخه ۲ بشپړې شوې**

**د ګډ DoS-DoD د ياداښت د اعلان د تياري ملاتړ کول:** لاسليک کېږي به د مرستيال سکرتر ګورډن انګلينډ او مرستيال سکرتر جان نګيروپونټي لخوا چي د کانګرس لخوا د سيګار د جوړېدو او د هغه ملاتړ اعلان وکړي چي د دوی وزارتونه به يې ورته ورکوي.
**حالت: په پرمختګ کي**

**د سازمان غټول او د فعاليتي دفترونو جوړول:** د عملي د مهمو څوکيو ډکول او د دې لپاره مرکزونه جوړول چي تر اکتوبر ۱، ۲۰۰۹ پورې بشپړه فعاليتي وړتيا ترلاسه کړای شي.
**حالت: په پرمختګ کي**

**په افغانستان کي د يوه اوږده حضور لپاره شرايط برابرول:** په نومبر ۲۰۰۸ کي د يو داسي پرمختللي ټيم ځای پر ځای کول چي تر جنوري ۲۰۰۹ پورې د سيګار د اوږدمهاله حضور لپاره تياری ونيسي.
**حالت: په پرمختګ کي**

**کانګرس، DoD، او DoS ته د سرچينو د غوښتنو راپور ورکول:** د پرسونل پرېکړه کول او د هغو غوښتنو ملاتړ کول چي په واشنګټن ډي سي او افغانستان کي د عملي د فعاليتونو د پر وخت او فعالي دوامداری لپاره ورته ضرورت دی.
**حالت: روان**

**د نوي په کار ګومارل شوي پرسونل لپاره د سيګار د روزنې او پېژندګلوی د یوه پروګرام جوړولو او تطبيقول:** د سيګار ټول نوي کارکوونکي به د داسي يو بشپړ او جامع روزنيز پروګرام څخه تېرېږي چې د سيګار په مشن او مسووليت د هغوی بشپړه پوهېدنه يقيني کوي.

**حالت: په پرمختګ کې**

# د افغانستان د بیا رغونې اقدامات

## د متحده ایالاتو د اوسنیو بودیجو لپاره لایحه

د افغانستان د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو د اوسني ملاتړ بنسټ د بهرنی مرستي پر هغه لایحه دی چې د بهرنیو چارو د وزارت د تر ټولو وروستي د کانګرسي بودیجي د جواز د ۲۰۰۸ لپاره ټاکل شوی او د بودیجو د لاندي ډنځو موخو په واسطه یې لارښودنه شوي ده:

- سوله او امنیت
- په عدالت او دموکراتیک ډول حکومت کول
- په خلکو کې پانګونه
- اقتصادي وده
- بشري مرسته

دا لایحه د مرستي د هدف ملاتړ کوي، د پرمختیا لپاره د هغو "دموکراتیکو، ښې حکومتدارۍ د دولتونو چې د خپلو خلکو اړتیاو ته ځواب وايي، پراخه غربت کموي او په نړیوال سیستم کې خپل مسوولیت ترسره کوي."[1] یو انځوروونکی حساب چې د دې لایحي تفصیل ورکوي په ضمیمه ج کې کتل کېدای شي.

چوکاټ ۱، چې لاندي ورکړل شوی، د متحده ایالاتو هغه بودیجي انځوروي چې د افغانستان د بیا رغونې د هڅو لپاره په یو کال کې ورکړل شوي چې د بهرنی مرستي د لایحي د ډنځو اساسي اهدافو سره سمون خوري. هر ستر پروګرام د هغې د بودیجي د پروګرام او د هغې د ترلې پروګرام د هدف سره لیست شوی دی.

**پروګرام او مقصدي بودیجې په مالي کال (په ملیونونو ډالرو کې)**

| پروګرامونه | موخې | مالي کال ۲۰۰۱ اصلي | مالي کال ۲۰۰۲ اصلي | مالي کال ۲۰۰۳ اصلي | مالي کال ۲۰۰٤ اصلي | مالي کال ۲۰۰٥ اصلي | مالي کال ۲۰۰٦ اصلي | مالي کال ۲۰۰۷ ضمیمه يي اصلي | مالي کال ۲۰۰٦ ضمیمه يي اصلي | مالي کال ۲۰۰۹ پول ضمیمه يي اصلي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| امنیت | سوله او امنیت | - | ٥٤٫١٨٤ | ٣٩٠,٩٨ | ٦٠٫١٠٧٤ | ٣٠٨٢,٧١ | ٦٦٫٢٤٠٨ | ٠٩٫٧٧٨٦ | ١٦٫١٥٧٤ | ٢٢٧٢ |
| دموکراسي\ادو لتداري | په عدالت او دموکراتیک ډول حکومت کول | - | ٥٥٫١٠٩ | ٩٤٫٩٦ | ١٨٫٢٦٢ | ٢٤٣,٧٢ | ١٠٩,٨١ | ١٤٨ | ٣٦٦ | ٢١٨ |
| بیا رغونه | په خلکو او اقتصادي وده کې پانګونه | - | ١١٫١٢٤ | ٥٠٫٢٩٥ | ٧٤٫٨٥٤ | ١٢٣٩,٨٥ | ٣٥٫٧٠٦ | ٦٥٠ | ٤٠٫٧٢٣ | ٢٥٤ |
| بشري\انوري | بشري مرسته | ١٩٢,١٥ | ٦٦٫٤٨٩ | ٥٣٫١٦٦ | ٤٦٫١٨٣ | ٩٠٫١٨٦ | ١٥٩,٩٢ | ٤٦ | ٤٠٫١٠ | - |
| د پروګرام ملاتړ\عملیات | پروګرام ملاتړ ټول | ٠,٣٨ | ٤٩٫١٦٠ | ١٤٫٣٦ | ٢٠٣,٠٢ | ١٤٢,٨٤ | ٤٢٫١٤٢ | ٨٨,٧٠ | ٤٠٫٣١٧ | ٢٠٫١٦٦ |

چوکاټ ۱

[1] د بهرنی مرستي چوکاټ، د بهرنیو چارو وزارت، د کانګرسي بودیجي جواز ۲۰۰۸

اساسي اسناد چې د افغانستان د بیا رغونې د هڅو لارښودنه کوي

د بهرنیو چارو د وزارت پر لایحې برسېره، دا څلور اساسي اسناد د افغانستان د بیا رغونې د هڅو لارښودنه کوي: د بون تړون، د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ قانون (۲۰۰۲)، د افغانستان تړون لیک، او د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي. دا اسناد د افغانستان د بیا رغونې د یوې مکملې ستراتیژۍ نقشه وړاندې کوي او د سیګار لخوا به د دې تحلیل د برخې په توګه وکارول شي چې دا ستراتیژي څومره اغېزمنه ده.

**د بون تړون**

د ۲۰۰۱ په پای کې، د بون کنفرانس د افغانستان د سیاسي بیا رغونې لپاره د یوې داسې پروسې د جوړېدو نتیجه ورکړه چې د یو نوي اساسي قانون خپلول پکې شامل وه او د افغانستان د سیاست د مختلفو ډلو ټپلو ترمنځ د یو مهم تړون د برخې په توګه یې د دموکراتیکو ټولټاکنو غوښتنه کوله.[2] دې تړون د افغان موقتي اداري (AIA) د جوړولو غږ کاوه، کومې ته چې دا هدف ورکول کېده چې په بهرنیو اړیکو کې به د افغانستان استازیتوب کوي او په ملګرو ملتونو او نورو ټولو نړیوالو ادارو او کنفرانسونو کې به د افغانستان څوکۍ اشغالوي. د بون تړون همداراز ویل چې د شپږو میاشتو دننه دې یوه بیړنۍ لویه جرګه راوغوښتل شي چې انتقالي اداره (TA) جوړه کړي، کومه چې به تر هغه وخته د افغانستان مشري کوي تر څو چې د ازادو او شفافو ټولټاکنو له لارې یو بشپړ استازیتوب کوونکی دولت انتخاب شي او دغه انتخابات باید د بیړنۍ لویې جرګې د دایرېدو څخه تر دوو کالو زیات وروسته نه وي. په تړون کې د افغانستان موقته اداره هغه وخت ختمېدله چې انتقالي اداره جوړېدله. نړیوال سوله ساتی ځواک هم د انتقالي ادارې پر مهال جوړ شوی و چې افغانستان کې د ثبات او سولې په یقیني کولو کې مرسته وکړي. د انتقالي ادارې له جوړېدو وروسته، د اساسي قانون لپاره یوه لویه جرګه دایره شوه چې د افغانستان لپاره نوی اساسي قانون ومنې کوم چې رسمي صورت د ۲۰۰٤ د جنورۍ په ۲٦مه وموند.[3] د ۲۰۰٤ د دسمبر په ۷مه، حامد کرزی په دموکراتیک ډول انتخاب شوی د افغانستان لومړنی ولسمشر شو. د بون تړون یو له هغو لومړنیو قدمونو څخه و چې افغانستان یې د یو خپلواک ریاست په توګه راګرځاوه.[4]

د بون تړون د تطبیق د نور اسانولو لپاره، د ۲۰۰۲ د مارچ په ۲۸مه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې مشن (یوناما) جوړ کړای شو. د دې مشن په اختیار کې د ملګرو ملتونو د بشري، اسانۍ، راګرځونې او بیا رغونې د هلو ځلو لارښودنه ده. د دې په اختیار کې په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې هڅې د افغانستان د دولت سره په همغږۍ رهبري کولو د هېواد د بیا رغونې او د سولې او قانوني دموکراسۍ د بنیادونو د پیاوړي کولو سره په افغانستان کې سولې او ثبات ته وده ورکول شامل دي.[5] د یوناما د کار اختیار ته کال په کال کتنه کېږي او تر دې حده غځېدلی چې دولت سره د افغانستان د تړون، د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ، او د مخدره موادو د ملي کنټرول د ستراتیژۍ په تطبیقولو کې مرسته کوي. د ۲۰۰۲ راهیسې، یوناما د ابتدایي عمومي ټولټاکنو څخه نیولې د بشري مرستې په فعالیتونو کې چې کډوالو ته د پیسو ورکولو څخه تر ښوونځیو ته د تلونکو ماشومانو د شمېر تر زیاتولو رسېږي په هر څه کې مرسته کړې ده.

---

[2] د حکومت د احتساب دفتر (۲۰۰۵)، د افغانستان بیا رغونه: د یو څه پرمختګ باوجود، مخ په خرابېدونکې امنیت او نور خنډونه د متحده ایالاتو د اهدافو لاسته راوړلو ته ډرګه ده (د GAO خپرونه لمبر ۰۵-۷٤۲)، واشنګټن ډي سي: د متحده ایالاتو د حکومت د چاپ دفتر.

[3] د افغانستان د ولسمشر دفتر (۲۰۰٤)، د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون، وکتل شو په اکتوبر ۷، ۲۰۰۸، د افغانستان د ولسمشر د دفتر لخوا. وېبپاڼه: http://president.gov.af/english/constitution.mspx

[4] د بون تړون متن په [http://www.ag-afghanistan.de/files/petersberg.htm]

[5] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستې مشن. (۲۰۰۲). د یوناما عمومي کتنه. وکتل شو په اکتوبر ۷، ۲۰۰۸، د یوناما د وېبپاڼې څخه. وېبپاڼه: http://www.unama.afg.org/about/overview.htm

**د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ قانون ۲۰۰۲**

په دسمبر ۲۰۰۲ کې، کانګرس د پي.ايل ۱۰۷-۳۲۷ قانون ومانه، کوم چې د ۲۰۰۲ د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ قانون (AFSA) پر ځای کړ.[6] AFSA په لويه کچه افغانستان لپاره د متحده ايالاتو اقتصادي، دموکراتيک، او نظامي مرسته زياته کړه. AFSA همداراز د هغو اهدافو لپاره د متحده ايالاتو د مرستې شرطونه وټاکل چې د بون په تړون کې ښودل شوي وو. په پراخه اصطلاح کې، AFSA په افغانستان کې د متحده ايالاتو د اهدافو خاکه د داسې يو دموکراتيک رياست جوړول ښيي چې د نړيوال ترورېزم، د مخدره موادو د قاچاق او دوی د کرنې سره خلاف وي، د خپلو ګاونډيانو سره په سوله وي، او د دې توان ولري چې خپل داخلي او خارجي امنيت برابر کړي. دې هدف لپاره د متحده ايالاتو د ملاتړ هڅې د دې لپاره دي چې د ملي امنيت د ادارو په جوړولو، د بشري او بيا رغوني د مرستې په برابرولو، او د افغانستان په ولايتونو کې د مرکزي حکومت د واک د تنفيذ لپاره کومک وکړي.

**د افغانستان تړون**

په ۲۰۰۵ کې، د نړيوالو مرستندويانو لخوا د پرمختيا رسمي مرسته (بهرنۍ ورکړې او مراعاتي پورونه) ټوله ۲،۸ مليارده ډالره وه. په جنوري ۲۰۰٦ کې، ٦٤ هېوادونو او ۱۱ نړيوالو سازمانونو په افغانستان باندې لندن کنفرانس کې ګډون وکړ او د افغانستان د تړون منظوري يې ورکړه،[7] دا يوه سياسي ژمنتيا وه چې ښودل يې څرنګه بايد نړيواله ټولنه د افغانستان په بيا رغونه کې برخه واخلي. دا تړون د بون د تړون څخه وروسته د افغانستان د بيا رغوني د پروسې لپاره بل قدم و. دې تړون راتلونکو پنځو کلونو لپاره افغانستان سره د نړيوالې همکارۍ لپاره يوه لايحه جوړه کړي.[8] د دې تړون اراده نړيوالې ټولنې سره په همکارۍ کولو سره د اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا لپاره په ښو شرايطو برابرولو سره د افغانستان په دې توانول وو چې په خپل ځان يې اتکاء زياته شي. د دې تړون لخوا د فعاليت درې مهمې او پر يو بل متکي ستنې پېژندل شوي وې: امنيت، دولتداري (د قانون حاکميت او بشري حقونه)، او اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا. يو لا زيات تجربوي جزوء د مخدره موادو د مخ پر زياتېدونکي صنعت د له منځه وړلو ضرورت وپېژند. دې تړون غوښتنه کوله چې نړيواله ټولنه دې ته اړتيا لري چې د هغو مرستو اندازه زياته کړي کومې چې نيغ په نيغه د اساسي بوديجې له لارې ورکول کېږي، او هغه هم چې د لا زياتې پيشنهادي اساسي بوديجې د بوديجې ورکولو د سيستم له لارې ورکول کېږي په کومه کې چې د افغانستان دولت برخه اخلي، لکه د افغانستان د بيا رغوني د باور بوديجه (ARTF)، افغانستان لپاره د نظم او قانون د باور بوديجه، او د مخدره موادو ضد د باور بوديجه. دا به افغان دولت ته اجازه ورکړي چې د رياست په بيا رغونه کې زياته برخه ولري.

د دې تړون لخوا په پېژندل شوې هره مهمه ستنه کې ځانګړي شوي اهداف شامل دي. د امنيت لاندې، د افغان ملي اردو د روزنيز پروګرام د بشپړولو، او د ۲۰۱۰ تر پای پورې د عسکرو کچې ۷۰،۰۰۰ ته رسولو لپاره د اصولو او شرطونو جوړولو وو. د جون ۲۰۰۸ سره سم، DoS راپور ورکوي چې افغان ملي اردو اوس ټول ٦۰،۰۰۰ عسکر لري.[9] د دولتدارۍ ستن غوښتنه کوي چې د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کميسيون (AIHRC) د بشري حقونو د خلاف ورزيو څارنه کوي. DoS راپور ورکوي چې متحده ايالاتو د AIHRC په جوړولو کې د دې لپاره مرسته وکړه چې سيمييز دولت پياوړی کړي، او د مدني ټولنې پرمختيا ته وده ورکړي.[10] د اقتصادي او ټولنيزې پرمختيا ستنې غوښتنه د حلقه يي سرک ده، کوم چې د غرونو نه تاوېږي او د افغانستان ستر ښارونه نښلوي، په ګډون د کابل، کندهار، او هرات. دا به د ۲۰۰۸ تر پای په بشپړ ډول ترميم او منظم کړای شي. د DoS له مخې، متحده ايالاتو تر جون ۲۰۰۸ پورې د دې حلقه يي سرک تقريباً

---

[6] د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ د قانون متن په [http://www.govtrack.us.congress.billtext.xpd?bill=s107-2712]
[7] د ګډونوالو د بشپړ ليست لپاره، وګورئ اضافه ٥ د افغانستان تړون، چې د دې راپور په ضميمه خ کې موندل کېدای شي.
[8] د افغانستان د تړون متن په [http://www.nato.int.isaf/docu/epub/pdf/Afghanistan_compact.pdf]
[9] د وياند دفتر. (۲۰۰۸). د متحده ايالاتو د مرستې لنډيز: د افغانستان د ملاتړ لپاره نړيوال کنفرانس. وکتل شو په اکتوبر ۸، ۲۰۰۸، د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو د وزارت د وېبپاڼې څخه. وېبپاڼه: http:www.state.gov/r/pa/prs/ps/2008/jun/105847.htm
[10] د وياند دفتر. (۲۰۰۸). د متحده ايالاتو د مرستې لنډيز: د افغانستان د ملاتړ لپاره نړيوال کنفرانس. وکتل شو په اکتوبر ۸، ۲۰۰۸، د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو د وزارت د وېبپاڼې څخه. وېبپاڼه: http:www.state.gov/r/pa/prs/ps/2008/jun/105847.htm

۷۱۵ کیلومیتره (٤٤٤ میله) جوړ کړي دي.[11] دا د هغو بېلابېلو پروژو او فعالیتونو بېلګي دي چي متحده ایالاتو ورته بودیجي او سرچیني ورکړې دي چي د افغانستان د ترون او د بیا رغوني د هڅو ملاتړ وشي.

**د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي (ANDS)**

د هغو پلانونو چي د افغانستان په ترون کي وړاندې شوي وو تر ټولو وروستی اضافه د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي ده. د ولسمشر حامد کرزي لخوا د ۲۰۰۸ د اپریل په ۲۱مه لاسلیک شوې ANDS "د افغانستان د پرمختیا لپاره د افغانستان اساسي نقشه ده؛"[12] دا په امنیت، دولتداری، اقتصادي پرمختګ، او د غربت په کمولو کي د پرمختګونو لپاره ستراتیژی لري. دا پالیسي بیان د افغان دولت لخوا جوړ شوی و او بنسټ یې د ملګرو ملتونو د زرکلني پرمختیا په اهدافو او په افغانستان ترون دی؛ دا همدراز د افغانستان د غربت د کمولو د ستراتیژی پلان دی.[13] ANDS افغانستان لپاره په ۲۰۲۰ کي د دولت نظر وړاندې کوي او د هغو درېو ستنو دننه د مشخصو اهدافو نقشه وړاندې کوي چي د افغانستان په ترون کي وړاندې شوي دي کوم چي به په ۲۰۰۸-۲۰۱۳ کلونو کي لاس ته راوړل کېږي.

افغانستان ANDS نړیوالي ټولني ته د جون ۲۰۰۸ د افغانستان د ملاتړ لپاره په هغه نړیوال کنفرانس کي وړاندې کړ چي په پاریس کي دایر شوی و. په دې پلان کي د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د ANDS د لګښت بودیجه شامله وه؛ په مجموع کي، اټکل ۵۰ ملیارده ډالر به د دې د تطبیق لپاره ضروري وي. دا بودیجي تمه کېږي چي د نړیوالو ورکړو او د افغانستان د ملي بودیجي لخوا راشي، چي شاوخوا ٦,٨ ملیارده ډالر به یې نېغ په نېغه د افغانستان څخه راځي.[14]

ANDS خبرداری ورکوي چي د دې اهداف د مرستي په اغېزمنتیا کي له بهتری پرته نشي تطبیقېدلی. دا سند یوه داسي ستراتیژي وړاندې کوي، په ګډون د یوې داسي لاربښودني چي د مرستي زیاتره برخه دې د افغانستان د ملي بودیجي له لارې خوره کړای شي. د ANDS له مخي، بودیجي د مرکزي دولت له لارې د ورکولو نتیجه به "په ټیټ لګښت زیات اغېز وي."[15] نړیوال بانک ویلي دي چي مرکزي دولت ته د دې بودیجو د خورولو اجازه به د دولت د مشروعیت په جوړولو کي هم مرسته وکړي، ځکه چي دا به د افغان دولت او د انفرادي افغانانو په ژوند کي د بهتریو د ښکاره والي ترونونه جوړ کړي؛ خو په همدې راپور کي نړیوال بانک هغه مشکلات هم بحث کوي چي افغان دولت د دې بودیجو په اغېزمنه او وړ طریقه خورولو کي ورسره مخ دی.[16]

د ۲۰۰۸ د جون په ۱۲مه، د ٦٦ هېوادونو او ۱۰ نړیوالو سازمانونو استازو د پاریس په کنفرانس کي ګډون وکړ؛ د دې کنفرانس نتیجه دا شوه چي ۲۰ مرستندویانو په دې موفق شول چي د افغانستان د بیا رغوني لپاره د ټول ۲۱ ملیارده ډالرو د اضافي بودیجو ژمنه وکړي. مرستندویه هېوادونه او سازمانونه په دې هم راضي شول چي دا بودیجي د تېرو کلونو په نسبت

---

[11] د ویاند دفتر. (۲۰۰۸). د متحده ایالاتو د مرستي لنډیز: د افغانستان د ملاتړ لپاره نړیوال کنفرانس. وکتل شو په اکتوبر ۸، ۲۰۰۸، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د وېبپاڼي څخه. وېبپاڼه: http:www.state.gov/r/pa/prs/ps/2008/jun/105847.htm

[12] د فرانسي د بهرنیو او اروپایي چارو وزارت. (این.ډي.) وکتل شو په اکتوبر ۸، ۲۰۰۸، له http://diplomatie.gouv.fr/en/country-files_156/afghanistan_498/international-conference--in-support-of-afghanistan-paris-12th-june-2008_6366/index.html

[13] د غربت د کمولو د ستراتیژی پلانونه داسي پالیسي پلانونه دي چي د کم عاید د هېوادونو لخوا د IMF او نړیوال بانک د چارو سره جوړ کړای شوي دي. دا هغه غټي اقتصادي، جوړښتي او ټولنیزي تګلارې او پروګرامونه تشریحوي چي یو هېواد به یې په درېو کلونو کي د یو پراخ بنسټه پرمختګ او د غربت د کمولو لپاره، او همدراز د بهرنی مالیي د اړتیاو او ورسره تړلیو د مالي د سرچینو لپاره تعقیبوي.

[14] د ANDS د عمومي لنډیز متن چي د عمومي لنډیز په بشپړ لنډیز کي په دې پته ترلاسه کېدای شي http://www.embassyofafghanistan.org/documents/resume_ANDS.pdf

[15] د ANDS د عمومي لنډیز متن په دې پته ترلاسه کېدای شي http://www.embassyofafghanistan.org/documents/resume_ANDS.pdf

[16] اندرسن، جان وارډ. (۲۰۰۸، جون ۱۳). نړیوالو مرستندویانو افغانستان لپاره د اضافي ۲۱ ملیارده ډالرو ژمنه وکړه. واشنګټن پوسټ. وکتل شو د http://www.washingtonpost.com/wp-dync/content/article/2008/06/12/AR2008061200269_pf.html

په لا زياته مربوطه طريقه ورکړي تر څو د بيا رغوني په هڅو کي د ضياع او غلا مخه ونيسي.[17] د يادوني وړ ده چي متحده ايالاتو په دوو کلونو کي د ۱۰,۲ مليارده ډالرو ورکولو ژمنه وکړه، چي په دي توګه يي د ANDS د تطبيق لپاره د غوښتل شويو ۵۰ مليارده ډالرو پنځمه برخه جوړوي. په نورو غټو مرستندويانو کي شامل وو اسيايي پرمختيايي بانک (۱,۳ مليارده ډالر)، نړيوال بانک (۱,۱ مليارده ډالر)، برتانيه (۱,۲ مليارده ډالر)، او اروپايي اتحاديه (۷۷۰ مليونه ډالر).[18] د کنفرانس په اعلاميه کي ويل شوي وه چي نړيواله ټولنه ژمنه کوي چي "د ادارو پياوړي کولو او اقتصادي پرمختګ ته به ترجيح ورکوي، په ځانګړي ډول د زراعت او انرژۍ په برخه کي" او لا ډيري، زياتي اغېزمني مرستي به ورکوي.[19]

[17] د افغانستان په ملاتړ کي د نړيوال کنفرانس د اعلاميي متن په دي پته ترلاسه کېداى شي http://unama.afg.org/_latestnews/2008/Paris-con-Declaration-june12.pdf

[18] نړيوال بانک (می ۳۰، ۲۰۰۸). افغانستان ته د ورکول کېدونکو مرستو اغېزمنتيا بهترول. وکتل شو په www.worldbank.org

[19] د افغانستان په ملاتړ کي د نړيوال کنفرانس د اعلاميي متن په دي پته ترلاسه کېداى شي http://unama.afg.org/_latestnews/2008/Paris-con-Declaration-june12.pdf

# د افغانستان د بیا رغونې د بودیجو لنډیز ۲۰۰۱-۲۰۰۸

د اغېزمنتیا پیماني

په واضح ډول، د کانګرس اراده، لکه چې د اختصاصونو په قانون جوړونه کې ښودل شوې، هغه اساسي معیار دی چې سیګار به یې د دې لپاره کاروي چې یقیني کړي سرچینې هغسې استعمال شوي څنګه چې پکار وې.

برسېره پر دې، د دې لپاره چې خپل د څارنې مسوولیتونه ترسره کړي، د سیګار دفتر به خپلې د اغېزمنتیا پیمانې یوه برخه د هغو درېو مهمو او پر یو بل متکي ستنو څخه جوړې کړي چې د افغانستان په تړون او د افغانستان د ملي پرمختیا په ستراتیژۍ (ANDS) کې پېژندل شوې دي:

۱. امنیت

۲. دولتداري، د قانون حاکمیت او بشري حقونه

۳. اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا

ANDS د پرمختیا په برخو کې داسې اهداف او ترجیحات ټاکي چې داسې اساسي کرښې وړاندې کوي په کومو چې باید د افغانستان د انفراسټرکچر په مهمو سکټورونو کې پرمختګ معلوم کړای شي. دا درې ستنې د بیا رغونې د نقشې بنیاد دی. نړیوالې ټولنې په ANDS او افغانستان تړون د لاسلیک کولو سره خپل ځان دې ته ژمن کړی دی چې د ښودل شویو اهدافو په لاسته راوړلو کې په ضروري کچه ملاتړ وکړي.

د اغېزمنتیا هغه پیمانې چې په افغانستان تړون او ANDS دواړو کې ورکړل شوي به هغه آله وي چې سیګار به یې د بریالیتوب د هغې درجې د معلومولو لپاره کاروي چې د هغو سرچینو له لارې ترلاسه شوي چې د مالي کال ۲۰۰۱ نه تر مالي کال ۲۰۰۸ د بیا رغونې بېلابېلو پروژو، پروګرامونو او اقداماتو ته ورکړل شوې دي.

د سیګار داخلي معیارونه

**پلټنې کول**

د متحده ایالاتو ډالرې بچ کړای شوې یا راګرځول شوې، د چیلنج شویو پیسو ادراینو شمېره، د پلټنې د موندنو شمېره، د پلټنو سپارښتنې، او د موندنو د برابرولو لپاره د یو وختي اقدامونو شمېره.

**معاینې او د تماس شمېره**

د پر مخ وړل شویو تورونو شمېره، د پلټنو سپارنې، ترسره شوې معاینې، د تحقیقاتو سپارنې، ترسره شوي تکاملي جاجونې، ترسره شوي تحلیلونه، او د موندنو د برابرولو لپاره د یو وختي اقدامونو شمېره.

**تحقیقات**

د پیل شویو تحقیقاتو شمېره، تړل شوي یا سپارل شوي تحقیقات، پرانستي تحقیقات، ګرفتارۍ، اتهامونه، جرمي ثابتېدنې، او د محکمې په امر د غلا شویو شیانو راستنېدل\د شتمنۍ قبضه کول.

**نور**

د سیګار د راپورونو لپاره د غوښتنو شمېره، د سیګار په وېبپاڼه د کلیکونو شمېره، او د اړوندو معلوماتو لپاره نورې غوښتنې.

د افغانستان د بیا رغونې د بودیجو لنډیز ۲۰۰۱-۲۰۰۸

لاندې چارټ هغه غټې بودیجې انځوروي چې د نړیوالې مرستندویه ټولنې لخوا د ۲۰۰۱-۲۰۰۹ په موده کې د افغانستان د بیا رغونې د هڅو لپاره ورکړل شوې دي. په ښودل شویو پیسو کې هغه بودیجې شاملې دي چې د سترو مرستندویه هېوادونو او سازمانونو لخوا ورکړل شوې دي، داسې لکه ملګري ملتونه، نړیوال بانک، اروپایي کمیسیون، اسیایي پرمختیایي بانک، او نورې ادارې.

**عمومي کتنه د بودیجو سرچینې (په ملیونونو کې) د سپتمبر ۳۰، ۲۰۰۸ سره سم**

| د متحده ایالاتو اختصاص شوې | مرستندویه |
| --- | --- |
| د امریکا متحده ایالات افغانستان ته تر ټولو ستر مرسته ورکوونکي دي، چې په عمومي توګه یې په پرمختیایي مرسته کې د ۳۱,۸ ملیارده ډالرو ژمنه کړې. متحده ایالات د بېلابېلو ادارو په واسطه په افغانستان کې استازیتوب لري په ګډون د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د ادارې (USAID)، د بهرنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت، د زراعت وزارت او د سوداګرۍ د ادارې وزارت. د متحده ایالاتو لخوا د سفارت د رغونې لپاره د ۳۲۹,۷ ملیونه ډالرو ژمنه شوې وه. | د ۲۵،۲۹۷,۸ ملیونه ډالرو په رقم د بودیجو ژمنه د ۲۰۰۱ څخه راپدېخوا د نورو ملتونو لخوا شوې په ګډون د استرالیا، استریا، بلجیم، برازیل، کاناډا، چین، کروشیا، چک جمهوریت، ډنمارک، مصر، ایستونیا، فنلنډ، فرانسه، المان، کایناتي بودیجه، یونان، هنګري، هند، ایران، ایرلینډ، ایټالیه، جاپان، قزاقستان، د کوریا جمهوریت، کویت، لکسمبرګ، مالټیا، هالنډ، نیوزیلنډ، ناروی، عمان، پاکستان، پولینډ، پرتګال، قطر، روسیه، سعودي عربیه، سلواکیا، هسپانیه، سویډن، سویزرلینډ، تاییوان، ترکیه، برتانیه، ویتنام او د ملګرو ملتونو نورې ادارې. |
| **اختصاصونه د عمومي قانون په شمېرو په مالي کال**<br>- پي.ایل. ۱۰۷-۲۰: ۲۰۰۱ – **۱۹۲,۵ ملیونه**<br>- پي.ایل. ۱۰۷-۱۷: ۲۰۰۲ – **۱۰۷۰,۳۵ ملیونه**<br>- پي.ایل. ۱۰۸-۷، پي.ایل. ۱۰۸-۱۱: ۲۰۰۳ – **۹۸۶,۰۹ ملیونه**<br>- پي.ایل. ۱۰۸-۱۰۶: ۲۰۰٤ – **۲۵۷۸,۰ ملیونه**<br>- پي.ایل. ۱۰۸-۲۸۷، پي ایل. ۱۰۹-۱۳: ۲۰۰۵- **۰.٤۸۹٦ ملیونه**<br>- پي.ایل. ۱۰۹-۱۰۲، پي.ایل. ۱۰۹-۱٤۸، پي.ایل. ۱۰۹-۲۳٤: ۲۰۰٦ – **۳۵۲۷,٦ ملیونه**<br>- پي.ایل ۱۰۹-۲۸۹، پي.ایل. ۱۱۰-۲۸، پي.ایل. ۱۱۰-۹۲: ۲۰۰۷<br>- پي.ایل. ۱۱۰-۱۱٦، پي.ایل. ۱۱۰-۱۳۷، پي.ایل. ۱۱۰-۱٤۹: ۲۰۰۷ – **۸۷۱۸,۸ ملیونه**<br>- پي.ایل. ۱۱۰-۱٦۱، پي.ایل. ۱۱۰-۲۵۲: ۲۰۰۸-۹ – **۵۹۸۱,٤٦ ملیونه** | ټولې بودیجې چې د نړیوالو مرستندویانو لخوا یې د پورونو او خیراتونو په لړ کې د افغانستان د بیا رغونې د اعتبار بودیجې (نړیوال بانک) لپاره ژمنه شوې وه، چې ځینې بودیجې یې نېغ په نېغه د افغانستان دولت ته تللې ۵۷۱٤۹,٦۲ ملیونه ډالر وې. |

چوکاټ ۲

د هغو چارټونو او چوکاټونو چې په راتلونکو مخونو انځور شوي تمرکز به پر هغو بودیجو وي چې د افغانستان د بیا رغونې هڅو ته په مالي کال سره په هغو پروګرامي اهدافو ورکړل شوي چې د بهرنیو چارو د وزارت د بهرنۍ مرستې په لایحه کې جوړ شوي وو. په هغو اساسي سازمانونو کې چې د دې بودیجو د ورکولو مسوولیت یې درلود شامل دي USAID، د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، د زراعت، تجارت، روغتیا او بشري خدمتونو، داخله، انصاف، ترانسپورت، او خزانې وزارتونه، د نشریاتو د مشرتابه پلاوی، او د عمومي خدمتونو اداره هم د افغانستان د بیا رغونې هڅو ته غټې بودیجې ورکړې دي. دغه چارټونه د مالي کال ۲۰۰۱ نه تر مالي کال ۲۰۰۸ د بودیجو د رجحاناتو یوه کتنه وړاندې کوي.

د خپل ابتدایي تولید په توګه، د سیګار دفتر د افغانستان د پروګرام د بودیجو یو چارټ جوړ کړی دی چې د یو کال دننه د اختصاص شویو، منل شویو، او لګول شوي پیسو د پروګرام د ډالرو د اساسي لست په توګه به کار کوي. د هر پروګرام داسې درجه بندي شوې چې هغه اهداف انعکاس کړي د کومو نقشه چې د بهرنۍ مرستې په لایحه کې ورکړل شوې (ضمیمه ج). پروګرامونه د بهرنۍ مرستې د یو بل سره تړلې لایحې د هدف لاندې لست شوي دي. اهداف دا لاندې دي:


- سوله او امنیت
- حکومت په عدالت او دموکراتیک ډول کول
- پانګونه په خلکو کې
- اقتصادي پرمختګ
- بشري مرسته

ډېر پروګرامونه داسې جوړ شوي چې د یو نه په زیاتو اهدافو کار وکړي. لدې امله دغسې پروګرامونو ته د بیا رغونې د پروګرامونو نوم ورکړای شوی دی. د بېلګې په ډول، هغه پروګرامونه چې کار یې د سرکونو جوړول دي په پنځو هدفونو کې د هر یو په ملاتړ تشریح کېدلای شي. په داسې صورتونو کې، دا پروګرامونه د "بیا رغونې پروګرامونه" د پراخې اصطلاح د لاندې لست شوي دي.

د راتلونکو چارټونو او چوکاټونو معلومات به د سیګار د دفتر د جامع تحلیل لپاره د بنسټ کار ورکوي څو د USG د اختصاص شویو یا ورکړل شویو بودیجو د تفصیلي لست حساب یقیني شي او دا چې هغه اقدامات چې دا بودیجې ورته ورکړل شوې وې اصلاً عملي شوي وو. د دغو اقداماتو حالت به هم تصدیقولی شي څو دا خبره یقیني شي چې د USG هغه ټولې بودیجې چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ټاکل شوې وې څنګه چې پکار وه هغسې تطبیق شوې دي. د دې چارټونو لپاره ډاټا د افغانستان د بین الاداري دوه میاشتني د بودیجو د حالت د کتنې د ډلې لخوا ورکړل شوې ده.[20]

[20] د افغانستان د بین الاداري دوه میاشتني د بودیجو د حالت د کتنې د ډلې مشري د ملي امنیت شورا کوي او د DoS (د جنوبي او مرکزي اسیایي چارو د دفتر، د مخدره موادو او د قانون د تنفیذ د نړیوالو چارو د دفتر، د بهرنیو چارو د دفتر، IG)، USAID، د USAID د IG دفتر، DoD، د DoD د IG دفتر، خزانه، د متحده ایالاتو د اردو د قول اردو د انجینرانو، د زراعت وزارت، د دفاع د کمپټرولر د سکرتر دفتر، او د نشه یي توکیو د تنفید د اداري د بودیجو د سمبالوونکو څخه جوړه شوې ده.


**افغان بودیجي بنسټ پر پروګرام اهدافو**
**مالي کال ۲۰۰۱ اصلي**




انځور ٤

لکه چې په بره انځور کې ښودل شوي، بشري مرستې د مالي کال ۲۰۰۱ په ملاتړ کې غالبې وې.


**افغان بودیجي بنسټ پر پروګرام اهدافو**
**مالي کال ۲۰۰۲ اصلي**




انځور ٥

مالي کال ۲۰۰۲ په عمومي بودیجو کې ناڅاپي زیاتوالی ولید، ځکه چې د بهرنی مرستې د لایحې د اهدافو لپاره یې ورکړې.


**افغان بوديجي بنسټ پر پروګرام اهدافو**
**مالي کال ۲۰۰۳ اصلي**




انځور ٦

مالي کال ۲۰۰۳ د پام وړ زياتوالی د سولي او امنيت په هدف کي ليدلی. په دې موده کي د اقتصادي ودې او په خلکو کي د پانګوني په هڅو کي هم د پام وړ زياتوالی وشو.


**افغان بوديجي بنسټ پر پروګرام اهدافو**
**مالي کال ۲۰۰٤ اصلي**




انځور ۷

د هدف پروګرام په ټولو برخو کي پرله پسي زياتوالی راغلی پرته له بشري مرستي کومي چي په مالي کال ۲۰۰٤ کي په تسلسل سره پاتي شوې دي.


**افغان بودیجي بنسټ پر پروګرام اهدافو**
**مالي کال ۲۰۰۵ اصلي**




انځور ۸

د مالي کال ۲۰۰۵ پر مهال په امنیت، په خلکو او اقتصادي وده کې په پانګونه کې ډېر په تېزی زیاتوالی راغی، په داسې حال کې چې په پاتې پروګرامونو کې په اختصاصونو کې تسلسل ښکاره پاتې شو.


**افغان بودیجي په پروګرام اهدافو کې**
**مالي کال ۲۰۰٦ اصلي**




انځور ۹

په مالي کال ۲۰۰٦ ټولو پروګرامونو کې په اختصاصونو کې کموالی راغی، چې له امله یې زیاتې بودیجې سولې او امنیت ته وتاکل شوې.


**افغان بودیجې بنسټ پر پروګرام اهدافو**
**مالي کال ۲۰۰۷ اصلي**




انځور ۱۰

په مالي کال ۲۰۰۷ کې د امنیت لپاره په اختصاصونو کې ډېر زیاتوالی راغی، په داسې حال کې چې د نورو اهدافو په پروګرامونو کې کمې دوام وکړ.


**افغان بودیجې بنسټ پر پروګرام اهدافو**
**مالي کال ۲۰۰۸ اصلي**




انځور ۱۱

د مالي کال ۲۰۰۸ پر مهال د امنیت او بشري مرستو په اختصاصونو کې منفي زیاتوالی وشو، په داسې حال کې چې په عدالت او دموکراتیک ډول حکومت کولو، او په خلکو او اقتصادي وده کې پانګونې هم زیاتوالی ترلاسه کړ.


**د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ قانون ۲۰۰۲**
**(په ملیونونو ډالرو کې)**




| | 2001 | 2002 | 2003 | 2004 | 2005 | 2006 | 2007 | 2008 | 2009 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تاکل شوي | 0 | 2 | 158 | 135 | 250 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| منل شوي | 0 | 1.5 | 140 | 135 | 250 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| لګول شوي | 0 | 1 | 120 | 125 | 240 | 0 | 0 | 0 | 0 |

انځور ۱۲

**افغان ملي پولیس**
**(په ملیونونو ډالرو کې)**





| | 2001 | 2002 | 2003 | 2004 | 2005 | 2006 | 2007 | 2008 | 2009 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تاکل شوي | $- | $24.0 | $- | $160.0 | $624.5 | $1,217 | $2,523 | $1,017 | $1,000 |
(ج) د هغو ادارو او سازمانونو د فعالیت لګښتونه چې داسې پېسې ترلاسه کوي چې د افغانستان د بیا رغوني لپاره اختصاص شوې او یا په لاس ورکړل شوې وي.

(ح) د کوم قرارداد، بودیجې، تړون، او یا د بودیجې ورکولو بل داسې میکانزم چې په پراګراف (۲) کې تشریح شوی، په صورت کې—

(۱) د دغه قرارداد، بودیجې، تړون، او یا د بودیجې د بل میکانزم رقم؛

(۲) د دغه قرارداد، بودیجې، تړون، او یا د بودیجې د بل میکانزم د اندازې یو لنډ بحث؛

(۳) یو بحث په دې اړه چې څنګه د متحده ایالاتو د حکومت یوه وزارت یا اداره چې په دغه قرارداد، بودیجه، تړون او یا د بودیجې بل میکانزم کې شامله ده هغه مهم افراد یا اداري وپېژندلې، او وړاندیزونه یې ترې واخیستل چې دغه قرارداد، بودیجه، تړون او یا د بودیجې بل میکانزم ترسره کړي، د هغو مهمو افرادو یا ادارو د لست سره یو ځای چې د وړاندیزونو لپاره ترې غوښتنې شوې وې؛ او

(٤) د هغه بنسټ د جواز او منظوری اسناد په کوم چې د نورو پروسیجرونو په ځای د دې پروسیجرونو د کارولو پرېکړه شوې وه چې بشپړه او خلاصه مقابله وړاندې کوي.

(۲) هغه څه چې قراردادونه، بودیجې، تړونونه او د بودیجو میکانزمونه ورته وایي- یو قرارداد، بودیجه، تړون او یا د بودیجو بل میکانزم چې په دې پراګراف کې تشریح شوی هر هغه ستر قرارداد، بودیجه، تړون او یا د بودیجو ورکولو بل میکانزم دی چې د متحده ایالاتو داسې کوم وزارت یا اداري کړی وي چې د هغو پیسو د استعمال په چارو کې لاس لري چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په لاس کې ورکړل شوې وي د کومې عامه یا خصوصي سکټور د اداری سره د لاندې هر مقصد لپاره چې وي:

(أ) چې د افغانستان فزیکي انفراسترکچر جوړ او یا بیا جوړ کړي.

(ب) چې د افغانستان د سیاسي او یا ټولنیزې اداري بنسټ جوړ او یا بیا جوړ کړي.

(ت) چې د افغانستان خلکو ته تولیدات او یا خدمتونه وړاندې کړي.

(۳) عامه موجودیت- عمومي پلټونکی به د دې ضمني برخې د پراګراف (۱) لاندې هر راپور په یوه عامه ترلاسه کېدونکې انټرنېټي وېبپاڼه په انګلیسي او په هغو نورو ژبو کې خپروي چې د عمومي پلټونکی په فکر په افغانستان کې په پراخه کچه کارول کېږي او خلک پرې پوهېږي.

(٤) جوړښت- هر راپور چې د دې ضمني برخې د لاندې غوښتل شوی وي به په نارازدارانه جوړښت ورکول کېږي، خو کېدلای شي چې یوه نارازدارانه ضمیمه هم ولري که عمومي پلټونکی دا ضروري وګڼي.

(٥) د جوړونې قاعده- د دې ضمني برخې هیڅ شی د داسې عامه معلوماتو د ښکاره کولو واک ورکول نشي ګڼل کېدای چې هغه:

(أ) د قانون د بلې کومې مادې لخوا یې ښکاره کول په مشخص ډول منع کړای شوي وي؛

(ب) د عمومي فرمان له لارې یې په مشخص ډول د ښکاره کولو څخه د ملي دفاع یا ملي امنیت د ساتلو لپاره او یا د بهرنیو چارو د ترسره کولو لپاره ممانعت شوی وي؛ او یا

(ت) د یو روان جنایي تحقیق برخه وي.

(ذ) د راپور انسجام-

(۱) د بهرنیو چارو او دفاع سکرتریانو ته یې داخلول- عمومي پلټونکی به هر راپور چې د ضمني برخې (ا) د لاندې غوښتل شوی وي د بهرنیو چارو او د دفاع سکرتر ته هم ورکوي.

(۲) کانګرس ته ورکول- د پراګراف (۱) لاندې د راپور د ترلاسه کولو نه تر ۳۰ ورځو زیات نه، د بهرنیو چارو او یا د دفاع سکرتري کولای شي چې د کانګرس مناسبو کمېټو ته په دې معامله داسې کومې تبصرې وړاندې کړي چې د راپور په اړه وي څنګه چې د بهرنیو چارو او یا د دفاع د سکرتر یې مناسب وګڼي. د راپور لخوا په احاطه شوې معامله چې کومې تبصرې وي باید په نارازدارانه توګه ورکړای شي، خو کېدلای شي چې رازدارانه ضمیمه هم پکې شامله وي که د بهرنیو چارو یا د دفاع سکرتر، هر څنګه چې حالت وي، دا ضروري وګڼي.

(ر) شفافیت-

(۱) راپور- د ضمني برخې (ا) لاندې یو راپور د کانګرس مناسبو کمېټو ته له ورکولو وروسته د ٦۰ ورځو نه زیات ناوخته نه، د بهرنیو چارو سکرتر او د دفاع سکرتر باید د عامه موجود راپور نقلونه په غوښتنه او په معقول لګښت سره جوړ کړي.

(۲) په هغو معاملو تبصرې چې دې راپور یې احاطه کړې- د کانګرس مناسبو کمېټو ته له وړاندې کولو وروسته د ٦۰ ورځو نه ناوخته نه، د دې ضمني برخې (ر)(۲) لاندې د راپور د تبصرو د ضمني برخې (ا)، د بهرنیو چارو سکرتر او د دفاع سکرتر باید د دغو تبصرو نقلونه په غوښتنه او په معقول لګښت سره جوړ کړي.

(ز) اعراض-

(۱) واک- ولسمشر کولی شي چې د ضمني برخې (ر) د پراګراف (۱) او یا (۲) د لاندې غوښتنې څخه د ضمني برخې (د) لاندې د دې راپور د کوم عامه ترلاسه کېدونکي جزو په تړاو، که ولسمشر دا پرېکړه وکړي چې اعراض د ملي امنیت په وجه جواز لري.

(۲) د اعراض یادګیرنه- ولسمشر باید د هر هغه اعراض یوه یادګیرنه خپره کړي چې په مرکزي راجستر کې د دې ضمني برخې د لاندې شوی وي او تر هغې نېټې دې وروسته نه وي چې یو راپور پرې د ضمني برخې (د)، او یا کومې تبصرې د ضمني برخې (ر)(۲) د لاندې غوښتل شوی وي، د کانګرس اړونده کمېټو ته ورکړل شوی وي. راپور او تبصرې باید مشخص کړي چې ایا د دې ضمني برخې د لاندې اعراضونه د راپور یا د تبصرو د کومو برخو په تړاو شوي دي، څنګه چې مناسب وي.

(س) تعریفونه- په دې برخه کې:

(۱) هغه پیسې چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په لاس کې ورکړل شوې وي- د دې اصطلاح "هغه پیسې چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوې او یا په لاس کې ورکړل شوې وي" مانا ده—

(أ) هغه پیسې چې د هر مالي کال لپاره اختصاص شوې او یا په لاس ورکړل شوې وي-

a. د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجې ته؛ او یا

b. هغه پروګرام ته چې د افغانستان د خلکو د مرستې لپاره وي چې د ملي دفاع د صلاحیت ورکونې د قانون د کال ۲۰۰٦ (عامه قانون ۱۰۹-۱٦۳؛ ۱۱۹ ستیټ. ۳٤۵۵-۳٤۵٦) د ضمني برخې (ا)(۲) او یا برخې ۱۲۰۲ د لاندې جوړ شوي وي؛ او

(ب) هغه اختصاص شوې یا په لاس ورکړل شوې پیسې چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره په هر مالي کال کې د دې بودیجو د لاندې ورکړل شوې وي:

a. د اقتصادي ملاتړ بودیجه؛

b. د مخدره موادو د کنټرول او د قانون د تنفیذ حساب؛ او یا

c. د قانون بله کومه ماده.

(۲) د کانګرس اړوندې کمېټې- د دې اصطلاح "د کانګرس اړوندې کمېټې" مانا ده:

(أ) د سنا د اختصاصونو، د نظامي خدمتونو، او بهرنیو اړیکو کمېټې؛ او

(ب) د پارلمان د اختصاصونو، د نظامي خدمتونو او د بهرنیو چارو کمېټې.

(ش) د اختصاصونو واک ورکول-

(۱) په عموم کې- د دې برخې د ترسره کولو لپاره د مالي کال ۲۰۰۸ لپاره د ۲۰،۰۰۰،۰۰۰ ډالرو د اختصاص واک ورکړل شوی.

(۲) توازن- هغه رقم چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د بودیجې د اخصاص لپاره یې په ۱۵۱۳ برخه کې واک ورکړل شوی لدې وروسته ۲۰،۰۰۰،۰۰۰ ډالرو ته کمول کېږي.

(ص) باطلول-

(۱) په عموم کې- د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکی دفتر باید د هغې نېټې نه ۱۸۰ ورځې وروسته په کومه چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره پیسې اختصاص شوې او یا په لاس ورکړل شوې وي دا باطلې کړي که نامصرف شوې پیسې له ۲۵۰،۰۰۰،۰۰۰ ډالرو کمې وي.

(۲) اخري راپور- عمومي پلټونکی باید، د پراګراف (۱) لاندې افغانستان لپاره د بیا رغونې د ځانګړي پلټونکی د دفتر له لغوه کېدو وړاندې، د کانګرس اړوندو کمېټو ته د هغو پروګرامونو او فعالیتونو په اړه یو وروستی د علمي پلټنې راپور وړاندې کړي چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورته د بودیجو پیسې اختصاص شوې او یا په لاس ورکړل شوې وي.

# ضمیمه د
# د بون تړون

## د دولت د دایمي موسساتو تر جوړېښت پورې د افغانستان په اړوند د موقتي اقداماتو او احکامو تړون

د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې د خبرو برخه وال،
د افغانستان په اړوند د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړي استازي په حضور کې،

ژمنه کوي چې په افغانستان کې غمجن کړکیچ پای ته ورسوي، ملي پخلاینه، تلپاتې سوله، ثبات ټینګ او په هیواد کې د بشري حقوقو درناوی وشي،

بیا ټینګار کوي چې د افغانستان خپلواکي، ملي واکمنتوب او د خاورې بشپړتیا خوندي وساتل شي،

د افغانستان د خلکو دغه مسلم حق مني چې په ازاده توګه خپل سیاسي راتلونکي برخه لیك د اسلام، دموکراسی پلورلیزم او ټولنیز عدالت د پرنسیپونو سره سم وټاکي،

د دې قدرداني کیږي چې د افغانستان مجاهدینو د کلونو په اوږدو کې د خپلواکۍ، ملي واکمنتوب، د خاورې بشپړتیا او ملي یووالي څخه دفاع کړیده او د تروریزم، ظلم او زیاتی په وړاندې یې په زړه پورې رول لوبولی او د دوئ قربانیو اوس هغوئ د جهاد، سولې او د خپل ګران هیواد افغانستان د بیا ودانولو او آرامتیا اتلان ګرځولي دي،

پوهیږي چې په هیواد کې بې ثباته حالت دېته اړتیا لري چې موقت اضطراري تدبیرونه ونیول او عملي شي. د جلالتماب پروفیسور برهان الدین رباني د دغه چمتووالي قدردانی کوي چې قدرت هغې موقتې ادارې ته سپاري چې د دغه موافقتنامې په نتیجه کې منځ ته راځي،

په دغه ضرورت ټینګار کوي چې په دغو موقتو تدبیرونو کې د افغانستان د اولس د ټولو پرګنو او د هغو ډلو چې د ملګرو ملتونو په اوسنیو خبرو کې یې استازیتوب نه ده شوې بشپړ استازیتوب باوري شي، په پام کې ساتي چې دغه موقت تدبیرونه د یو داسي پراخ بنسټه او نماینده حکومت په لور چې جنسي توپیر په کې نه وي، په هغه کې د ټولو قومونو او د هغو ډلو بشپړ استازیتوب شوی وي او د ټاکلې مودې څخه زیات دوام ونه کړي لومړی ګام بولي،

دا مني چې وخت په کار دی تر څو نوی افغان امنیتي ځواك جوړ او وکړی شي خپلې دندې په پوره توګه ترسره کړي. په دغه موده کې باید هغه امنیتي تدبیرونه چې د دغې موافقتنامې په لومړی ضمیمه کې په ګوته شوي پلي شي،

دا مني چې ملګري ملتونه یوه پیژندلې شوې نړیواله بیطرفه موسسه ده او تر هغه چې په افغانستان کې تل پاتې موسسات منځ ته راځي خاص او مهم نقش ولوبوي، چې تفصیلات یې د دې موافقتنامې په دوهمه ضمیمه کې په ګوته شوي دي،

په لاندې ډول موافقې ته رسیدلي دي:

**<u>موقته واکمني</u>**

**I- <u>عمومي احکام</u>**

۱ - موقته واکمني د قدرت د رسمي انتقال سره سمه رامنځ ته کیږي، د قدرت د انتقال نیټه د ۲۰۰۱ میلادي کال د ډسمبر ۲۲ مه ټاکل شوې ده.

۲ - موقته واکمني به د یوې موقتي ادارې نه چې په سر کې یې یو رئیس دی، د اِضطراري لویې جرګې د رابللو د پاره د یوه ځانګړي خپلواک کمیسیون، د افغانستان د سترې محکمې او نورو هغو محکمو چې د موقتي ادارې له خوا منځ ته راځي جوړوي. د موقتې ادارې او ځانګړي خپلواك کمیسون جوړښت، دندې، او اجرایوي کار دودونه په دې موافقتنامه کې ځای په ځای شوي دي.

۳ - موقته واکمني د قدرت د رسمي انتقال سره سم د افغانستان د ملي واکمنتوب تمثیل کوي. په دې اساس د موقتي مودې په اوږدو کې به موقته واکمني په بهرنیو اړیکو کې د افغانستان استازیتوب کوي؛ د ملګرو ملتونو په موسسه او د دغې موسسې او خاصو نمایندګیو کې د افغانستان څوکۍ اشغالوي. همدغه شان په نورو نړیوالو موسساتو او کنفرانسونو کې د افغانستان استازیتوب کوي.

٤ - د موقتې واکمنی د جوړښت نه د شپږو میاشتو په موده کې به اضطراري لویه جرګه رابلل کیږي، چې د افغانستان د پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه له خوا به پرانستل شي. دا اضطراري لویه جرګه به د انتقالي واکمنی او د پراخ بنسټه ادارې په هکله پریکړه کوي. نوموړې اداره به تر هغه وخته پورې د افغانستان مشرتوب کوي تر څو یو بشپړ نماینده حکومت چې د ازادو او عادلانه انتخاباتو له مخې منځ ته راځي، دغه انتخابات د اضطراري لویې جرګې د غونډېدو د نیټې څخه د دوو کالو په موده کې وشي.

٥ - اضطراري لویه جرګه د انتقالي واکمنی د تاسیس سره سم موقته واکمني د منځه وړي.

٦ - د انتقالي واکمنی د جوړښت نه د 18 میاشتو په اوږدو کې د اساسي قانون د تصویب له پاره لویه جرګه رابلل کیږي. دغه اساسي قانون به د افغانستان د راتلونکي حکومت چې د ملګرو ملتونو د څارنې لاندې عمومي انتخاباتو په نتیجه کې منځ ته راځي زمینه برابره کړي. د دې له پاره چې د پیشنهاد شوي اساسي قانون د تصویب له پاره د لویې جرګې سره مرسته شوې وي، انتقالي اداره د خپل تاسیس نه باید د دوو میاشتو په اوږدو کې د ملګرو ملتونو په مرسته د اساسي قانون کمیسون جوړ کړي.

**<u>II. قانوني چوکاټ او قضایي نظام</u>**

۱ - لاندینۍ چوکاټ په موقتي توګه تر هغه چې پورته ذکر شوی نوی اساسي قانون نافذ شي تطبیقیږي.

الف: د ۱۳٤۳ لمریز (۱۹٦٤م) اساسي قانون ترهغه ځایه چې احکام یې د دې موافقتنامې د موادو سره په تضاد کې نه وي او د هغو برخو پرته چې د شاهي رژیم او د هغه وخت د اجرائیه او مقننه قواوو سره ارتباط پیدا کوي نور احکام یې د تطبیق وړ دي.

ب: موجوده قوانین او مقررات تر هغه ځایه چې د دغې موافقتنامې او نړیوالو قانوني واجباتو د کومو چې افغانستان یې یو طرف وي او یا د ۱۳٤۳ کال د اساسي قانون د تطبیق وړ احکامو سره په تضاد کې نه وي د تطبیق وړ دي. موقته واکمني دا قدرت لري چې دغه قوانین او لایحې فسخ او تعدیل کړي.

۲ - د افغانستان قضایي قوه به مستقله وي. قضایي قوه د سترې محکمې او د هغو نورو محکمو څخه چې د موقتي ادارې له خوا جوړیږي تشکیله شوې ده. موقته اداره د ملګرو ملتونو په مرسته یو قضایي کمیسون جوړوي چې په افغانستان کې د اسلامي ارزښتونو، د نړیوالو حقوقي معیارونو او د داخلي حقوقي عنعناتو په نظر کې نیولو سره قضایي سیستم بیا فعال کړي.

## III. موقته اداره

الف – ترکيب يا جوړښت

۱ – موقته اداره د يوه رئيس، پنځه مرستيالانو او 23 غړو څخه جوړه ده. د رئيس نه پرته هر غړی کولی شي چې د موقتې ادارې د يوې اداري څانګې مشر شي.

۲ – د افغانستان په باره کې د ملګرو ملتونو د خبرو برخه والو د افغانستان د پخواني پاچا اعليحضرت محمد ظاهرشاه نه بلنه کړې چې د موقتې ادارې مشري په غاړه واخلي. اعليحضرت يادونه کړې چې غوره ګڼي چې يو بل مناسب شخصيت چې د برخه والو د منلو وړ وي په دغه دنده وګومارل شي.

۳ – د موقتې ادارې رئيس، مرستيالان او نور غړي به يې د هغو نومونو د لستونو څخه چې د ملګرو ملتونو په مذاکراتو کې د برخه والو له خوا ورکړل شوي دي په مربوطه څانګه کې د دوی د مسلکي تخصص، حيثيت، لياقت، کفايت او هم د افغانستان د قامي، جغرافيايي او مذهبي تناسب او د ښځو د مقام د اهميت په پام کې نيولو سره د ملګرو ملتونو د خبرو د برخه والو له خوا ټاکل شوي دي چې نومونه يې د دې موافقت ليك په څلورمه ضميمه کې د ليست په بڼه راغلي دي.

٤ – د موقتې ادارې هيڅ غړی نه شي کولای چې په عين وخت کې د اضطراري لويې جرګې د جوړيدو د پاره د څانګړې خپلواك کميسون غړی هم شي.

ب: کاردود (طرزالعمل)

۱ - د موقتې ادارې رئيس او د هغه يا د هغې په غياب کې د مرستيالانو څخه يې يو د موقتې ادارې د غونډو مشرتوب په غاړه اخلي او د خبرو او موادو اجندا جلسو ته وړاندې کوي.

۲ - موقته اداره هڅه کوي چې خپلې پريکړې د جمعي اتفاق په توګه وکړي. که چيرې د پريکړې له پاره رای اخستنې ته اړ شي، نو ضرور ده د حاضرو غړو د رايو په اکثريت پريکړه وشي، مګر دا چې په دې موافقتنامه کې په بله توګه په ګوته شوې وي. په دې شرط چې د پريکړو له پاره رای اخستلو په صورت کې بايد په غونډه کې 21 غړي حاضر وي په داسې حال کې چې د رايو شمير مساوي شي، د رئيس رايه پريکنده رول لري.

ج - دندې

۱ - موقته اداره د دولت ورځنۍ چارې پرمخ بيايي د سولې، امنيت او نظم د ټينګښت او د بهترې ادارې د تامينولو له پاره حق لري چې فرمانونه صادر کړي.

۲ - د موقتې ادارې مشر يا مشره او يا د هغو په غياب کې يو له مرستيالانو څخه بايد د موقتې ادارې وړ او ښه تمثيل او استازيتوب وکړي.

۳ - د موقتې ادارې هغه غړي چې د مختلفو څانګو دنده يې په غاړه وي، مسئوليت لري چې د موقتې ادارې پاليسي د خپل کار په ساحه کې پلي کړي.

٤ - د قدرت د انتقال سره سم موقته اداره پوره قانوني صلاحيت لري چې د پيسو په چاپ او چلند کې اقدام وکړي او په ځانګړي توګه حق لري چې د نړيوالو مالي سازمانونو څخه پيسې ترلاسه کړي. موقته اداره به د ملګرو ملتونو په مرسته د افغانستان مرکزي بانك بيا فعالوي. دا بانك به د بامسئوليته، محاسبوي او څرګند کاردود له مخې د پيسو په تهيه کولو کې د قانون له مخې اقدام کوي.

٥ - موقته اداره به د ملګرو ملتونو په مرسته د ملکي مامورينو خپلواک کميسيون جوړوي. نوموړي کميسيون موقتي واکمنۍ او راتلونکي انتقالي واکمنۍ ته د هغو باکفايته او با اهليته کانديدانو لنډ لستونه چې د اداري ځانګو په مهمو دندو او همدغه شان د واليانو او ولسوالانو په دندو ګمارل کيږي، ورسپاري.

٦ - موقته اداره به د ملګرو ملتونو په مرسته د بشري حقوقو يو خپلواک کميسيون جوړ کړي. د دغه کميسيون په دندو کې د بشري حقوقو د رعايت څارنه، د بشري حقوقو د نه مراعت په صورت کې تحقيق او د بشري حقوقو د کورنيو موسساتو ته وده ورکول شامل دي. همدغه شان موقته اداره د ملګرو ملتونو په مرسته د هغو ستونزو په هکله چې په دې موافقتنامه کې نه دي ځای په ځای شوي، نور کميسونونه هم جوړولی شي.

٧ - د موقتي اداري غړی به په خپلو کړو وړو کې د يو لړ سلوکي ضوابطو رعايت وکړي چې د نړيوالو معيارونو سره برابر وي.

٨ - که چيرې د موقتي اداري کوم غړی په خپلو کړو وړو کې د پورته ذکر شويو نړيوالو معيارونو اطاعت ونه کړي، بايد د خپلې دندې نه ګوښه کړای شي. د يوه غړي ګوښه کول او يا د اداري څخه د هغه ايستل بايد د رئيس او يا د هغه د کوم مرستيال په وړانديز او د رايو د دوه ثلثو په اکثريت عملي شي.

٩- د لزوم په صورت کې د موقتي اداري د غړو دندې او صلاحيتونه د ملګرو ملتونو په مرسته تکميل او تصريح کيږي.

## IV. د اضطراري لويې جرګې د رابللو له پاره ځانګړی خپلواک کميسيون

١ - د اضطراري لويې جرګې د رابللو له پاره يو ځانګړی خپلواک کميسون د موقتي واکمنۍ د جوړولو څخه د يوې مياشتي په دننه کې جوړيږي. په دې ځانګړي خپلواک کميسون کې 21 تنه غړيتوب لري. د دې کميسيون يو شمير غړي بايد په اساسي قانون يا عنعنوي قوانينو کې تخصص ولري. د دې کميسيون غړي به د هغه کانديدانو د لستونو څخه چې د افغانستان په اړوند د ملګرو ملتونو په خبرو کې د برخه والو له خوا وړاندې شوي او همدغه شان د افغان متخصصينو، د مدني ټولنو د ډلو له خوا مخکي ترتيب شوي غوره کيږي. ملګري ملتونه به د دې کميسون په جوړولو، فعالولو او د کميسون د مناسبې دارالانشا په جوړولو کې مرسته وکړي.

٢ - دغه ځانګړی خپلواک کميسون به د اضطراري لويې جرګې د کاردود او د اضطراري لويې جرګې د غړو د شمير په ټاکلو کې وروستنۍ تصميم نيونکي مرجع وي. دغه ځانګړی خپلواک کميسون به د مقرراتو او کاردود مسوده جوړوي چې لاندې ټکي به پکې په ګوته شوي وي: (الف) په لويه جرګه کې په هيواد کې دننه د اوسيدونکو مسکونو او کوچيانو د برخې د ټاکلو له پاره د معيارونو په ګوته کول. (ب) په پاکستان، ايران او د نړۍ په نورو هيوادونو کې د افغاني کډوالو د پاره د برخې د ټاکلو د معيارونو په ګوته کول. (ج) په هيواد کې دننه او د هيواد نه د باندې د اسلامي عالمانو په ګډون د مدني ټولنو، سازمانونو، بانفوذه شخصيتونو، روښان فکرانو او سوداګرو د برخې د ټاکلو د پاره د معيارونو په ګوته کول.

٣- دغه ځانګړی خپلواک کميسون به په اضطراري لويه جرګه کې د ښځو او د افغان اولس د نورو پرګنو د استازو مناسب شمير باوري کوي. اوونۍ مخکې د اضطراري لويې جرګې کاردود، مقررات، د جرګې د پرانيستلو نيټه، په نظر کې نيول شوی ځای او موده چاپ او خپره کړي.

٤ - د اضطراري لويې جرګې د پاره به ځانګړی خپلواک کميسيون د کانديدولو د پروسې او د هغې د څارنې او تطبيق کاردود وضع کوي. دغه کميسيون بايد د اضطراري لويې جرګې له پاره د غير مستقيمو انتخاباتو يا غوره کولو پروسه په څرګنده او منصفانه توګه يقيني کړي. دغه ځانګړی خپلواک کميسيون به داسې ميکانيزم او مقررات رامنځ ته کوي چې د هغه له مخې شکايتونه ثبت او د شخړو په صورت کې حکميت وشي.

۵ - اضطراري لويه جرگه به د انتقالي اداري له پاره د دولت مشر انتخابوي او هغه وړانديزونه چي د انتقالي اداري د جوړښت او د لوړرتبه مامورينو په هكله شوي وي، تصويبوي.

**V. نهايي احكام**

۱ - د قدرت د رسمي انتقال سره سم به په هيواد كي ټول مجاهدين، افغان وسله وال ځواكونه او وسله والي ډلي د موقتي واكمنی د كنترول او قوماندي لاندې راځي. او د افغانستان د نوو امنيتي او پوځي غوښتنو سره سم به د هيواد په وسله والو او امنيتي ځواكونو كي تنظيم شي.

۲ - موقته واكمني او اضطراري لويه جرگه بايد د نړيوالو هغو اساسي پرنسيپونو او احكامو مطابق عمل وكړي چي د بشر په حقوقو او انساني قوانينو كي خوندي شوي او افغانستان هغه منلي دي.

۳ - موقته واكمني بايد د تروريزم، مخدره موادو، او تنظيم شوو جنايتونو په ضد مباره كي د نړيوالي ټولني سره همكاري وكړي. دغه واكمني بايد نړيوالو قوانينو ته په درنه سترگه وگوري او د خپلو گاونډيو هيوادونو او نړيوالي ټولني سره سوله ايز او دوستانه اړيكي ټينگي وساتي.

٤ - موقته واكمني او د لويي جرگي د رابللو ځانگړی خپلواك كميسيون بايد دا باوري كړي چي په اضطراري لويه جرگه او موقته اداره كي ښځي، ټولي قامي او ديني ټولني عادلانه استازيتوب ولري.

۵ - موقته واكمني هغه اشخاص چي د نړيوالو بشري قوانينو نه يي سرغړونه كړي وي او يا يي د انسانيت په ضد جنايت كړي وي له عدلي تعقيب څخه نه شي معاف كولی.

٦ - د موقتي واكمنی ټول اقدامات به د ملگرو ملتونو د امنيت د شورا د ۱۳۸۰ لمريز كال پريكړه ليك (١٤ نومبر ۲۰۰۱ ميلادي كال) د افغانستان په هكله د امنيت شورا نورو اړوندو پريكړو سره مطابقت ولري.

د موقتي واكمنی لاندې به د ټولو اورگانونو له پاره مقررات او كاردود په غوره توگه د ملگرو ملتو په مرسته رامنځ ته كيږي. ضميمي د دې موافقتنامي داخلي برخي جوړوي چي انگليسي متن يي د ۲۰۰۱ ميلادي كال د دسمبر د مياشتي په پنځمه نيټه په يوه نسخه كي ترتيب شوي اصلي متن دی او بايد د ملگرو ملتونو په ارشيف كي خوندي وساتل شي. رسمي متنونه به په پښتو، دري او نورو هغو ژبو كي چي د ملگرو ملتونو د سرمنشی د خاص استازي له خوا به مشخصي شي، هم ترتيب شي. د ملگرو ملتونو د سرمنشي خاص استازی به تصديق شوې نسخي په انگليسي، پښتو او دري هر يو گډونكونكي ته استوي.

***

**لومړی ضمیمه**

**نړیوال امنیتي ځواك**

۱ ـ د افغانستان په اړوند د ملګرو ملتونو په خبرو کې برخه وال دا مني چې په ټول هیواد کې د امنیت ټینګښت، نظم او د قانون پلي کول پخپله د افغانانو مسئولیت دی. دغه هدف ته د رسیدو له پاره دا ژمنه کوي چې افغانان به د خپلو ټولو وسایلو، توان او نفوذ سره سم امنیت د ټولو له پاره په شمول د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو حکومتي او غیر حکومتي موسساتو او مامورینو چې په افغانستان کې ځای په ځای کیږي یقیني کړي.

۲ ـ د دې هدف په نظر کې نیولو سره د خبرو برخه وال غوښتنه کوي چې نړیواله ټولنه به د افغانستان د نویو واکمنو سره د افغانستان د نویو وسله والو او امنیتي ځواکونو په روزنه او جوړیدو کې مرسته کوي.

۳- د دې مطلب په پوهیدو سره چې د افغانستان نوی وسله وال او امنیتی ځواکونو د بشپړ جوړیدو او په کار لویدو له پاره یو څه وخت ته ضرورت لري، نو له دې کبله د ملګرو ملتونو په خبرو کې برخه وال د امنیت د شورا نه غوښتنه کوي چې خپل موظف پوځونه هرڅومره ژر چې کولي شي په افغانستان کې ځای پرځای کولو ته توجه وکړي. دا ځواك به د کابل او د هغه د چاپیریال د امنیت د ساتلو په لار کې همکاري وکړي. دغه ځواك کولي شي چې د لزوم په صورت کې د هیواد نورو ښاري مرکزونو او ساحو ته پراختیا ومومي.

٤ ـ د ملګرو ملتونو په خبرو کې برخه وال ژمنه کوي چې له کابل او نورو ښاري مرکزونو او ساحو څخه په کومو چې د ملګرو ملتونو موظف ځواك ځای په ځای کیږي، ټول پوځي واحدونه وباسي. دا به هم ښه وي چې دغه ځواکونه د افغانستان د زیربنا (انفراسترکچر) د بیا رغونې په لار کې همکاري وکړي.

***

**دوهمه ضمیمه**

**په موقته دوره کې د ملګرو ملتونو د سازمان نقش**

۱ - د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د هراړخیز کار په ټولو برخو کې مسئولیت لري.

۲ - د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی باید د دې موافقتنامې ټول مندرجات وڅاري او د تطبیق په لار کې یې مرسته وکړي.

۳- ملګري ملتونه به موقتي واکمنی ته د یوه سیاسي بیطرفه چاپیریال په رامنځته کیدو کې لاربښونه وکړي تر څو اضطراري لویه جرګه په ازادو او منصفانه شرایطو کې راغونډه شي. ملګري ملتونه به د هغو موسساتو او اداري ځانګو چال چلند ته چې د اضطراري لویې جرګې دایرول او د هغې نتیجې په مستقیمه توګه د نفوذ لاندې راوړي خاصه توجه وکړي.

٤- د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی او یا د هغه او هغې له خوا ټاکل شوي هیئت ته به بلنه ورکړل شي چې د موقتې ادارې او د اضطراري لویې جرګې د رابللو د ځانګړي او خپلواک کمیسیون په غونډو کې برخه واخلي.

٥- که د هر دلیل په وجه موقته اداره یا ځانګړی خپلواک کمیسیون د خپلو غونډو څخه منع شي او یا د دې جوګه نه وي چې د اضطراري لویې جرګې د راغونډیدو د موضوعاتو په هکله پریکړه وکړي، په دې هکله به د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی، د موقتې ادارې یا د ځانګړي خپلواک کمیسیون له خوا د نظریاتو په نظر کې نیولو سره د خپل خیر او ښیګڼې ماموریت څخه کار اخلي ترڅو په دې باره کې د حل د پاره اسانتیاوې برابرې او یا پریکړه وکړي.

٦ - ملګري ملتونه باید حق ولري چې د بشري حقوقو د پښو لاندې کیدو په صورت کې تحقیق، او که ضرورت شي، نو د اصلاحي عمل سپارښتنه وکړي. همدرانګه ملګري ملتونه د بشري حقوقو د پراختیا، د ښوونې او روزنې د پروګرام د تطبیق او د بشر حقوقو ته د درناوي او پاملرنې په لار کې مسئولیت لري.

***

**دریمه ضمیمه**

**د ملګرو ملتونو د سازمان څخه د افغانستان په اړوند**

**د ملګرو ملتونو د خبرو د برخه والو غوښتنه**

د ملګرو ملتونو په خبرو کې برخه وال په دې وسیله:

۱ – د ملګرو ملتونو او نړیوالو ټولنې څخه غوښتنه کوي چې د افغانستان ملي واکمنتوب، د خاورې تمامیت او ملي یووالي د ضمانت له پاره ضروري اقدامات وکړي. همدارنګه د افغانستان په کورنیو چارو کې د بهرنیو هیوادونو د لاسوهنې د بندولو په هکله لازم اقدامات وکړي.

۲- د ملګرو ملتونو، نړیوالې ټولنې په ځانګړې ډول د مرسته ورکوونکو هیوادونو او څوارخیزو موسساتو څخه غوښتنه کوي چې د خپلو وعدو د پوره کولو له پاره له موقتي واکمنۍ سره په ګډه د افغانستان د بیا رغونې، په پښو دریدو او بیا ودانولو په لار کې خپل واجبات او همکاري یو ځل بیا تائید، غښتلې او تطبیق کړي.

۳ – د ملګرو ملتونو د سازمان څخه غوښتنه کوي هر څه ژر د رایو ورکونکو د نومونو د ثبتولو کار د عمومي انتخاباتو چې د اساسي قانون د تصویب څخه وروسته دایرېږي مخکې له مخکې سرته ورسوي او همدارنګه په افغانستان کې نفوس شمیرنه هم بشپړه کړي.

٤ – د ملګرو ملتونو د سازمان او نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کوي چې د افغانستان د خپلواکۍ او خلکو د عزت په خوندي ساتلو کې د مجاهدینو د قهرمانانه نقش په پیژندلو سره لازم اقدامات او د موقتي واکمنۍ سره مرسته وکړي تر څو د افغانستان په وسله وال او امنیتي ځواکونو کې مجاهدین بیا مدغم کړي.

٥ – ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې ته بلنه ورکوي چې د شهیدانو کورنیو او نورو وارثینو، د جنګ ځپلو او د جنګ د معیوبینو سره د مرستې صندوق جوړ کړي.

٦ – د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې او د سیمه ایزو مرستندویه موسساتو څخه په کلکه غوښتنه کیږي چې د موقتي واکمنۍ سره د نړیوال تروریزم، د مخدره موادو د کرنې او لیږدولو په ضد د مبارزې په لار کې د موقتي واکمنۍ سره همکاري وشي او افغاني کروندګرو د پاره د مالي، مادي او تخنیکي مرستو په برابرولو سره زمینه مساعده کړي، چې د افغانستان کروندګر نور خوراکي پیداوار تولید کړي.

***

**څلورمه ضمیمه**

**دموقتي اداري جوړښت**

رئیس.......................................................... حامد کرزی

<u>مرستیالان</u>

مرستیاله او د ښځو چارو وزیره.............................. ډاکټره سیما سمر
مرستیال او د دفاع وزیر......................................محمد قسیم فهیم
مرستیال او د پلان وزیر.......................................حاجي محمد محقق
مرستیال او د اوبو او برښنا وزیر..............................شاکرکارگر
مرستیال او د مالیي وزیر.....................................هدایت امین ارسلا

<u>غړي</u>

د بهرنیو چارو وزیر............................................ډاکټر عبدالله عبدالله
د کورنیو چارو وزیر........................................... محمد یونس قانوني
د سوداگرۍ وزیر............................................... سید مصطفی کاظمي
د کانو او صنایعو وزیر.........................................محمد عالم رزم
د سپکو صنایعو وزیر.......................................... عارف نورزی
د اطلاعاتو او کلتور وزیر....................................ډاکټرمخدوم رهین
د مخابراتو وزیر................................................انجنیر عبدالرحیم
د کار او ټولنیزو چارو وزیر..................................میرویس صادق
د حج او اوقافو وزیر..........................................محمدحنیف بلخي
د شهیدانو اومعلولینو چارو وزیر........................... عبدالله وردک
د پوهنې وزیر...................................................عبدالرسول امین
د لوړو زده کړو وزیر..........................................ډاکټر شریف فایز
د عامې روغتیا وزیر..........................................ډاکټره سهیلا صدیق
د ټول گټو وزیر.................................................عبدالخالق فضل
د کلیو د پراختیا وزیر........................................عبدالمالک انور
د ښارونو پراختیا وزیر........................................حاجي عبدالقدیر
د بیا رغاونې چارو وزیر...................................... امین فرهنگ
د ترانسپورت وزیر.............................................سلطان حمید سلطان
د کډوالو چارو وزیر...........................................عنایت الله نظري
د کرنې او مالدارۍ وزیر.....................................سید حسین انوري
د اوبو لگولو چارو وزیر......................................حاجي منگل حسین
د عدلیي وزیر...................................................عبدالرحیم کریمي
د هوایي چلند او توریزم وزیر...............................عبدالرحمان
د سرحدونو چارو وزیر.......................................امان الله څدراڼ

## ضمیمه خ

## د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ قانون

### پي ال ۱۰۷-۳۲۷

دغه قانوني لایحه د افغانستان اقتصادي او دموکراتیکي پرمختیا لپاره د مرستو ورکولو ته قانوني صلاحیت ورکوي، همداشان د افغانستان اویا بل کوم ځانګړي بهرني هیواد لپاره پوځي مرستو ته قانوني بنه ورکوي.

*دغه لایحه د متحده ایالاتو د مشرانو جرګې او د ولسي جرګې چې په کانګرس کې راټول شوي وو، لخوا تصویب شویده.*

**لومړی څپرکی، لنډ نوم، لړلیک، او تعریفات**

**الف: لنډنوم**، د دې لایحې نوم (د افغانستان دآزادۍ د ملاتړ د ۲۰۰۲ کال قانوني لایحه) دی.

**ب: لړلیک**، د دې لایحې لړلیک په لاندې ډول دی:

لومړی سرلیک، لنډ نوم، لړلیک، تعریفات

**لومړی سرلیک -- د افغانستان د اقتصادي او د موکراتیکي پرمختیا لپاره مرستې**

۱۰۱- د پالیسي اعلان

۱۰۲- د مرستو موخې

۱۰۳- د مرستو قانونیت

۱۰٤- د مرستو انسجام

۱۰۵- د کوکنارو په تولیدي سیمو کې د همکاریو د پراختیا په هکله د کانګرس نظریات.

۱۰٦- اداري احکام

۱۰۷- د نورو چاروکو سره اړیکې

۱۰۸- بودجوي تخصیص ته قانوني بنه ورکول

**دوهم سرلیک--- د افغانستان او یا بل کوم ځانګړي بهرني هیواد یا نورو نړیوالو مؤسسو لپاره پوځي مرستې**

۲۰۱- په انتقالي دوره کې د امنیت ساتنې لپاره ملاتړ

۲۰۲- د مرستو قانوني کول

۲۰۳- په شرایطو برابر هیوادونه او په شرایطو برابرې نړیوالې موسسې.

۲۰٤- د مرستوبیرته مستردیدنه

۲۰۵- د کانګرس لپاره د خبرتیا اړتیاوې

۲۰٦- افغانستان ته دبشردوستانه او نورو مرستو رسونه د امن په فضا کې همدا شان د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک پراختیا

۲۰۷- د نورو لایحو سره اړیکې

۲۰۸- وروستنی پړاو

**دریم سرلیک --- متفرقه احکام**

۳۰۱- د نشه يي توکو د قاچاق په مخنیوي پورې د اړوندو اجرااتو مقررات

۳۰۲- د افغانستان د ولسمشرد ساتنې په اړوند د کانګرس نظر

۳۰۳- افغانستان ته د مرستې ورکوونکو ونډه او راپورونه

(ج) تعریف: په دې لایحه کې د (افغانستان حکومت) عبارت دی له:

(۱) د افغانستان د حکومت هرډول سیاسي څانګې او

(۲) د افغانستان د حکومت هرډول نمایندګۍ او یا ادارې

**لومړی سرليک -- د افغانستان د اقتصادي او دموکراتيکې پرمختيا لپاره مرستې**

**۱۰۱- د پاليسي اعلان**

کانګرس لاندې موضوعات اعلانوي:

(۱) متحده ايالتونه او نړيواله ټولنه بايد د هغه هڅو ملاتړ وکړي چې په افغانستان کې د دموکراتيکو ملکي حکومتونو او موسساتو د لا پرمختيا سبب شي او په دغه هيواد کې يو پراخ بنسټه، ګڼ ملتيزه، جنسي مساواتو ته پاملرونکی، او د ټولو قومونو نماينده حکومت رامينځ ته شي.

(۲) په ځانګړي ډول متحده آيالات به دمګړۍ خپل مهارتونه په کار واچوي ترڅو د بشري مرستو، د کډوالو اړتياوې، د نشه يي توکوسره د مبارزې، او په افغانستان کې د بيا رغاونې ضروررياتو ته رسيده ګي وکړي.

(۳) نړيواله ټولنه او متحده آيالات به هڅه وکړي په افغانستان کې سوله اوامنيت راولي او د لانجو او تاوتريخوالي د بيا پيل کيدلو مخه ونيسي، همداشان به خپلو مرستو ته دوام ورکړي ترڅو افغانستان يوځل بيا د نړيوال تروريزم ځاله ونه ګرزي.

(٤) متحده آيالات بايد د بون د پريکړو چې د دسمبر په ۱۲ نيټه په جرمني کې لاسليک شوي ملاتړ وکړي، ترڅو لنډمهاله ترتيبات ترسره او دايمي دولتي ادارې او موسسات رامينځ ته شي، په خاصه توګه متحده آيالات بايد په جدي توګه د افغانستان د ناپييلتوب د ساتني لپاره هڅه وکړي. او د ګاونډي هيوادونو او په سيمه کې نورهيوادونو حاکميت، ځمکنی بشپړتيا يا سياسي خپلواکی ته د تهديد د نه پيښيدو لپاره بنسټيز اصول وټاکي. او دې موخې ته د رسيدو لپاره د هر ډيپلوماتيک نوښت ملاتړ وکړي.

(٥) د امريکايانو له نظره په افغانستان کې د ځانګړي بيړني حالت چې بايد ولسمشر ورته په جدي توګه پاملرنه وکړي او د تګلارې په جوړولو کې يې د بشپړ انعطاف څخه برخمن وي، امنيتي مسائيل بشر دوستي، سياسي حالات، د قانون د تنفيذ، او پرمختيايي موضوعات دي. د دغه تګلارې په جوړولو، همغږي کولو اواداره کولو کې بايد د افغانستان سره د مرستو په پام کې ساتلو سره ځانګړي لنډمهاله پروګرامونه جوړکړل شي.

(٦) د ټيکاو يا ثبات د راوستلو، د ولسواکۍ د ټينګښت او د تروريزم د له مينځه وړلو لپاره بايد نړيواله ټولنه او متحده آيالات د هغه هڅو ملاتړ وکړي چې په ټوله مينځنی آسيا کې د دموکراتيکو، ملکي حکومتونو اوموسساتو د لا پرمختيا سبب کيږي.

**۱۰۲- د مرستو موخې:**

د هغه مرستو چې د دې سرليک لاندې يې قانوني بنه غوره کړې، موخې په لاندې ډول دي:

(۱) په افغانستان کې د امريکايي او نورو نړيوالو ځواکونو پر ضد د تاوتريخوالي د کمولو له لارې په متحده آيالاتو او نورې نړۍ کې د امنيت راوستلو ته لاره پرانيستل، او د هغه چانس کمول چې افغانستان بيا د نړيوال تروريزم په مرکز بدل نه شي.

(۲) د متحده آيالاتو اونړيوالي ټولني د دوامداره هڅو ملاتړ ترڅو دننه په افغانستان کې د وګړو او په ګاونډيو هيوادونو کې افغاني مهاجرينو ته ورپيښ بشري کړکيچ ته د پای ټکی کيږدي.

(۳) د نشه يي توکو د توليد او راکړې ورکړې پر ضد مبارزه، د هيروينو په جوړولو کې د کيمياوي موادو د انتقال مخنيوی، او د افغان حکومت د ظرفيتونو لوړول ترڅو خپله د کوکنارو د کښت، او د نورو اړوندو موضوعاتو مخنيوی وکړي.

(٤) په افغانستان کې د يو پراخ بنسټه، ګڼ ملتيز، د ښځو حقونو ته پاملرونکی، او د ټولو ميشتو قومونو نماينده حکومت رامينځ ته کول چې په بشپړ ډول د افغانانو لخوا ټاکل شوی وي. د ټولو افغانانو د بشري حقونوپه ځانګړي ډول د ښځو د حقونو ساتندوی وي همداشان د امريکې متحده آيالات هغه مرستو ته ژمنه ده چې افغانستان پرې بيا ورغول شي او په ځانګړې توګه د ماشومانو او د ښځو د ښوونې او روزنې او روغتيايي اړتياوو ته پکې پاملرنه شوي وي، ترڅو بيا په افغاني ټولنه کې فعاله ونډه ولري.

(۵) د افغان حکومت ملاتړ ترڅو خپل ظرفيتونه لوړ کړي او د ضرورت وړ پروژو، د تنظيم، پرمختګ، او تطبيق جوګه شي.
(٦) د مدني ټولنو د ونډې پراختيا د يو پراخ بنسټه، ګڼ ملتيز، د ښځو حقونوته پاملرونکی او د ټولو قومونو نماينده د افغانانو لخوا ټاکل شوي حکومت په رامينځ ته کولو کې چې په راتلونکي کې د حکومت د دقيق ډول او طرز په ټاکلو کې د هر ډول تبعيض او مداخلې څخه خالي وي.
(۷) د افغانستان د بيا رغاونې سره د هغو پروګرامونو له لارې مرسته کول چې خلکو ته پکې کار پيدا شي، ماينونه پاک شي، او د افغانستان کرهنيز سيستم، روغتيايي او تعليمي سيستمونه بيا ورغول شي.
(۸) د ښځو چارو وزارت ته د امکاناتو برابرول ترڅو خپل مسووليتونه چې د ښځو د حقونو څخه دفاع، د ښځو ښوونه او روزنه، مسلکي تعليمات، او د ښځو روغتيايي حالت ته پاملرنه ده په ښه ډول ترسره کړي. او
(۹) او د داسې يوې ټولنې ودې ته زمينه برابرول چې کثرت پالنه پکې شتون ولري او د مذهبي ازادئ درناوی وکړي.

**۱۰۳- د مرستو قانونيت**

الف: په ټوليز ډول د نړيوالو عامه حقوقو د قانون ۵۱۲ څپرکي ۱۰۷- ۱۱۵ مادې همداشان داسې نور مشابه قوانين ولسمشر ته قانوناً صلاحيت ورکوي ترڅو د لاندې کړنو لپاره افغانستان سره مرستې وکړي.

**(۱) بيړنی بشري اړتياوې**- ترڅو د افغانانو بيړنی اړتياوې پوره کړي لکه په لاندې برخو کې مرستې:

لومړی: بيړني خواړه، سرپناه او روغتيايي مرستې

دوهم: د څښلو پاکې اوبه او د حفظ الصحې لپاره

دريم: د ناروغتيا څخه وقايه، د ماشومانو د واکسين په شمول، د معالجې خواړه، د مور او ماشوم لپاره روغتيايي خدمتونه، او مکروبي ناروغی، څارنه او تداوي

څلورم: د ورکو عزيزانو موندنه او د کورنيو بيا يوځای کولو خدمتونه او

پنځم: د ماينونو او نورو ناچاودو مهماتو پاکول

**(۲) د کډوالو او کورنيو بې ځايه شويو خلکو بيرته راستنول او هغوی ته د اوسيدلو لپاره د ځای برابرول**- په بهر او په هيواد کې د دننه کډوالو او بې ځايه شويو خلکو سره مرسته که چېرې غواړي چې بيرته هيواد ته راستانه شي، او د هغوی په ټولنه کې د بيا جذبولو سره مرسته، دغه مرستې په لاندې ډول دي

لومړی: هغه مرستې چې په پورته ذکر شوي (۱) شميرې کې ورڅخه يادونه وشوه.

دوهم: ټولنو سره مرستې، د هغه کډوالو په شمول چې ګاونډيو هيوادونو کې اوسيږي او د کډوالو يوه لويه شميره يې جوړه کړې ده. د دغه مرستو موخه داده چې ټولنيز،روغتيايي، او ښوونيز خدمتونه د سره ورغول شي اويا ورته پراختيا ورکړي. ځکه چې د کډوالو په کتلوي ډول بيرته راستنيدني دغه برخې اغيزمنې کړيدي.

دريم: نړيوالو موسساتو او کوربه هيوادونو سره مرسته ترڅو د کډوالو لپاره امنيت تامين کړي اويا هم عام کډوالو له جنګياليو اوهغه خلکو څخه چې د وسله والو ډلو او يا نور تروريستي ګروپونو سره اړيکې ولري او يا يې غړي وي، او يا هم هغه خلک وي چې د متحده آيالاتو د مرستو مستحق نه وي وځاري او ترې جلا يې کړي. او،

څلورم: د هغه کډوالو سره مرسته چې په داوطلبانه ډول غواړي وطن ته راستانه شي او په افغانستان کې دننه په ټولنه کې بيا جذب کړای شي، او د هغه کډوالو سره دوامداره مرسته چې بيرته نه شي راستنيدای او يا هم نه غواړي راستانه شي، او د هغه کډوالوسره بشر دوستانه مرستې چې دننه په هيواد کې بې ځايه شوي وي، د هغه کډوالو په شمول چې د ملګروملتونو د کډوالو د دفتر له لارې او يا د داسې نورو دفترونو چې د کډوالو سره مرستې ترسره کوي غواړي بيرته راستانه شي.

**(۳) د نشه يي توکو په ضد مباررزه:** الف: د کوکنارو د کښت له مینځه وړلو د هیروینو د تولید مخنیوي او په ټولیز ډول په افغانستان او سیمه کې د مخدره توکو دعرضې او تقاضا کمولو لپاره د مرستو ځانګړي کول، او په خاص ډول په لاندې برخو کې په مرستو باندې ټینګار:

لومړی: د کوکنارو او اپیمو له مینځه وړل، د بدیل معیشت د پروګرام رامینځ ته کول، په هغه سیمو کې چې کوکنار کرل کیږي له بزګرو څخه يي د غیرنشه يي توکو د پیداورو پیرودنه، د ژر اغیز شیندونکو عامه کارونو رامینځ ته کول ترڅو د کارګرو پام د کوکنارو په پټوکې د کار څخه راوګرځوي، د داسي پروژو پیلول ترڅو د نشه يي توکو په تولید، پروسس اوقاچاق باندې متمرکزې وي، ترڅو هغه چاته چې د نشه يي توکو په مخنیوي کې مرسته اوهمکاري کوي امتیازات ورکړل شي.

دوهم: په حکومتي چوکاټ کې د نشه يي توکو پرضد د ارګانونو رامینځ ته کول لکه د مخدره توکو دکنټرول عالي دولتي کمیسیون، د دغه ارګانونو لپاره د ښوونیزو پروګرامونو او تجهیزاتو برابرول، همداشان په افغانستان کې د مخدره توکو د کرهنې،تولید او قاچاق پرضد د قوانینو جوړول او تنفیذول.

دریم: په افغانستان او سیمه کې د ګمرکاتو، پولیسو، اونوروهغه سرحدي ارګانونو سره مرسته ترڅو د مخدره توکو د مخنیوي لپاره ښوونیزو پروګرامونو جوړکړي اوهمداشان ورته وسایل برابرکړي، په ځانګړي ډول د نشه يي توکو او د هغه کیمیاوي موادو چې د هیروینو په جوړولو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، مخنیوی کول په افغانستان او سیمه کې.

څلورم: په کلني ډول د کوکنارو د کښتونو په اړوند سروي ګانې او ستراتیژیکه مطالعه ترڅو د کوکنارو د کښت او کرکیلې په هکله معلومات حاصل کړای شي، او

پنځم: په افغانستان کې دننه او د راستیندونکو کډوالو ترمینځ د مخدره توکو د غوښتنې یا تقاضا کمول.

ب: د ۲۰۰۳ کال څخه تر ۲۰۰٦ کال پورې د هرکال لپاره پنځلس میلیونه ډالره بودجه مناسبه ده چې د رئیس جمهور لخوا د ملګروملتونو د نشه يي توکو د مخنیوي پروګرام ته ورکړل شي، او د هغه کارونو لپاره چې د پورته ذکر شوي الف پاراګراف د لومړۍ څخه ترپنځمې شمیرې پورې ورڅخه يادونه شوی مصرف شي. دغه اندازه پیسې د دی قانوني لایحې په واسطه منظورې شوي دي او د هغه پیسو څخه بیلې دي چې د نشه يي توکو مخنیوي لپاره د کومې بلې مرجع څخه اخیستل شوې او یا منظورې شوي وي.

**٤- د خوړو بیا تامینول، د کرهنې د سکتور بیا رغاونه، په روغتیایي چارو کې بهبود، او د بنسټیزو زیربناګانو بیا جوړونه.**

په افغانستان کې بازارونو ته د لاس رسي، د خوړو د مارکیټونو د زیاتوالي، د زراعتي سکتور د بیا رغاونې د پخوانیو جنګیالیو، بیرته راستنیدونکو کډوالو، او په هیواد کې بې ځایه شویو ته د کارموندنې، د روغتیایي حالاتو د ښه کولو او په افغانستان کې د زیربناګانو د جوړولو لپاره د لاندې مرستو برابرول:

الف: په کرهنیزه برخه کې د اوبو لګولو د سیستمونو په شمول د زیربناګانو جوړول او په کلیوالو سیمو کې د سړکونو جوړول.

ب: د پورونو د مودې اوږدول

ج: د اړینو زراعتي محصولاتو چمتو کول لکه، تخمونه، وسایل، او کیمیاوي سره همداشان د تکثیر، تصدیق او د محصولاتو د توزیع سیستمونو پیاوړي کول

د: د شته اوبو د کیفیت او کمیت د لاښه کولو، د موجوده اوبه لګولو د سیستمونو بیا احیا او د دغه سیستمونو د سیمه ایزو ظرفیتونو لوړوالی.

هـ: د بازارونو په پراختیا او په نورو میکانیزمونو سره د مالدارۍ پراختیا او د مالدارۍ تعمیم ترڅو د پخوانیو مالداریو چې د جګړو او وچکالیو له امله زیانمنې شوي دي ځای ونیسي.

و: د ماینونو په هکله د خلکو پوهاوی، د ماین پاکۍ پروګرامونه، او داسې پروګرامونو رامینځ ته کول چې د ماینونو د قربانیانو، یتیمانو او کونډو سره مرسته وشي.

ز: د کوچنیو او شیدو خوړنکو ماشومانو لپاره د خوړو برابرول، واکسیناسیون، د ویټامین آ تطبیق، د اسهالاتو او تنفسي ناروغیو تداوي او وقایې لپاره د منظمو پلانونو رامینځ ته کول.

ح: د داسې پروګرامونو رامینځ ته کول چې د هغوی په ترڅ کې د مور او ماشوم روغتیایي پالنه وشي او د مور او ماشوم د مړینې کچه راټیټه کړي.

ط: د حفظ الصحي او د څښاک د اوبو د ښه والي لپاره د پروګرامونو جوړول ترڅو د هغوی له لارې د مکروبې ناروغیو لکه ملاریا او توبرکلوز یا نورې رنځ تداوي او وقایه شونې شي.

ي: د روغتیایي خدمتونو د رسولو لپاره د منظمو پروګرامونو رامینځ ته کول لکه دروغتیایي کلینیکونو، او داسې نورو بنسټیزو روغتیایي مرکزونو بیا رغاونه چې په ځانګړې ډول پکې د یتیمو ماشومانو روغتیا ته پاملرنه وشي.

ک: د هستوګنځیو د برابرولو لپاره پروګرامونه، (لکه د پوځي عملیاتو په وخت کې زیانمن شویو کورونو بیا ترمیم) د ښاري زیربناګانو بیا رغاونه او په ښاري سیمو کې د بنسټیزو خدمتونو ملاتړ. او

ل: د وسله والو جنګیالیو بې وسلې کول، غیرپوځي کول او ټولنې سره بیا یوځای کول په ځانګړې ډول ماشوم سرتیري.

**۵- په افغانستان کې یو تلپاتې (ولسواکی) ملت-دولت رامینځ ته کول.** الف: د افغان حکومت د ظرفیتونو د لوړولو لپاره مرستې ترڅو د خلکو اړتیاوو ته مثبت ځواب ووایي او دموکراتیکو او په آزاد بازار د ولاړو نهادونو رامینځ ته کول لکه، په لاندې برخو کې مرستو ته تمرکز ورکول:

لومړی: د هغه نړیوالو موسسو ملاتړ کومې چې د افغان حکومت سره د ملکي مشاورینو په برابرولو کې مرسته کوي.

دوهم: د یوې تعلیم یافته ټولنې رامینځ ته کول د لومړنیو تعلیمي مرکزونو په رامینځ ته کول سره چې ډیر تاکید یتیمو ماشومانو او یا هم په نورو ماشومانو وشي.

دریم: د داسې پروګرامونو رامینځ ته کول چې د هغوی په ترڅ کې افغان حکومت وتوانیږي چې ښوونکي استخدام کړي او ځانګړې تاکید پکې په ښځینه ښوونکو وشي.

څلورم: د داسې پروګرامونو چمتوکول چې د هغوی له لارې افغان حکومت وکولای شي چې داسې یو تعلیمي نظام رامینځ ته کړي چې د ماینونو د خبرتیا، د خوړو د روغتیایي توب، زراعتي ښوونې، د بشري حقونو لکه مذهبي آزادي او ټولنیزې ښوونو په هکله مالومات پکې ځای شوي وي.

پنځم: د افغان حکومت سره مرسته ترڅو یو نوی اساسي قانون، نور حقوقي چوکاټونه او داسې نوښتونه رامینځ ته کړي چې په افغانستان کې د قانون حاکمیت پلې کړي. لکه د مذهبي آزادۍ په رسمیت پیژندل په اساسي قانون او نورو حقوقي چوکاټونو کې.

شپږم: په حکومتي ادارو کې د روڼتیا یا شفافیت، حساب ورکولو، او مشارکتي نظام رامینځ ته کولو ملاتړ لکه د فساد په ضد د مبارزې پروګرامونه او همداشان داسې نور پروګرامونه ترڅو د ښې حکومت دارۍ سبب شي.

اوم: د خپلواکه او آزداو مطبوعاتو ملاتړ.

اتم: په ملي، سیمه ایزه او حکومتي کچه د هر توکم یا نژاد څخه د ښځو د نقش او ونډې د پراختیا ملاتړ.

نهم: د مدني ټولنو د پیاوړتیا ملاتړ ترڅو د بشري حقونو د ښه والي سبب شي لکه، مذهبي ازادي، د بیان آزادي، او د ټولنو آزادي، همداشان د بشري حقونو د څارنې ملاتړ.

لسم: په افغانستان کې د نړیوالو او ملي هڅو ملاتړ چې د بشري حقونو د تیریو چې د طالبانو لخوا ترسره شوي وي او یا د هغوی د مخالفینو یا هم د تروریستي ګروپونو لخوا چې په افغانستان کې فعالیت کوي ترسره شوي وي. چې دغه ملاتړ کې به د بشري حقونو د تیریو په اړوند د عدلي معایناتو لپاره د پاتې شونو راغونډول هم شامل وي.

یوولسم: د ملي، سیمه ایزو او محلي ټاکنو ملاتړ او د سیاسي ګوندونو په رامینځ ته کولو کې مرسته.

دولسم: په ملي، سیمه ایزه اومحلي کچه د اغیزمنو عدلي ادارو رامینځ ته کول، لکه د مسؤولو او په ټولنیز بنسټ ولاړ د ملي پولیسو ځواک رامینځ ته کول.
دیارلسم: د مرکزي بانک د رامینځ ته کولو ملاتړ همداشان د مرکزي بودجوي چارواکو ملاتړ. او
څوارلسم: د مهمو سړکونو او د اورګاډو د پټلیو د پیژندني ملاتړ کوم چي د اقتصاد د نوښت لپاره په افغانستان او سیمه کې مهم ګڼل کیږي. د دغه سړکونو او پټلیو بیا رغاونه او د ګمرکي خدماتو تاسیس او د ګمرک د مامورینو ښووني او روزني سره مرسته.

ب: د ملي، سیمه ایزو او محلي انتخاباتو د ملاتړ لپاره د عنعنوي لویې جرګې د راغوښتلو په موخه او د سیاسي ګوندونو د پرمختګ چې د (الف په پراګراف کې په یوولسمه فقره کې ذکر شو) ولسمشر ته مناسبه ده چې د ۲۰۰۳ کال څخه تر ۲۰۰۵ پورې د هرکال لپاره لس میلونه ډالره بودجه بیله او منظوره کړي.

**٦. آزاد بازار یا د مارکیټ اقتصاد:** د ازاد بازار د رامینځ ته کولو ملاتړ، د خصوصي مالي موسساتو تاسیس، د بهرنیو مستقیمو پانګونو لپاره د پالیسیو جوړولو، د مخابراتي بنسټیزو زیربناګانو رامینځ ته کولو او د سوداګرئ د پراختیا او د سیمي د هیوادونو او متحده ایالاتو سره د سوداګریزو چارو د غوړیدا په ملاتړ د پالیسیو ترتیبول لکه په لاندې برخو کې:

الف: د بهر څخه د هغه افغانانو د راستنیدو تشویق چې بهر اوسیږي او په ازاد بازار او سوداګرئ کې د پوره مهارت لرونکي وي.

ب: د مالي موسساتو تاسیس، لکه د پورونو اتحادیې، کوپراتیفونه، او داسي نور نهادونه چې کوچني اقتصادي کریډیټونه برابر کړي او یا د بیوزلو خلکو لپاره د عایداتو تولیدونکي پروګرامونه مخکې یوسي. چې ځانګړې تاکید یې په ښځینه طبقه وي.

ج: د سیمي د هیوادونو سره د سوداګرئ د پراختیا لپاره د لارې هوارول،

د: د کارګرانو د اساسي حقونو ته د درناوي زیاتیدنه او ښه کول او همدا شان د کوچني ماشومانو څخه د کټي اخیستني مخنیوی.

هـ: د لاسي صنایعو پرمختګ او د داسي نورو کوچنیو او سپکو صنایعو د رشد ملاتړ

و: د کابل او په افغانستان کې د نورو لویو ښارونو د بیا ودانولو لپاره د مالي پروګرامونو اوامکاناتو برابرول

**۷. د ښځو او انجونو سره مرستي**

**الف: د مرستو اهداف یا موخې:** د ښځو اوانجونو سره په سیاسي، بشري حقونو، روغتیایي پاملرنه، ښوونه او روزنه، تعلیمات، امنیت او د پناه ځایونو د برابرولو په برخوکې مرسته چې په ځانګړې توګه به مرستي په لاندې برخو باندې متمرکزې وي:

لومړی: د طبي تجهیزاتو،او دواګانو په چمتوالي او د روغتیایي مرکزونو د جوړولو ملاتړ، او یا د روغتیایي پاملرونو د احیا او بیا رغاوني لپاره د کلینیکونو جوړول ترڅو د ښځو، کوچنیو ماشومانو او شیده خوړونکو ماشومانو د صحي حالت د ښه والي سبب شي.

دوهم: د ښځو او ماشومانو لپاره د واکسیناسیون او معافیت د پروګرامونو پراختیا.

دریم: د انجونو لپاره د لومړنیو او ثانوي ښوونځیو تاسیسول، پرمخ بیول او پراخه کول، چې په نصاب کې یې ریاضي، ساینس، او د ژبو زده کړي شاملې وي.

څلورم: د ښځو لپاره د تخنیکي او مسلکي روزنیزو پروګرامونو رامینځ ته کول همداشان د عایداتو د لاس ته راوړلو لپاره د پروژو تاسیسول.

پنځم: د انجونو لپاره د ځانګړو ښوونیزو موکو او ښوونځیو برابرول چې د طالبانو لخوا یې مخنیوی شوی و، همداشان د انجونو د توانایي په صورت کې هغوی ته د لوړو زده کړو زمیني برابرول.

شپږم: د داسي پروګرامونو جوړول او تطبیقول ترڅو ښځې او انجوني د جنسي تیریو، اختطاف، قاچاق، زبیښاک او د بشري مرستو دعرضي په وخت کې له جنسي تبعیض څخه وساتي.

اوم: د هغه انجونو او ښځو لپاره بیرني پناه ځایونه برابرول چې د تاوتریخوالي د خطر سره مخامخ وي.
اتم: د کونډو ښځو سره د بشري مرستو زیاتوالی چې دغه طبقه ښځې د جګړه ځپلي افغانستان یو زیات شمیر وګړي تشکیلوي.
نهم: د ښځو په مشرتابه ترسره کیدونکو کارونو څخه، او همداشان د هغه نا دولتي موسساتو څخه ملاتړ چې ښځو او ماشومانو ته د خدماتو په رسولو کې تجربه لري.
لسم: د ښځو د حقونو او د بشري حقونو د نړیوالو معیارونو په اړوند د معلوماتو خپرول په ټول افغانستان کې، لکه مذهبي آزادي، د بیان آزادي، او ټولنیزې آزادۍ.
یولسم: ملي پولیسو او حقوقي پرسونل ته د ښځو د حقونو په اړوند روزنیز پروګرامونه جوړول، او
دولسم: د افغانستان د بشر د حقونو د کمیسیون څخه ملاتړ ترڅو د ښځو او د بشري حقونو د حالت په ښه والي کې هڅه او هاند وکړي په ځانګړي ډول، د مذهبي آزادۍ حق، د بیان آزادي، او ټولنیزې آزادۍ او د ښځو د حقونو د تیري او بشري حقونو د تیري څخه کلکه څیړنه او څارنه وکړي.

**ب: د مالي وجې برابرول:** له ۲۰۰۳ مالي کال نه تر ۲۰۰٦ مالي کال پورې په هر کال کې

لومړی: ولسمشر ته مناسبه ده چې د هر کال لپاره پنځلس میلیونه ډالره د ښځو دچارو وزارت لپاره بیلې او منظورې کړي. او
دوهم: ولسمشر ته مناسبه ده ترڅو د افغانستان د بشري حقونو کمیسیون لپاره پنځه میلیونه ډالره بودجه منظور ه کړي.

**ج: د نورو مالي وجوهاتو سره د دغې وجې تړاو:** په (ب) پاراګراف کې ذکر شوی بودیجه د هغه نورو وجوهاتو څخه بیل دی کوم چې د دی هدف لپاره د کومې بلې مرجع څخه تصویبیږي.

**محدودیت:**

**(۱) په ټولیز ډول-** هغه اندازه پیسې چې ددی عنوان لاندې ذکر کیږي (پرته له هغه اندازې څخه چې د مرستو لپاره د لومړی شمیرې څخه تر دریمې او د (و) تر(ح) فقرې پورې د (٤) شمیرې لاندې ذکر شوي دي به هله ورکول کیږي که چیرې ولسمشر کانګرس ته وښایي او ثابته یې کړي چې په هماغه مالي کال کې په افغانستان کې اساسي قانون رامینځ ته شوی، او دموکراتیک حکومت مینځ ته راغلی د بشري حقونو په برخه کې هم پرمختګ شوی وي.
**(۲) د لغو یا فسخې حق:**
**الف: په ټولیز ډول-** ولسمشر کولای شي د لومړي پاراګراف تطبیقول لغو کړي که چیرې وښایي او ثابته کړي چې دغه لغو د امریکې د متحده ایالاتو د ملي ګټو په نظر کې نیولو سره ترسره شوې.
**ب: د اثبات یا تصدیق محتویات-** کله چې اثبات لیک کانګرس ته د الف پاراګراف په نظر کې نیولو سره لیږل کیږي باید ولسمشر د لومړي پاراګراف د لغو کیدلو او نه تطبیقیدلو لاملونه پکې په ښکاره ډول ذکر کړي وي.

**د پانګونې مالي وجه:**

**(۱) د بودجې د تخصیصولو قانونیت-** د هغه مالي وجوهاتو څخه علاوه چې د دغسې اهدافو لپاره له بلې کومې لارې منظورې شوې وي. په افغانستان کې د پانګونې لپاره د درې سوه میلیونه ډالرو تخصیصول د ولسمشر لپاره قانونیت لري او د دغه موضوع قانون احکام د شرقي اروپا د دموکراسۍ د ملاتړ د قانون چې په ۱۹۸۹ کې رامینځ ته شوی و په ۲۰۱ ماده کې ذکر شوي دی. (خو د همدغې مادې په ب فقره کې د بودجې تخصیصولو څخه په استثنا) نو په دغه اساس د پورته ذکر شوې بودجې قانونیت ثابت دی.
(۲) د مالي وجوهاتو څخه د ګټې اخیستلو موده- دغه تخصیص شوی پیسې ترهغه وخته پورې چې ټولې مصرف شي ورڅخه ګټه اخیستل کیدای شي. یعنې موده ورته محدوه نه ده.

**۱,٤ د مرستو انسجام:**

الف: په ټوليزه توګه- دولسمشر څخه په کلکه غوښتل کيږي ترڅو د بهرنيو چارو د وزارت په چوکاټ کې يو انسجام يا همغږي کوونکی موظف کړي ترڅو چې د لاندې کارونو لپاره مسؤول وي:

لومړی- د داسې يوې جامع تګلارې جوړول ترڅو په افغانستان کې د متحده آيالاتو ګټې خوندې کړي.

دوهم- د داسې پروګرامونو او پاليسيو جوړول ترڅو د متحده ايالاتو د مختلفو ادارو ترمينځ د دغه طرح شويو پاليسيو په مخ ته وړلو کې همغږي او يا انسجام رامينځ ته کړي.

دريم- د نورو هيوادونو او نړيوالو موسساتو سره د افغانستان سره په مرستو کې د انسجام او همغږئ رامينځ ته کول

څلورم- په دې موضوع چې د افغانستان سره مرستې د دې سرليک سره سازګارې دي اطمينان حاصلول

بنځم – د هغه ادارو څخه چې د افغانستان سره د مرستو مسؤوليت په غاړه لري کلکه څارنه او اطمينان حاصلول چې دغه ادارې د ښه مديريت او د مرستو دت طبيق وړتيا لري.

شپږم- د افغانستان سره د متحده آيالاتو د مرستو په اړوند د متحده آيالاتو د حکومت په مختلفو ادارو کې د پاليسي او پروګرامونو په اړوند راولاړو شويو لانجو هوارول.

ب: د مرستو د همغږي کوونکي موقف او رتبه- په(الف) پاراګراف کې د همغږي کوونکي شخص موقف او رتبه به د يو سفير د رتبې او موقف په اندازه وي.

**۱۰۵ د کوکنارو په توليدي سيمو کې د همکاريو د پراختيا په هکله د کانګرس نظريات.**

د کانګرس دا نظر دی چې ولسمشر بايد لاندې ټکي په نظر کې ولري:

(۱) که چيرې د متحده آيالاتو، د افغانستان د حکومت او د نړيوالو موسساتو سره په هغو سيمو کې چې کوکنار پکې کرل کيږي د کوکنارو د کښت،او قاچاق په مخنيوی کې همکاري اومرسته ونه شي نو ولسمشر کولای شي چې دامکان ترحده د داسې طرزالعمل څخه کار واخلي چې د متحده آيالاتو دوه اړخيزه مرستې بندې کړي او ياهم د څو اړخيزه مرستو سره مخالفت وکړي، خو په داسې حال کې چې د دغه مرستو بنديدل وروسته بيا د همکارئ روحيه رامينځ ته کړي.

(۲) کيدای شي چې د متحده آيالاتو دوه اړخيزه مرستې (څواړخيزه مرستو تقويه) چې دپورته ذکر شوي پارګراف په پايله کې بندې شوې وي، د کوکنارو يا ترياکو په داسې توليدي سيمه کې چې هلته لا مرستې جاري وي يعني همکاري موجوده وي ووېشل شي.

(۳) د پورته ذکر شويو موخو د لاس ته راړولو په خاطر بايد د کوکنارو يا ترياکو د توليدونکو اونه توليدونکو سيمو ترمينځ پوله په واضح ډول تعريف او وپيژندل شي.

**۱۰۶. اداري احکام:**

الف: په اداري برخه کې د اجرا وړ احکام يا قوانين: - د۱۹٦۱ ميلادي کال د بهرنيو مرستو د قانوني لايحې د دريمې برخې د لومړی او دوهم څپرکي ټول احکام پرته له هغه احکامو چې له دې عنوان پورې اړوند نه وي د دې مرستو په برابرولو کې د تطبيق وړ دي، او دغه مرستې بايد کټ مټ د همدغه قانوني لايحې د اقتصادي مرستو د څپرکي د لومړئ برخې پربنسټ ووېشل شي.

ب: د افغاني الاصله امريکايانو د مهارتونو څخه ګټه اخيستنه: - د هغه مرستو په برابرولو کې چې ددی سند پر اساس يې قانونيت موندلی ولسمشر بايد لاندې ټکو ته پاملرونکی اوسي:

(۱) د شونتيا ترحده اعظمي کوښښ وشي چې د افغاني الاصله امريکايانو د خدمتونو څخه کوم چې د دغه مرستو په اړونده برخو کې د مهارت درلودونکي وي ګټه واخيستل شي.

(۲) د هغه فعاليتونو د سرته رسولو لپاره چې د دې سند له لارې يې قانونيت موندلی دی بايد اعظمي کوښښ وشي چې د قراردادونه او مالي وجوهاتو په ورکولو کې يې افغاني الاصله امريکايان تشويق شي چې اشتراک پکې وکړي او يا هم (هغه موسساتو ته ورکړل شي چې ډيری کارکوونکي يې افغاني –امريکايان وي.)

ج: د تولیدي تجهیزاتو برابرول، د کالجونو او پوهنتونونو څخه ګټه اخیستل:- د امکان ترحده باید ولسمشر د دې مرستو په برابرولو کې لاندې ټکي په نظر کې ولري:

(۱) د افغانستان د بیا رغاونې لپاره د هغه تولیدي وسایلو چې اضافي وي اویا ترې اوس ګټه نه اخیستل کیږي او د امریکې د سوداګرۍ (کوچنیو سوداګریو) پورې اړوند وو، برابرول تشویق شي.

(۲) د هغه څیړنو او تحقیقاتو څخه چې د امریکې د متحده ایالاتو د کالجونو او پوهنتونونو لخوا ترسره شوي وي او یا هم د هغه مسلکي او تخنیک پوه کسانو څخه ګټه اخیستنه چې د زراعت او کلیو پراختیا په برخه کې د مهارت درلودونکي وي.

د: اداري لګښتونه: - د هغه مرستو چې د دې سند له لارې منظورې شوي دي ۷ په سلوکې به یې د فدرالي ادارو اونورو نهادونو لخوا چې د مرستو په برابرولو کې لاس لري د اداري لګښتونو په نامه مصرف کیدای شي.

هـ: څارنه یا نظارت:

(۱) عمومي مالي څارونکی: د دې مرستو برابرول به د عمومي مالي څارونکي لخوا د څارنې او نظارت لاندې ونیول شي.

(۲) د USAID عمومي پلټونکی: د متحده آیالاتو د نړیوال پرمختګ د ادارې عمومي پلټونکی به دمالي مسایلو، تفتیش او څیړنه وکړي چې مرستې د مصارفو په اندازه په دقیق ډول ترسره شوي که نه.

و: د افغانستان د حکومت سره په مستقیم ډول د مرستو لومړیتوب: - د امکان په صورت کې، کومې مرستې چې دې سند تصویب کړیدي باید د افغانستان د حکومت سره ترسره شي (په ځانګړي ډول مربوط وزارت سره)

**۱۰۷. د نورو چارواکو سره اړیکې:**

هغه چارواکي یا مقامات چې د دې قانوني لایحې د ویشلو چارې په غاړه لري باید د ټولو هغه چارواکو سره اړیکې ولري چې د افغانستان د حکومت سره مرسته ترسره کوي.

**۱۰۸. بودجوي تخصیص ته قانوني بنه ورکول:**

الف: په ټولیزه توګه- ولسمشر ته قانوني صلاحیت ورکول کیږي چې د دې عنوان د محتویاتو د پرمخ بیولو لپاره (پرته د ۱۰۳ شمیرې د (ج) عنوان څخه) د ۲۰۰۳ کال نه تر ۲۰۰٦ پورې په هرکال کې څلورسوه پنځه ویشت میلیونه ډالره تخصیص کړي.

ب: د مالي وجوهاتو څخه د ګټې اخیستلو موده- د الف په شمیره کې د تخصیص شویو پیسو قانونیت د لاندې ټکو پورې اړوند دی:

(۱)- دغه تخصیص شوی پیسې ترهغه وخته پورې چې ټولې مصرف شي ورڅخه ګټه اخیستل کیدای شي. یعنې موده ورته محدوه نه ده. او

(۲) او د هغه مرستو لخوا چې د عین هدف له پاره د بلې مرجعې څخه لاس ته راغې څخه بیلې دي. لکه د خوړو لپاره د مرستو پیسې چې د ۱۰۳ شمیر د الف په لومړي عنوان کې ذکر دي، هغه مرستې چې ۱۹٥٤ کال د زراعتي تجارت د ودې د قانوني لایحې په دویم سرلیک کې راغلې، د پرمختګ لپاره د خوړو د ۱۹۸٥ قانوني لایحې او باالاخره د ۱۹٤۹ کال د کرهنې د قانوني لایحې د ٤۱٦ مادې د ب بند کې ذکر شوي مرستې.

**دوهم سرلیک--- د افغانستان او یا بل کوم ځانګړي بهرني هیواد یا نوور نړیوالو مؤسسو لپاره پوځې مرستې**

**۲۰۱ـ په انتقالي دوره کې د امنیت ساتنې لپاره ملاتړ** کانګرس په دې نظر دی چې د انتقالي دورې څخه تر یو پراخ بنسټه، ګڼ ملتیزه، د جنس له نظره حساس او د ټولو ملتونو استازي حکومت د رامینځ ته کیدلو پورې متحده آیالات د افغانستان د حکومت سره په لاندې برخو کې مرسته وکړي:

(۱) د ملکي حکومت او مرکز څخه یوې کنترول کیدونکي ملي اردو ته وده ورکول چې بشري حقونو ته درناوی ولري او د ماشومانو څخه د سرتیرو اوجنګیالیو په توګه د کاراخیستنې څخه مخنیوی وکړي.

(۲) د ملي مسلکي پولیسي ځواک رامینځ ته کول او روزنه چې بشري حقونو ته درناوی ولري او

(۳) په افغانستان کې د یو ګڼ ملتیزه امنیتي ځواک تشکیلول

**۲۰۲. د مرستو قانونیت:**

الف: د صلاحیت استعمال-

(۱) په ټولیزه توګه- ولسمشر اختیار لري ترڅو د ۱۹۶۱ کال د بهرنیو مرستو د لایحې د ۵۰۶ مادې (22U.S.C 2318) پربنسټ دفاعي تجهیزات، دفاعي خدمتونه، او پوځي روزنې په لاندې ډول وکاروي.

الف: د افغانستان د حکومت لپاره د همدې مادې پر اساس

ب: د مستحقو بهرنیو هیوادونو او مستحقه نړیوالو موسساتو لپاره د دی مادې همداشان د ۲۰۳ او ۲۰۵ مادې پربنسټ.

(۲) هغه صلاحیت چې د قرارداد او یا نورو مسایلو په اساس رامینځ ته کیږي. هغه مرستې چې د (۱) شمیرې په اساس قانوني بڼه خپلوي اوهمداشان د پوځي وسایلو، دفاعیي خدمتونو، د مخدره توکو پرضد د مبارزې، د جرایمو د کنټرول، او د پولسیو د روزنې او داسې نورو مرستو او پوځي تعلیماتو او روزنو په شمول د قراردادونو په وسیله قانوني بڼه اختیاروي.

ب: د مرستو اندازه: مجموعي مقدار (چې د ۱۹۶۱ کال د بهرنیو مرستو دلایحې په ۶٤٤(m) کې تعریف شوي) مرستې چې د الف شمیرې لاندې ذکر شوي دي د درې سوه میلیونه ډالره څخه نه زیاتیږي، خو د دغه مرستو اندازه به هله ډیره شي چې د ۲۰٤ (ب) (۱) شمیرې د مرستو د قانوني کیدلو د لاندې اضافي تخصیص ورکړل شي. او د ۱۹۶۱ کال د بهرنیو مرستو د لایحې د ۵۰۶ مادې د هر ډول محدودیت د لاندې به و نه شمیرل شي. (22U.S.C 2318).

**۲۰۳- په شرایطو برابر هیوادونه او په شرایطو برابرې نړیوالې موسسې.**

(الف) په عمومي توګه، پرته له هغه هیوادونو او موسساتو چې د (ب) په شمیره کې ذکر کیږي، نور ټولو بهرني هیوادونه او نړیوالې موسسې د ۲۰۲ شمیرې د مرستو د ترلاسه کولو جوګه دي که چیرې:

(۱) دغه هیواد او یا موسسه په افغانستان کې په پوځي، سوله ساتنې، او د نظم دساتنې په برخه کې ګډون کوي، او موخه یې په دغه هیواد کې د تلپاتې سولې او امنیت راوستل وي. او

(۲) دغه ډول مرستې یوازې او یوازې د هغه کړنو او عملیاتو لپاره چې په افغانستان کې ترسره کیږي، وشي.

(ب) استثنا: هیڅ یو د هغو هیوادونو څخه چې حکومت یې د بهرنیو چارو د وزارت لخوا په ګوته شوی وي چې د بشري حقونو پر ضد په تاوتریخوالي کې په لویه پیمانه لاس لري او یا د نړیوال تروریزم څخه ملاتړ کوي د ۱۹۶۱ میلادي کال د بهرنیو مرستو د لایحې د ٦۲۰ الف مادې (22 U.S.C. 2371) د ۱۹۷۹ د صادراتو د اداره کولو د قانوني لایحې د (6ix 1) مادې او د وسلو د صادراتو د کنټرول د ٤۰ (d) مادې د (22 U.S.C. 2780 d) پر بنسټ حق نه لري ترڅو په ۲۰۲ شمیره کې ذکر شوې مرستې ترلاسه کړي.

**۲۰٤- د مرستو بیرته مستردیدنه:**

(الف) په ټولیز ډول – دفاعیي وسایل، دفاعیي خدمتونه، او پوځي زده کړې او روزنیز پروګرامونه چې د ۲۰۲ شمیرې د الف په دویمه برخه کې ورڅخه یادونه شوې ده، دفاع وزارت ته د بیرته مستردیدو پرته په واک کې ورکول کیږي. په استثنا د هغه حالاتو چې دغه مرسته د (ب) د برخې د (۱) شمیرې د لارې یې قانونیت موندلی وي.

(ب) د مرستو قانونیت:

(۱) د ولسمشر لپاره دغه موضوع قانوني ګڼل کیږي چې داسې مقدار مرستې، یا ارزښتناکه شیان چې مخکې تخصیص ورکړل شوې وې بیرته مستردې شي (لکه څنګه چې د ۱۹۶۱ میلادي کال د بهرنیو مرستو په ٦٤٤(m) ماده کې ورڅخه تعریف شوی دی) چې په دغه مرستو کې د دفاعیي وسایل، دفاعیي خدمتونه او پوځي زده کړې هم راځي چې د ۲۰۲ شمیرې د الف په لومړې برخه کې ورڅخه یادونه شوې ده.

(۲) مرستو ته لاسرسی – هغه اندازه مرستې چې د (۱) شمیرې د لارې یې تخصیص قانونیت موندلی دی، د هغه پیسو څخه بیلې دې کومې چې د همدې موخې لپاره د کومې بلې لارې قانونیت پیداکوي.

**۲۰۵- د کانګرس لپاره د خبرتیا اړتیاوې:**

(الف) صلاحیت: ولسمشر صلاحیت لري چې د دې سرلیک لاندې ذکر شوې مرستې، هغه وخت چې پوه شي چې د متحده آیالاتو د داخلي امنیت، او ملي منافعو د تامین لپاره ضروري دي، هر هغه هیواد یا نړیوالې موسسې ته چې په شرایطو برابر وي ورکړي، او د کانګرس د نړیوالو اړیکو کمیسیون، د نماینده ګانو د مجلس د تخصیص کمیسیون، او د بهرنیو اړیکو کمیسیون، او همدغه راز د سنا د مجلس د مرستو د تخصیص کمیسیون پرې په ورستیو پنځلس ورځو د مخه خبر کړي.

(ب) خبرتیا: هغه د خبرتیا راپور چې په الف برخه کې یاد شو، باید په محرم او نا محرم ډول تسلیم کړای شي. او باید د پیسو د اندازې او ډول همداشان د مرستې د موخې په اړوند، او هغه فعالیت چې د مرستې اخیستونکی کړی او یا ژمن دې چې و یې کړي ټول معلومات پکې ذکر شوي وي.

**۲۰۶- افغانستان ته د بشر دوستانه او نورو مرستو رسونه د امن په فضا کې همداشان د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک پراختیا**

(الف) موندنې، کانګرس لاندې موندنې لري:

(۱) ولسمشر د اخبره اعلان کړه چې متحده آیالات به د افغانستان لپاره د پام وړ مرستې برابرې کړي چې دغه هیواد بیا د تروریستانو په پټن ځای بدل نه شي.

(۲) بشردوستانه او د بیارغونې لپاره مرستې چې د نړیوالې ټولنې لخوا کیږي،هیواد ته د کډوالو د بیرته راستنیدو او په افغانستان کې د راتلونکې لپاره د ثبات د راوستلو لپاره ضروري دي.

(۳) په افغانستان کې د ځواکمن ثبات را مینځ ته کول د یو ښه امنیتي چاپیریال له لارې، د افغانستان د حکومت د کړنو او د دوديزې لويې جرګې د پروسې لپاره چې د یو دایمي افغان حکومت د رامینځ ته کیدو سره به مرسته وکړي ضروري ګڼل کیږي. او همدغه راز په افغاني ټولنه کې د ښځو د نقش لپاره هم اړین دی.

(٤) د مختلفو وسله والو ډلو او سیمه ایزو قوماندانانو ترمینځ شخړو، او د بشري حقونو څخه تیري او په ښځو او توکمیزو لږکیو باندې بریدونو په ټول افغانستان کې یو نا امنه، او متشنجه او ناخوندي فضا رامینځ ته کړې او په زرګونو ملکي افغانان یې له خپلو سیمو او ټولنو څخه بې ځایه کیدو ته مجبوره کړي دي.

(٥) (الف) د جولای په شپږمه د ولسمشر مرستیال حاجي عبدالقدیر په کابل کې د نا پیژاندو وسله والو لخوا په ګولیو وویشتل او وژل شو.

(ب) د ۲۰۰۲ کال د سپتمبر د میاشتې په ٥ نیټه په کابل کې یو موټر بم وچاودیده چې ۳۲ تنه یې مړه او ۱٥۰ تنه یې ټپیان کړل، په هماغه ورځ د ګل آغا شیرزي د باډي ګاردانو څخه یو یې هڅه وکړه ترڅو ولسمشر کرزی ووژني.

(٦) تیري او ناقانونه کړنې به د لویې جرګې پروسه په خطر کې واچوي، پر هغو هڅو به منفي اغیزه وکړي چې په افغانستان کې د یو مرکزي ځواکمن حکومت د رامینځ ته کولو لپاره رواني دي، د بیا رغونې د کارونو او د بشري مرستو د رسولو څخه به په جدي ډول مخنیوی وکړي، او هغه احتمال به قوي کړي چې افغانستان به یو ځل بیا د القاعده، طالبانو او د نشه یي توکو د کاروباریانو په یو خوندي پټن ځای بدل شي.

(۷) نا امني او ناقانوني به، په افغانستان کې د متحده آیالاتو د پوځي قواوو د حضور د دایمي کیدلو سبب شي او د متحده آیالاتو پوځي توانایي به د خپلو پوځي موخو په لاس ته راوړلو کې، د ګواښ سره مخامخ کړي.

(۸) د افغانستان لپاره د نړیواله مرستندوینه ځواک (آیساف) چې او س مهال یوازې په کابل کې فعالیت لري او د امریکا څخه پرته د نورو هیوادونود پوځیانو څخه جوړ دی او د ترکیې لخوا رهبري کیږي، اوس مهال داسې وړتیا او ژمنتیا هم نلري چې د افغانستان نورو برخو ته د امنیت د راوستلو لپاره ولاړ شي.

(۹) په افغانستان کې د رواني پوځي مبارزې له امله، متحده آيالاتو د نړيوال مرستندويه ځواک سره د سرتيرو په يوځای کولو کې مرسته نه ده کړې، خو د هغو هيوادونوڅخه يې ملاتړ کړې چې په دغه ځواک کې سرتيري لري.
(۱۰) د امريکې متحده آيالات، د افغانستان د موقتي ادارې سره، مالي، سياسي، او روزنيزه مرسته کوي ترڅو په دغه هيواد کې د امنيت راوستلو لپاره د افغانستان ملي اردو او ملي پوليس رامينځ ته کړي خو دغه هڅې لا تر اوسه د افغانستان د امنيتي سکتور اړتياوې نه شي پوره کولای.
(۱۱) د دغه امنيتي بيړنيو اړتياو پر بنسټ، د افغانستان حکومت، ولسمشر حامد کرزي او د افغانستان نورو سيمه ايزو رهبرانو له نړيوالې ټولنې څخه غوښتنه وکړه ترڅو د امنيت د راوستلو په خاطر نړيوال مرستندويه ځواک (آيساف) را واستوي، دغه ځواک په بريا سره کابل ته ثبات راوستلی او د دوی پوځي حضور به د هيواد نورو برخو ته هم وغزول شي. او دغه غوښتنې څخه د سره صليب د نړيوالې کميټې، د کاتوليکو د مرستو خدمتونو او د کډوالو نړيوالې ادارې په کلکه ملاتړ وکړ.
(ب) پاليسي ليک: د امريکې د متحده آيالاتو پاليسي دا ده چې د هغو ټولو اقداماتو ملاتړ وکړي چې په افغانستان کې د امنيت راوستلو بيړنيو اړتياو ته مثبت ځواب ووايي ترڅو د بشرپالنې او نورې ضروري مرستې په خوندي او ډاډمنه فضا کې د ټول هيواد په کچه ورسول شي. او په افغانستان کې يو کارنده ملي او استازې حکومت، د قانون واکمني او د عامه نظم رامينځ ته شي.
(ج) د تگلارې پلي کول:
(۱) لومړنی راپور: ولسمشر به د دې لايحې د توشيح څخه ٦۰ ورځې وروسته د کانگرس د نړيوالو اړيکو کميسيون، د نماينده گانو د مجلس د تخصيص کميسيون، او د بهرنيو اړيکو کميسيون، او همدغه راز د سنا د مجلس د مرستو د تخصيص کميسيون ته د لاندې موضوعاتو په اړوند راپور ورکوي:
(الف) داسې يوه ستراتيژي چې په افغانستان کې د امنيت راوستلو بيړنيو اړتياو ته مثبت ځواب ووايي ترڅو بشرپالنې او نورې ضروري مرستې په خوندي او ډاډمنه فضا کې د ټول هيواد په کچه ورسول شي. او په افغانستان کې يو کارنده ملي او استازې حکومت، د قانون واکمني او د عامه نظم رامينځ ته شي او سربيره پر دې بايد د هغو ستراتيژي گانو په اړوند تازه معلومات هم برابر کړي چې د عامه قانون د ۱۰۷-۲۰٦ په تعقيب رامينځ ته شوي دي.
(ب) د دې لايحې د احکامو سره سم د افغانستان حکومت لخوا د کوکنارو د کښت له مينځه وړلو، د هيروينو د توليد مخنيوي، او په ټوليزه توگه په افغانستان کې د مخدره توکو د عرضې او تقاضا په اړوند، د پرمختگونو په اړه بشپړ معلومات.
(۲) د ستراتيژۍ پلي کيدل: د دې لايحې د توشيح کيدلو څخه وروسته به ولسمشر هرې شپږ مياشتې د ۲۰۰۷ ميلادي کال د جنوري د مياشتې تر لومړۍ نيټې پورې د کانگرس هغو کميټو ته چې په لومړي پاراگراف کې ورڅخه يادونه وشوه، په افغانستان کې د امنيتي لنډمهالو او اوږدمهالو اړتياوو په اړوند د سپارل شويو ستراتيژي گانو د پلي کيدلو په اړه راپور ورکوي او دغه راپور به د لاندې توکو درلودونکی وي:
(الف) د پخواني راپور په ادامه، د افغانستان د ملي اردو، او ملي پوليسو لپاره د گمارنو، روزنيزو پروگرامونو او په سيمه کې د پلي کيدو په اړوند د هر ډول پرمختگ، لگه، د گمارل شويو خلکو توکميز جوړښت، د پوليسو او ملي اردو د روزنيزو پروگرامونو څخه د فارغانو شميره، هغه کسان چې فارغ شوي کومې ساحې ته استول شوي، په کومه اندازه دغه فارغو شو کسانوته د امنيت د ساتنې مسووليت ورسپارل شوی آيا د افغانستان د ملي اردو او ملي پوليسو فارغ شوي کنډکونه په سيمو کې د افغانستان د حکومت اغيزمن حاکميت ټينگوي او په ځانگړي ډول کومه سيمه کې، او د وسله والو ډلو د بريدونو

شمیره چې د افغانستان د حکومت د مامورینو، د متحده آیالاتو او نړیوالو ځواکونو د مامورینو، سرتیرو او مرسته کوونکو په وړاندې یې ترسره کوي. او یا د وسله والو ګروپونو د خپل مینځي شخړو شمیر.
(ب) په کومه اندازه چې سیمه ایز وسله وال ګروپونه، د مرکزي حکومت د حاکمیت په ټینګښت کې مرسته کوي، او د خپلې اغیزې لاندې سیمه کې امنیت او نظم راولي، په وسله والو شخړو کې برخه اخلي او داسې نور ی سیالۍ کوي چې سولې او امنیت او د مرکزي حکومت تر کنټرول لاندې یو موټي افغانستان ته ترې خطر متوجه کیږي.
(ج) د پخواني راپور د تقدیمولو څخه وروسته بیرته راستنیدونکو، منزوي شویو وګړو او نورو خطرته مخامخ ګروپونو لپاره د بشرپالونکو، همدغه راز د ماین پاکۍ او د ماین د چاودنې څخه ژوندیو پاتې شویو کسانو د بیا احیا لپاره، مرستو اندازه او د همدغه ډول کسانو شمیره چې د مخکینې راپور راهیسې یې مرستې نه وي ترلاسه کړي.
(د) هغه اقدامات چې د پخواني راپور څخه راپه دیخوا د ملي بیا رغونې لکه د وزارتخانو او نورو حکومتي بنسټونو جوړول په هدف ترسره شوي وي.
(هـ) د هغو ملکي چارو ټیمونو شمیره چې د سیمه ایزو مشرانو سره کار کوي او همداشان د هغو لنډمهالو بنسټیزو پروژو شمیره چې د دغو ټیمونو لخوا ترسره کیږي.
(و) هغه اقدامات چې د پخواني راپور څخه راپه دیخوا د عدلي سکتور د بیارغونې په برخه کې لکه، د کارنده قضائیه قوې، د وکیلانو یوه با صلاحیته ټولنه د ښځینه مسلکي غړیو بیرته جذبول، او یو باوري جزایي سیستم او د بشري حقونو اړوند نورو برخو د رامینځ ته کیدلو په اړه ترسره شوي دي.
(ز) د ا فغانستان د حکومت د پرمختګ څخه د هغه موضوعاتو په اړوند چې د لومړی شمیرې په (ب) برخه کې ورڅخه یادونه شویده یو مفصل راپور.
(ج) د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک (ایساف) پراختیا
(ح) د کانګرس نظریات: کانګرس په ولسمشر باندې تاکید کوي چې د افغانستان د امنیت په اړوند خپلې موخې سرته ورسوي. او هر هغه اقدام وکړي چې په ټول افغانستان کې د امن څخه ډکه یوه فضا رامینځ ته کړي: د لاندې موضوعاتو په شمول:
(الف) د ملګرو ملتونو د امنیت شورا قانع کول ترڅو داسې یو پریکړه لیک صادر کړي چې د هغې له مخې نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک پراختیا ومومي او یا د همدغې ځواک پشان بو بل ځواک رامینځ ته کړي.
(ب) د متحده آیالاتو اروپایي او نورو متحدینو د لست جوړول چې غواړي خپل پوځونه د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک په چوکاټ کې ورزیات کړي. او یا آماده شي چې په بل عین ځواک کې یې شامل کړي.
(۲) د مرستو قانونیت (الف) د ولسمشر لپاره دغه موضوع قانوني ګڼل کیږي چې د ۲۰۰۳ کال څخه د ۲۰۰٤ کال ترپایه پورې د هر مالي کال لپاره پنځه سوه میلیونه ډالره مرسته د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک د پراختیا او یاد دغسې بل ځواک د رامینځ ته کولو لپاره منظوري کړي.
(ب) کومه اندازه مرسته چې پورته ذکر شوه د ۱۹٦۱ میلادي کال د بهرنیو مرستو د لایحې د دویمې برخې د ځلورم څپرکي د ۵۵۱ مادې او همداشان د وسلو د صادراتو د کنټرول د لایحې د ۲۳ مادې پر بنسټ قانونیت مومي.
(ج) کومې مرستې چې د پورته ذکر شوي الف پاراګراف له لارې تخصیص شوي دي، نو د بهرنیو مرستو د ۱۹٦۱ میلادي کال د ٦۳٤ الف مادې پر بنسټ به د خبرتیا د اړتیاوو د کنټرول لاندې وي.

**۲۰۷- د نورو لایحو سره اړیکې:**

(الف) نورې لایحې- کومې مرستې چې د افغانستان د حکومت سره د دې لایحې پر بنسټ کیږي د نورو هغو څخه چې د همدې موخې لپاره ترسره کیږي جلا دي.

(ب) هغه قوانین چې دغه لایحه تنظیموي: هغه مرستې چې د افغانستان د حکومت سره د دې لایحې د لارې ترسره کیږي د عامه قانون د ۵۱۲ مادې په نظر کې نیولو سره د ۱۰۷ -۱۱۵ مادې او د نورو داسې قانوني احکامو له لارې تنظیمیږي.

**۲۰۸ - وروستني پړاو:**

د دې لایحې قانوني موده به د ۲۰۰٦ کال د سپتمبر په دیرشمې نیټې پای ته ورسیږي.

**دریم سرلیک --- متفرقه احکام**

**۳۰۱- د نشه یي توکو د قاچاق په مخنیوي پورې د اړوندو اجرااتو مقررات**

هغه مرستې چې د دې لایحې د لارې د مخدره توکو د قاچاق د مخنیوي په برخه کې تر سره کیږي د ۱۹٦۱ میلادي کال د بهرنیو مرستو د لایحی د عین احکامو په رڼا کې او همدا شان د وسلو د صادراتو د کنټرول د ٤۸۷ مادې او د بهرنیو مرستو د ۱۹٦۱ کال د (مخدره توکو د قاچاق د مخنیوي، 22 U.S.C 2291f) برخې او هغو نورو مقررو چې د همدې مادې پر مبنی رامینځ ته شوي دي، قانونیت موندلی دی.

**۳۰۲- د افغانستان د ولسمشر د ساتنې په اړوند د کانګرس نظر**

د کانګرس نظر دا دی چې:

(۱) د متحده آیالاتو د فزیکي ساتنې کوم ځواک چې د افغانستان د جمهور رئیس په واک کې ورکول کیږي، باید د متحده آیالاتو د دیپلوماتیک امنیت، د قانون د تنفید، او پوځي پرسونل غړي وي. او د خصوصي امنیتي سکتور غړیو څخه به د فزیکي ساتنې لپاره کار نه اخیستل کیږي.

(۲) د متحده آیالاتو د متحدینو پوځي کادرونه او یا د قانون د تنفیذ پرسونل به هم د دغې دندې په اجرا کې د ګډون لپاره را وغوښتل شي. او

(۳) د دغې ساتندویه ځواک د خدمت موده به ډېره محدوده وي او هرڅومره ژر چې ممکن وي د هغوی ځای به افغاني امنیتي لایقه پرسونل ونیسي.

**۳۰۳- افغانستان ته د مرستې ورکوونکو ونډه او راپورونه**

(الف) مرسته ورکونه: کانګرس په دې خبره پوهیږي چې د نړیوالو هغه ناکافي مرسته چې د افغانستان په هکله د جاپان په توکیو ښار کې او نور ځایونو کې یې ژمنه شوې ده، او لږه برخه یې افغانستان ته رسیدلې ده، د افغانستان بیا جوړونه، او د مدني ټولنې پرمختیا او د بنسټونو جوړونه په خطر کې اچوي، او همدغه راز د دغې جنګ ځپلي هیواد، سوله او امنیت به د خطر سره مواجه کړي.

(ب) د کانګرس نظر: کانګرس دا نظر لري چې متحده آیالات باید د دیپلوماتیکو لارو چاروله لارې هڅه وکړي چې هغه دولتونه چې د افغانستان سره یې د مرستو کولو ژمنه کړې ده، ډېر ژر خپلې ټولیزې مرستې افغانستان ته واستوي.

(ج) راپورونه

(۱) په عمومي ډول: د بهرنیو چارو وزارت به د کانګرس د نړیوالو اړیکو کمیسیون، د نماینده ګانو د مجلس د تخصیص کمیسیون، او د بهرنیو اړیکو کمیسیون، او همدغه راز د سنا د مجلس د مرستو د تخصیص کمیسیون ته د دې پاراګراف له مخې د افغانستان سره د مرسته کوونکو هیوادونو د مرستو د اندازې په اړوند راپور ورکوي. لومړنی راپور به د دې لاېحې د توشیح له نیټې څخه ٦۰ ورځې وروسته تقدیم شي، دویم راپور به د لومړني راپور څخه ۹۰ ورځې وروسته او ووستني راپورونه به په هرو ۱۸۰ ورځو کې د ۲۰۰٤ کال د دسمبر د ۳۱ نیټې پورې پورته ذکر شویو کمیسیونونو ته تقدیمیږي.

(۲) نورې اړتیاوې: هر راپور به په غیر محرم ډول جوړیږي او د بهرنیو چارو د وزارت په ویب پاڼه کې به ورته ځای ورکول کیږي. او د لاندې توکو درلودونکی به وي: مرسته کوونکی هیواد، ټوله اندازه مرستې چې ژمنه یې شوې ده، هغه اندازه مرسته چې په تیرو ٦۰ ورځو کې د افغانستان حکومت ته رسول شوې دي، ټوله

اندازه مرستې چې تراوسه رسول شوي دي، د مرستې ډول او د هغه پروژو ډول چې د دغو مرستو د لارې
یې ملاتړ شوی دی.

## ضمیمه ذ

## د افغانستان تړون لیک

د افغانستان اسلامي جمهوریت او نړیواله ټولنه:

د افغانستان د خلکو د ژوندانه دکچې د ښه والي په موخه د خپلو مشارکتونو د پیاوړتیا د سولې ملي او نړیوال امنیت سره د مرستې پر بنسټ هوډمن دي.

د یوه با ثباته، سوکاله اوسالم حکومت درلودونکی او د قانون ترواکمنی لاندې د ټولو لپاره د بشر د حقونو په پیروی یو ژمن افغانستان د بریالیتوب په موخه د بون، توکیو او برلین د کنفرانسونو په رڼا کښې د کار د دوام لپاره په خپلو ګډو ژمنو او دغه راز په دغې تړون لیک کښې د ټاکل شوې مودې سره سم اوله هغې څخه په پراخه توګه د دغو ژمنو د ساتنې او پیاوړتیا په موخه ټینګار کوي.

د افغانانو هغه میړانه او اراده چې په زړورتیا سره یې دناوړې بنسټ پالنې او د زیرنده مصیبتنونو په وړاندې، د اسلام په اصولو ولاړ د یو دموکراتیک، سوله پال، پراخ بنسټه او نیکمرغه حکومت بنسټ ایښی، تصدیقوي.

د ۱۳۸۳ کال د مرغومې په میاشت کې د یو نوي اساسي قانون د تصویبولو د ۱۳۸۳ کال د تلې په میاشت کې د ولسمشرۍ د ټولټاکنو او د ۱۳۸٤ کال د وږي په میاشت کې د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټولټاکنو د ترسره کولو له لارې د بون د پریکړه لیک بشپړ پلي کول چې افغانستان یې په دې ځواکمن کړ چې په نړیواله ټولنه کې خپل روا دریځ بیا ترلاسه کړي، تائیدوي.

دغه مسئله چې د افغانستان دسولې او ثبات بهیر تراوسه پورې بشپړ ندی او دا چې د هغو ستونزو په لرې کولو کې چې تراوسه پورې هم پاتې دي، ځواکمنې نړیوالې ونډې اخیستنې ته اړتیا شته دمناسبو شرایطو دټینګولو له لارې په افغانستان کې د دومدارې اقتصادي ودې او پرمختیا، د حکومتي ادارو او مدني ټولنې د پیاوړتیا، د پاتې تروریستي ګواښونو د لرې کولو، له نشه يي توکو سره په مبارزه کې د ستونزو د له منځه وړلو، د وړتیاوو او بنسټونو د بیا جوړولو، د بیوزلۍ د له منځه وړلو، او د تاوتریخوالو او کشالو د میراث د له مینځه وړلو لپاره د بنسټیزو بشري اړتیاو د ټینګولو په مقصد هوډمن دي.

د افغانستان دتړون لیک په هکله، موافقه کوي.

**موخه:**

د افغانستان حکومت د ملت سوکالۍ ته درسیدو لپاره خپلې عمده موخې د ۱۳۸٤ کال په رپورټ کې په راتلونکو پنځلسو کلونو کې د افغانستان پرمختیایي موخې (MDG) وړاندې کړي دي. له دغو موخو سره سم دغه مهم او یو له بل سره اړین درې رکنیزه تړون لیک له تصویبولو څخه وروسته په لاندې ډول څرګندوي:

۱ـ امنیت،

۲ـ حکومت داري، د قانون واکمني او د بشرحقونه،

۳ـ اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا،

یو حیاتي او هر اړخیز کاري ډګر د نشه يي توکو د تولید له منځه وړل دی چې تر اوسه پورې هم د افغانستان د خلکو او حکومت، سیمې او نړۍ پر وړاندې د یو جدي ګواښ په توګه پاتې دی.

په دغه توګه د افغانستان حکومت، د دغه ګډ لرلید د تحقق په موخه ژمن کیږي، او د دې په وړاندې نړیواله ټولنه هم ژمنه کوي چې د دغه آند د تحقق له پاره د لازمو سرچینو او ملاتړ د پوره واک ورکولو په لاره کې مسوولیت ادا کړي. د دغه تړون لیک لومړۍ ګڼه ضمیمه د افغانستان په ملي پرمختیایي تګلارې کې د لوړو ټاکل شویو موخو سره سم د دغه تړون لیک دبشپړتیا لپاره مفصلې پایلې، معیارونه او مودې بیانوي، دغه راز د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه ژمنه کوي، چې د نړیوالو مرستو اغیزمنتوب او حساب ورکونه څرنګه چې په دویمه ګڼه ضمیمه کې یې بیان شوی دی ښه کړي.

**د همکارۍ اصول**

د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه به د دغه تړون لیک په پلي کولو کې لاندنیني ټکي په پام کې ونیسي.

۱ـ د اسلام پر بنسټ د افغانستان پراخ بنسټه کلتور، ارزښتونه او تاریخ ته درناوی.

۲ـ د افغانستان د حکومت او د نړیوالې ټولنې ترمینځ همکاري، د هغه مشارکت له مخې چې په هغه کې به د افغانستان حکومت بشپړ مالکیت ولري او د نړیوالې ټولنې د همغږۍ، محوري او نا پییلی رول به د ملګرو ملتونو سازمان په غاړه ولري.

۳ـ د مالکیت په حقو کې د ونډې اخیستنې او هڅونې په موخه د افغانستان د خلکو لرغونو دودونو ته ډیر درناوی.

٤ـ د ژوندانه د چاپیریال ساتنې د مالي بنسټ او د ثبات د دوام تعقیبول

۵ـ د افغانانو تر مینځ د دوامدارو وړتیاوو رامینځ ته کول، یوشان د ښځو اونارینه و په بشري وړتیاو باندې په ځانګړې ټینګار سره د اغیزمنو حکومتي او مدني ټولنو د مرکزونو جوړول.

٦ـ د نیکمرغه او سوکاله راتلونکې د ټینګولو لپاره په ټول افغانستان کې د کورنیو او نړیوالو منابعو د انډولیز او منصفانه تخصیص په هکله د ډاډ ترلاسه کول.

۷ـ په ټولو پالیسیو او پروګرامونو کې د نارینه او ښځو په برابرو حقونو او دندو باندې ټینګار.

۸ـ د سیمه ایزې همکارۍ لوړتیا او.

۹ـ د اداري فساد سره مبارزه او په دولتي ادارو کې د شفافیت ټینګول او حساب ورکونه.

**امنیت:**

ریښتینی امنیت په افغانستان کې ثبات او پرمختیا ته د رسیدلو لپاره اړین او بنسټیز شرط دی. امنیت یواځې د پوځي لارې نشي تامینیدلای، بلکې د امنیت ټینګښت سالمې واکمنۍ، عدالت او د قانون واکمنۍ ته اړتیا لري، چې د بیا رغونې او پرمختیا له لارې پیاوړي کیږي. د نړیوالې ټولنې په همکارۍ د افغانستان حکومت به د ټولو ناقانونه وسله والو ډلو د ړنګولو له لارې سوله ټینګه کړي. د افغانستان حکومت اونړیواله ټولنه به د افغاني ادارو د پیاوړتیا له لارې خوندي شرایط برابر کړي چې د مالي ځواکمنۍ او دوام له پلوه امنیتي اړتیاوې بسیا کړي.

په دې لاره کې به د ناټو په مشرۍ له امنیت سره د مرستې نړیوال ځواکونه (ایساف)، د امریکا په مشرۍ د تل پاتې خپلواکۍ د عملیاتو ځواک (O.I.F) او د امنیتي سکټور په اصلاح کې مرستندویه هیوادونه، د مرستندویو هیوادونو د تصویب شویو ملي لارښودونو د مراعتولو په شرط په خپل پیاوړي ملاتړ سره به، په هیواد کې د امنیت او ثبات د ټینګولو او دوام لپاره د افغانستان د حکومت ملاتړ ته دوام ورکړي. دوی به د ځواکونو د کړنو په هکله د بشپړ ډاډ د ترلاسه کولو په موخه د کورنیو امنیتي ځواکونو د وړتیا، پیاوړتیا او لوړتیا ته دوام ورکړي. د تل پاتې خپلواکۍ د عملیاتو ځواکونه به د افغانستان له حکومت او د ایساف له ځواکونو سره په نږدې همکارۍ کې د ډار اچوونکو پرخلاف ګډ عملیات ترسره کړي. د ایساف ځواکونه په ټول اافغانستان کې له دې جملې، د ولایتي بیا رغاونې د ټیمونو (پي آر ټي) له لارې خپل ځای پر ځای کیدو ته پراختیا ورکوي، تر څو د خپل فعالیت لاندې سیمو کې د ثبات پیاوړتیا او د امنیتي سکټور د اصلاحاتو ملاتړ ته دوام ورکړي.

د افغانستان واکمنۍ ته بشپړه درناوي او د افغانستان او د ګاونډیو هیوادنو ترمینځ یې د خبرو اترو او همکارۍ پیاوړتیا، په افغانستان او سیمه کې د امنیت د ټینګښت په لاره کې یو بنسټیز ضمانت بلل کیږي نړیواله ټولنه به د دغې موخې په ترلاسه کولو کې د باور د رامینځ ته کولو په موخه د ځانګړو اقداماتو ملاتړ وکړي.

**حکومت کول، د قانون واکمني او د بشر حقونه:**

د ډموکراسۍ او د بشر د حقونو د رعایتولو پر بنسټ حکومت په افغانستان کې د یو دومداره سیاسي پرمختګ بنسټ جوړوي. د افغانستان حکومت به په ټول هیواد کې خلکو ته د بنسټیزو خدمتونو د وړاندې کولو په خاطر خپله وړتیا په چټکۍ سره لوړوي، حکومت به د ملکي خدماتو په ادارو کې د غوره والي له مخې د مسلکي، کفایت، درلودونکی او د باور وړ اشخاص په دندو ګماري. حکومت به په ټولو اړخونو کې یوه اغیزمنه، ځواب ورکوونکې، او شفافه اداره جوړه کړي، له

فساد سره به د مبارزې په کار کې د ارزوني وړ اصلاحات ترسره کوي، دعدالت او د قانون د واکمنۍ ملاتړ کوي او د ټولو افغانانو د حقونو رعایتول به پیاوړي کوي.

د افغانستان حکومت به په هر ولایت کې د همغږو او کارندو ادارو جوړولو ته لومړیتوب ورکړي. په دغه ادارو کې به د ملکي، پولیسو، زندانونو او عدلي مرکزونه شامل وي. دغه ادارې به مناسب قانوني چوکاټونه، او د روزل شویو مامورینو د ګمارلو لارښودونه، کافي معاشونه، لازمي بنسټیزې سرچینې او د څارنې وړتیا ولري، حکومت به د ټولټاکنو یوه اداره چې له مالي او بنسټیز پلوه دوامداره وي د افغانستان د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون تر څارنې لاندې د راتلونکو ټولټاکنو د ترسره کولو په موخه جوړه کړي.

دعدلي سکټور اصلاح کول د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې ته لومړیتوب لري. هدف دادی چې د ټولو افغانانو په عدالت او د عملي کولو وړ حکمونو باندې په برابره، عادلانه او شفاف ډول لاس برې د لیکلو قوانینو او عادلانه محاکمو پر بنسټ تحقق ومومي. هغه تدبیرونه چې په دې هکله به ونیول شي، عبارت دي له: په حکومتي او خصوصي سکټورونو کې د قانوني اصلاحاتو بشپړتیا، په عدلي مرکزونو او پرسونل کې د وړتیا رامینځ ته کول، دبشر د حقونو او حقوقي پوهې ښه والي او دعدلي بنسټونو بیا رغول.

د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه د هغو حقونو د ملاتړ او لوړتیا پر بنسټ چې په اساسي قانونو او مروجو نړیوالو قوانینو کې له دې جملې څخه د بشر د حقونو نړیوال میثاقونه او نور لاسلیک شوي تړونونه او د افغانستان له لوري هم اټکل شویدي، خپله ژمنه بیا څرګندوي. د هغو وګړو ترمینځ دباور داعاده کول په موخه چې جګړې یې ژوند تپاه کړی دی. او دغه راز وګړو او دزغم او پراخ بنسټي کلتو دګډ احساس رامینځ ته کولو او د قانون واکمني او د افغانستان حکومت ته د درناوي په موخه به د نړیوالې ټولنې په مرسته د سولې، عدالت، او روغې جوړې پروګرام پلی کړي.

**اقتصادي او ټولنیزه پراختیا:**

د افغانستان حکومت به د نړیوالې ټولنې په ملاتړ، د لوږې، بیوزلۍ او بې روزګارۍ د کمښت په موخه د اقتصادي، ودې لوړ پراوونه په متداومه توګه تعقیب کړي. حکومت دخصوصي سکټور بالقوه رول او استعداد ته د نورو حکومتي اونورو غیر انتفاعي سکتورونو ترڅنګ وده ورکوي، د نشه یي توکو تولید کنټرولوي، دستر اقتصاد ثبات ټینګوي، او د هیواد د بشري، ټولنیز او فزیکي پانګو پراختیا ته رغون او وده وربښي، چې له دې لارې د نوي نسل، مشرانو او مسلکي افرادو لپاره یو سالم بنسټ کیږدي. مدني ټولنه پیاوړې کړي او د راستنو شویو، داخلي بې ځایه شویو او پخوانیو جګړه مارانو بیا میشته کیدل بشپړ کړي.

عامه پانګونه به د افغانستان د رمختیایي تګلارې پر اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا باندې دشپږو ستنو پر بنسټ ولاړ وي:

۱- بنسټونه او طبعیي زیرمې،

۲- پوهنه،

۳- روغتیا،

٤- کرهنه او د کلیو پراختیا،

٥- ټولنیز خوندیتوب، او

٦- اقتصادي واکمني او دخصوصي سکتور پراختیا

په دغو هرو برخو کې له دغو بنسټونو څخه موخه داده چې داسې محسوسیدونکې لاس ته راوړنې ولري، چې د اقتصاد د انډولیزې ودې د ټینګولو په موخه، چې بیوزلي له منځه وړي، د کار او کسب زمینې زیاتوي، د خصوصي تصدیو د رامینځ ته کیدو په برخه کې فرصتونه لوړوي او د ټولو افغانانو د سوکالۍ لامل ګرځي.

**د نشه يي توکو سره مبارزه (يو څو اړخيز لومړيتوب)**

له هغه ګواښ سره چې د نشه يي توکو توليد يي د ملي، سيمه ايز او نړيوال امنيت او هم يې د هيواد، او د حکومت د پرمختيا او د افغانانو د سوکالۍ پر وړاندې شتون لري، مقابله د حکومت او نړيوالې ټولنې لپاره لومړيتوب ګڼل کيږي. د دغې مقابلې موخه د کوکنارو د کرکيلې او نشه يي توکو د قاچاق په ښکاره توګه کمښت او بشپړ له مينځه وړل دي. لومړني او اړين عناصرو کې د جرمونو څخه مخنيوی، د قانون نافذيدل، او د قضا د وړتيا لوړتيا، ښه والی مونډلی دی. د نشه يي توکو د بندولو لپاره د افغانستان، ګاونډيو هيوادونو او نړيوالې ټولنې ترمينځ د همکاری زياتوالی، په کليو کې د هر اړخيزې پرمختيا په ښه کې د بزګرانو او کارګرو لپاره د پراخو اقتصادي بديلونو برابرول، او د هيواد او د ولايتونو په کچه له نشه يي توکو سره د مبارزې د مرکزونو جوړول دی. دغه راز د اداري فساد او د نشه يي توکو د له مينځه وړلو په وړاندې د نه زغم د سياست پلي کول ضروري ګڼل کيږي. د دغه پيغام خپرول چې د نشه يي توکو توليدول او سوداګري، غير اخلاقي او د اسلامي قوانينو پر خلاف دي او په پای کی په دې لاره کې هلې ځلې چې د نشه يي توکو ناقانوني غوښتني ته دې کمښت ورکړ شي، د حکومت موخې دي.

**سمون او څارنه:**

د افغانستان حکومت او نړيواله ټولنه په هغو سياسي ژمنو د پلي کولو لپاره چې په دغه تړون ليک کې شامل دي، د سمون او څارنې ګډه کميته جوړه کړي. د دريمي ګڼې د ضميمي د تفصيلاتو له مخې به دغه کميټه د افغانستان د اسلامي حکومت او ملګرو ملتونو د سازمان ترګډې مشرۍ لاندې وي او يوه کوچنۍ دارالانشا به ورسره مرسته وکړي- دغه کميټه به د دغې تړون ليک په پلي کولو کې د افغانستان د حکومت او نړيوالې ټولنې د زياتو هلو ځلو د سمون سبب شي، او دغه راز د خپلو کړنو په هکله، منظم او پرخپل وخت عمومي رپوټ وړاندې کړي.

**لومړی ګڼه ضمیمه**
**معیارونه او زماني مودې**

د افغانستان حکومت د نړیوالې ټولنې په ملاتړ ژمنه کوي، چې دغه معیارونه په ټاکل شویو مودو کې تحقق ومومي.

**امنیت:**

نړیوال امنیتي ځواکونه: د ۱۳۸۹ کال د (۲۰۱۰ تر پایه) پورې به د افغانستان د حکومت په مادي ملاتړ او نږدې همکارۍ سره د ناټو په مشرۍ د ایساف نړیوال ځواکونه به د دوامدارې خپلواکۍ عملیات (OEF) او بیا جوړونې ولایتي ټیمونو (PRT) سره یو ځای د افغانستان په ټولو سیمو کې د افغاني ځواکونو پیاوړتیا له لارې امنیت او ثبات ټینګ کړي.

د افغانستان ملي اردو: د ۱۳۸۹ کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به یو په ملي توګه رنه، مسلکي، د قومي پلوه انډولیزه ملي اردو رامینځ ته شي، چې په دیموکراتیکه او منظمه تربیه او په تجهیزاتو سمبال شوی وي، چې وکولای شي د هیواد امنیتي اړتیاوې پوره کړي او د افغانستان د زیاتیدونکیو عوایدو څخه به د ملي اقتصادي توان سره سم تمویلیږي. نړیواله ټولنه به ۷۰۰۰۰ تنو ته د افغانستان د ملي اردو د پراختیا په موخه- لکه څنګه چې د بون په کنفرانس کې وربانديې خبرې شوي وې- له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي. د پراختیا لارې چارې داسې تنظیموي چې د خدمت پر مودې او پر کیفیت ولاړو ګډو څیړنو پر بنسټ وي چې د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې له خوا د موافقه شویو معیارونو په اړوند به د اوسنیو شرایطو سره سم په پام کې نیول کیږي.

د افغانستان ملي پولیس او سرحدي پولیس: د ۱۳۸۹ (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د افغانستان ملي پولیس او سرحدي پولیس په بشپړ کاري او مسلکي تشکیل سره چې له قومي پلوه یې انډول برابر وي د څه ناڅه ۶۲۰۰۰ تنو په ترکیب کې، چې په اغیزمن ډول د هیواد د امنیتي اړتیاوو د پوره کولو وس ولري او له مالي پلوه دوام ولري، رامینځ ته شي.

د ناقانونه وسله والو ډلو له مینځ وړل: په ټولو ولایتونو کې به ناقانونه وسله والې ډلې د ۱۳۸۶کال (۲۰۰۷) ترپایه پورې له مینځه لاړې شي.

له نشه یي توکو سره مبارزه: حکومت به د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) ترپایه پورې د مرکز او ولایتونو په کچه د قانون د نافذولو وړتیا پیاوړې کړي، چې د نشه یي توکو د ضبطولو او له مینځه وړلو او د دغو توکو د پروسس، د آسانتیاوو د ویجاړولو په کچه کې د ښکاره کمښت سبب وګرځي او د کوکنارو د کرکیلې د له مینځه وړلو په ګډون به د اغیزمنو تدبیرونو د نیولو لامل شي.

د افغانستان حکومت او د ګاونډیو او د سیمې د هیوادنو حکومتونه به د ۱۳۸۹ کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې د همغږۍ د زیاتوالي او د ګډو استخباراتي هلوځلو په لاره کې له یو بل سره کار وکړي چې د نشه یي توکو د نیولو او له مینځه وړلو کچه، چې د افغانستان له پولو څخه قاچاق کیږي، زیاته او د نشه یي توکو قاچاق کونکو پر وړاندې اغیزمن اقدامات تر سره شي.

له ماینونو او مهماتو سره مبارزه: په راتلونکو پنځلسو کلونو کې به د افغانستان د پرمختیایي موخو په لاره کې (MDG) او د اوټاوا له تړون سره د افغانستان له ژمنو سره سم به په ماینونو او ناچاودیدلو مهماتو باندې ککړه ځمکه په سلو کې اویا کمښت ومومي د ۱۳۸۶(۲۰۰۷) کال ترپایه به د پرسونل ضد زیرمه شویو ماینونو ټولې ساحې تثبیت او له مینځه یوړل شي، او په دغه ډول ټول ناخوندي، د نه ترمیم وړ او اضافي مهمات به د ۱۳۸۹ هجري لمریز (۲۰۱۰) پورې له مینځه یوړل شي.

## حکومت کول، د قانون واکمني، او د بشر حقونه

د حکومت اداري اصلاحات: د ۱۳۸۹(۲۰۱۰) کال تر پایه به د یو شمیر وزارتونو په ګډون د حکومت دستګاه اصلاح او بیا جوړه شي، چې یوه داسې حکومتي اداره رامینځ ته شي، چې له مالي پلوه دوام ولري، د ملکي خدمتونو کمیسیون به پیاوړی شي، د ملکي خدمتونو د سکتور دندې به داسې تنظیم کړای شي، چې اصلاحات د اصلي دندو او مسوولیتونو ښکارندوی وي.

د مرکزي حکومت او عدلي سکټور د لوړپوړو چارواکو او د ولایتونو والیانو، امنیه قوماندانانو، او د ولایتو د امنیت رئیسانو د ټاکلو په اړوند به یو هراړخیز څرګند او شفاف میکانیزم په شپږو میاشتو کې رامینځ ته شي، په دولسو میاشتو کې به عملي کیږي، او په څلورویشتو میاشتو کې به په بشپړ ډول پلی شي.

د ۱۳۸۵ کال ترپایه به له ملي ثبات سره د مرستې په موخه ټول اداري واحدونه او د هغوی اربعه حدود وڅیړل شي او تجدید نظر به پرې وشي.

د ۱۳۸۹ (۲۰۱۰) کال ترپایه به د مرکزي حکومت او د عدلي سکټور او پولیسو په ګډون د حکومت په ټولو سطحو کې د ملکي خدمتونو په څوکیو کې د کار د اجرا کولو په اړوند ټولې ټاکنې د وړتیا، لیاقت او د کار د سوابقو له مخې ترسره شي، او د ملکي خدمتونو په څوکیو کې د کار د اجرا کولو په اړوند د وړتیا د لوړولو لپاره لازمې مرستې برابرې کړای شي، چې سکټورونه په اغیزمن اوګټور ډول د فعالیت جوګه شي. تر ۱۳۸٦ هجري لمریز (۲۰۰۷) کاله پورې به د دویمې او له هغې څخه د لوړې رتبې د ټولو کارکوونکو د یوه کال کړنې وڅیړل شي.

له اداري فساد سره مبارزه: د اداري فساد په اړوند به د ملګرو ملتونو مسوده د ۱۳۸۵ هجري لمریز (۲۰۰٦) تر پایه پورې تصویب شي چې له هغې سره سم به د هیواد کورني قوانین د ۱۳۸٦ هجري لمریز (۲۰۰۷) کال ترپایه بدلون ومومي. د ۱۳۷۸ (۲۰۰۹) کال ترپایه به د دغو قوانینو د څیړنې لپاره یو څارنیز میکانیزم رامینځ ته شي.

د وګړو سرشمیرنه او احصائیه: د وګړو سر شمیرنه به د ۱۳۸۷ هجري لمریز (۲۰۰۸) کال ترپایه پورې ترسره شي او د هغې بشپړې پایلې به خپرې شي.

د ټولو کمیټي معیارونو لپاره د احصائیي اعتبار لرونکي بنسټونه د ۱۳۸٦ هجري لمریز کال (۲۰۰۷) ترمینځ رامینځ ته او د هغوی د پرمختګ لپاره به د احصائیو وړتیا لوړه کړای شي.

ولسي جرګه: د ولسي جرګې لپاره به د ۱۳۸۵ هجري لمریز کال (۲۰۰٦) په مینځ کې پوره اداري او تخنیکي ملاتړ مساعد کړای شي، ترڅو هغه دندې چې دغې شورا ته د اساسي قانون له خوا ورسپارل شوې دې په اغیزمنه توګه ترسره کړي.

ټولټاکنې: د افغانستان د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون چې بشپړ واک لازمه وړتیا او منابع به ولري د ۱۳۸۷ هجري لمریز (۲۰۰۸) ترپایه به یو داسې دریځ غوره کړي چې وکړای شي د مالي پلوره په دوامداره توګه ټولټاکنې ترسره کړي. د افغانستان حکومت به د راتلونکو ټولټاکنو لګښتونه د امکان تر پولې پورې، له خپلو منابعو څخه برابر کړي. د ملکي احوالو د ثبتولو دایمي فهرست او د رایو ورکوونکو فهرست به د ملي هویت له واحد سند سره د ۱۳۸۸ هجري لمریز (۲۰۰۹) ترپایه پورې برابر کړای شي.

د ټولنیز جنسیت برابري(جندر): د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د افغانستان د ښځو لپاره مالي کاري پروګرام په بشپړه توګه پلی کړای شي. د افغانستان د MDG موخو په لاره کې به د ملکي خدمتونو د سکټور د انتخابي او انتصابي ادارو په ګډون، په ټولو حکومتي ادارو کې د ښځو ګډون زیاتوالی ومومي.

د قانون واکمني: د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د مدني، جنایي او تجارتي قوانینو په ګډون د اساسي قانون له حکمونو سره سم د اړتیا وړ حقوقي چوکاټ رامینځ ته شي او په ټولو قضایي او تقنیني ارګانونو به وویشل شي او د ټول ملت په واک کې به وسپارل شي.

د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د افغانستان په ټولو ولایتونو کې مسوولې عدلي اداري په بشپړه توګه فعالې او د وګړو ترمینځ له تړونونو څخه راپیدا شویو ستونزو حل به د پخوا په پرتله اوس لږ وخت نیسي.

په اداري فساد، مناسب عدلي بهیر په نشتوالي او دعدالت په ناوړه کړنو پورې د اړوندو څارنیزو، لاربښوونو څیړل او اصلاحات به د ۱۳۸۵ هجري لمریز(۲۰۰٦) کال څخه پیل او د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به په بشپړه توګه پلی کړای شي. دغه اصلاحات به دعدلي نظام د کلیدي ادارو او (د عدلیي وزارت، قضا، لوی څارنوالی د کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت ریاست) مسلکي والی، اعتبار او اصالت پیاوړی کړي.

د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د عدلي سکټور بنسټ رامینځ ته شي او د ښځو او تنکیو ځوانانو لپاره به په جیلونو کې د بند بیلا بیل ځایونه جوړ کړای شي.

د ځمکو ثبتول: په ټولو اداري واحدونو کې به د ځمکې د ثبتولو بهیر او په مهمو ښاري ساحو کې د ملکیت د حقونو ثبتول د ۱۳۸۵ هجري لمریز (۲۰۰٦) کال ترپایه او په نورو سیمو کې به د ۱۳۸۷ هجري لمریز کال (۲۰۰۸) د پای څخه پیل شي او د ۱۳۸٦ هجري لمریز کال (۲۰۰۸) تر پایه پورې به د خلکو د لانجو د حل لپاره یو عادلانه نظام پرانیستل شي. د کلیو د ځمکو ثبتول به د ۱۳۸٦ هجري لمریز (۲۰۰۷) ترپایه پورې ترلاس لاندې ونیول شي.

له نشه یي توکو سره مبارزه: حکومت به د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې د قاچاق وړونکو او مفسدو مامورینو نیول او قانوني تعقیب زیات کړي. او دغه راز د هغو کسانو په هکله چې د نشه یي توکو په سوداګرۍ کې ښکیل دي د خپلو اطلاعاتو بنسټ پیاوړی کړي. په دې نیت چې په مرکزي او ولایتي ادارو کې د ټاکنو لپاره د انتخاب لارې چارې د ټاکنې د هغه میکانیزم د یوې برخې په توګه چې مخکې په دې ضمیمه کې یادې شوې لوړې کړي.

دبشرحقونه: د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د بشر حقونو په اړوند د خپلو ژمنو رپورټ ورکولو لپاره د حکومت وړتیا پیاوړې شي. په دولت کې به د قانون او امنیت د نافذولو اداري په خپل سر نیونو او بندي کول، ځورونې او دباج اخیستلو څخه د مخنیوي په موخې او د املاکو د غیرقانوني مصادرې لپاره به نوې لارې چارې او لاربښوونې وضع کړي، چې د دغه شان عملونو ریښې وویستل شي. د رسنیو د خپلواکیو په ګډون به د بیان آزادي پیاوړې کړای شي، د بشر له حقونو څخه پوهاوی به په تعلیمي نصاب کې شامل شي او د قانون جوړونکو، عدلي کارکوونکو، نورو حکومتي ادارو او د خلکو ترمینځ به خپور شي. د بشر د حقونو څارنه به د دولت په غاړه وي، او دغه کار به په خپلواک ډول د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا ترسره شي، او ملګري ملتونه به د بشر د حقونو د ساتنې لپاره اغیزمن تدبیرونه وڅیړي. د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون، د بشر د حقونو د څارنې، څیړنې، ساتنې او ښه والي په هکله د خپلو اهدافو د تحقق لپاره پلوي او ملاتړي شي.

د سولې، عدالت او پخلاینې د کاري پلان پلي کول به د ۱۳۸۷ هجري لمریز (۲۰۰۸) کال پورې بشپړ شي.

اقتصادي او ټولنیزه پراختــــــیا

بنسټونه او طبیعي زیرمې

<u>سړکونه:</u> افغانستان به د ۱۳۸۷ هجري لمریز (۲۰۰۸) کال ترپایه په بشپړه توګه یو پرمختللی حلقوي مناسب سړک او همدغه راز هغه سړکونه ولري چې دغه حلقوي سړک له ګاونډیو هیوادونو سره نښلوي. او همداراز د ۱۳۸۶ هجري لمریز ترپایه پورې به افغانستان د سړکونو د ساتنې او ځارنې لپاره د یوه پیاوړي او دومداره مالي نظام درلودونکی وي.

<u>هوایي ترانسپورت:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د کابل نړیوال هوایي ډګر او د هرات هوایي ډګر په بشپړه توګه د ملکي هوایي چلند د نړیوال سازمان په معیارونو برابر کړل شي. د مزار شریف، جلال آباد او کندهار د هوایي ډګرونو کیفیت به د الوتنې د کرښو په ترمیمولو، د الوتنو د لارښوونو په پرانیستلو د اور د نښو د سمبالولو ښه والي او د ژغورنې او مخابرې د تدبیرونو رامینځ ته کولو ته لوړ شي. دغه او نور کورني هوایي ډګرونه به د هوایي ترانسپورټ په ښه والي کې د اسانتیاو د برابرولو لپاره ښه کړای شي. د هوایي ترانسپورت خدمتونه او لګښتونه به د نړیوال بازار له معیارونو او ارزښتونو سره د سیالۍ وړ وګرځي.

<u>انرژي:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د برېښنا د انرژۍ اسانتیاوې په سلو کې څه ناڅه ٦٥ کورنیو ته په سترو ښارونو کې، او په سلو کې نوي نا استوګنو تاسیساتو ته، او په سلو کې څه نا څه پنځه ویشتو کورنیو ته په کلیو کې ورسول شي. د انرژي لګښتونه به د برېښنا د انرژۍ د ملي شبکې په سلو کې له څه ناڅه پنځه اویا لګښت کوونکو څخه ترلاسه شي. د ۱۳۸٦ هجري لمریز (۲۰۰۷) کال ترپایه به د نوې کولو وړ انرژیو څخه د کار اخیستنې او پراختیا په موخه یوه تګلاره رامینځ ته شي.

<u>طبیعي کانونه اوزیرمې:</u> د ۱۳۸۵ هجري لمریز کال (۲۰۰٦) ترپایه به د افغانستان د ګټورو کانونو او طبیعي منابعو د کیندنې لپاره یوه مساعده انتظامي فضا برابره شي او د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به په دې لاره کې د کورنیو او بهرنیو مستقیمو پانګې اچوونو د جذبولو لپاره د پانګونې او بنسټ ایښودنې فضا ښه والی ومومي.

<u>د اوبو د منابعو (زیرمو) اداره:</u> د اوبو د سرچینو د اداري لپاره چې د څښاک صحي اوبو او د ځمکو د خړوبولو اوبو ټینګول پکې شامل وي، د ۱۳۸۵ هجري لمریز (۲۰۰٦) کال ترپایه به دایمي تګلارې او پلانونه جوړ کړای شي. د اوبو لګولو په برخه کې پانګونه به د دې لامل وګرځي چې د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د اوبو رسولو له سترو شبکو څخه په سلو کې دیرش وګړي برخمن شي.

<u>ښاري پراختیا:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د ښاروالیو وړتیا لوړه کړای شي، چې وکولای شي د ښارونو پراختیا اداره کړي. او په اغیزمن، ګټور او شفاف ډول ښاري خدمتونه وړاندې کړای شي. د افغانستان د MDG مخو د ترلاسه کولو لپاره به د اوبو رسولو او عامي روغتیا په برخو کې د پانګوونو زمینه برابره کړای شي، ترڅو په کابل کې په سلو کې پنځوس کورنۍ او په نورو سترو ښارونو کې په سلو کې دیرش کورنۍ د نلونو له اوبو څخه کار واخلي.

<u>د هستوګنې چاپیریال:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د افغانستان د MDG د موخو ترسره کولو لپاره د هوا او اوبو د کیفیت د ساتنې د فاضله موادو د لیرډونې او د ککړتیا د څارنې په موخه د هستوګنې د چاپیریال ساتنې د خدماتو اداره او تقنیني چوکاټونه را مینځ ته شي. د طبیعي زیرمو سیاستونه به پراختیا ومومي، او په ټولو حکومتي او سیمه ییزو اړخونو کې به د هغو پلي کول په ۱۳۸٦ هجري لمریز کال (۲۰۰۷) ترپایه پیل کړای شي.

**پوهنه**

لومړنۍ او ثانونې زده کړې: د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰) تر پايه پورې به د افغانستان د MDG موخو د ترسره کولو په لاره کې، په لومړنيو ښوونځيو کې د نجونو او هلکانو خالص ګډون په ترتيب سره په سلو کې شپيته او پنځه اويا وي. په ټولو منځنيو ښوونځيو کې به يو نوی تعليمي نصاب د کاروني وړ وګرځي. د ښځينه زده کوونکو شمير به په سلو کې پنځوس وي او د افغانستان په سلو کې اويا ښوونکي به د سويې آزموينې ورکړي. د زده کوونکو لپاره به د ملي آزموينې په توګه د پرمختګ د درجې د څيرنې لپاره يوه ځانګړې تګلاره برابره کړای شي.

لوړې زده کړې: د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰) تر پايه پورې به د پوهنتونونو د زده کوونکو شمير ۱۰۰۰۰۰ تنو ته ورسيږي، چې په سلو کې څه ناڅه پنځه ديرش به يې نجوني زده کوونکي وي. د حکومتي پوهنتونونو په تعليمي نصاب کې به د هيواد د پراختيا د اړتياوو او خصوصي سکټور د پراختيا په پام کې نيولو سره تجديد نظر وشي.

دکسبونو پراختيا: د بشري منابعو په اړوند څيړنه به د ۱۳۸۵ هجري لمريز (۲۰۰۶) کال تر پايه بشپړه شي او ۱۵۰۰۰۰ ښځې او نارينه به د حکومتي او خصوصي سکټورونو له امکاناتو څخه په کاروني سره د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰) تر پايه پورې د مسلکي کسبونو په برخه کې زده کړې وکړي.

د افغانستان کلتوري ميراثونه: د افغانستان د کلتوري مجموعو لوی فهرست به د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰) تر پايه پورې تيار کړای شي او د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰) تر پايه پورې به د کلتوري ميراثونو د راستنولو، د کلتوري آثارو د قاچاقو د بندولو او د زيانمن شويو تاريخي توکيو د اعادې لپاره اړين تدبيرونه ونيول شي.

**روغتيا**

روغتيا او خواړه: د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰) تر پايه پورې به د افغانستان د MDG د موخو د ترسره کولو په لاره کې روغتيايي بنسټيز خدمتونه پراخ شي، چې په سلو کې نوي وګړي به تر اغيزې لاندې ونيسي، د ميندو مړينه به په سلو کې پنځلسو ته کموالی ومومي، او هغه ټول ماشومان چې عمر يې د پنځو کلونو څخه کم وي د وقايي وړ ناروغيو په وړاندې به واکسين شي او د مړينې شمير به يې په سلو کې شلوته کمښت ومومي.

**کرهنه او د کليو پراختيا**

کرهنه اومالداري: د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰) تر پايه پورې د توليداتو او حاصلاتو د زياتوالي په موخه به بنسټيز، تقنيني اوتشويقي چوکاټ جوړ شي، ترڅو د کرهنې په هکله د مشروعی کرهنې او کليوالي صنايعو لپاره مساعده چاپيريال رامينځ ته کړای شي. دغه راز د کرکيلې په سکټور کی پانګه ا چونه به په سلو کې ديرش لوړه شي او په دغو برخو کې به ځانګړې پاملرنه کيږي: دايمي بڼ والي، مرستې د ځانګړو استازو د رامينځ ته کولو له لارې د څارويو روغتيايي مسلې او د خوړو د خودنديتوب موضوع ګاني، د مالي خدماتو ميکانيزمونه، د بزګرانو د ټولنې ملاتړ، د ملي توليداتو په نښه کول، د نرخونو په وخت اعلان، د هوا حالات او احصاييو د تګلارو سره سم د تحقيقاتو او تخنيکي مرستو برابرول، د اوبو د رسولو ټينګښت او د اوبو د سمون لارې چارې.

د کليو پراختيا: د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال (۲۰۱۰) تر پايه پورې به د کليو پراختيا په پراخه توګه پياوړې شي. چې له اسانتياو څخه يې په ۳۸۰۰۰ کليو کې ۹ مليونه تنه ګټه واخلي. دغه کار به په ټولو پاتې کليو کې د سيمه ييزې پراختيا د ۱٤۰۰۰ داوطلبو شوراګانو، د سيمه ايزې شورا پياوړتيا او سيمه ييزو ټولنو ته د واکونو د سپارلو له لارې تر سره شي، په کليو کې به په سلو کې نوي د څښاک د پاکو اوبو برابرول او روغتيايي امکانات به په سلو کې پنځوسو ته پراختيا ومومي. په

سلو کې څلویښتو کلیو لپاره به مواصلاتي اړیکي ټینګې کړای شي، ترڅو دغه موضوع په بازارونو، کارونو او ټولنیزو خدمتونو باندې لاس بری زیات کړي. په سلو کی اوه څلویښت کلي به له اوبو څخه په لړه پیمانه ګټه پورته کړي، کابو ۸۰۰۰۰۰ کورنی (د افغانستان په سلو کی دوه ویشت ټولې کورنی) به له ښو مالي خدمتونو څخه کار واخلي: په سلو کې پنځلسو وګړو ژوند د یو نوي میلیونو ورځو د کار برابرولو له لارې ملاتړ وشي.

<u>له نشه یي توکو سره مبارزه:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به حکومت هغه پروګرامونه طرحه او پلي کړي، چې د کوکنارو د کرهنې د ځمکو په ساحه او نورو نشه يي توکو کې، یو ثابت کمښت رامینځ ته شي، تر څو دا کار د مشروعو معاشونو د تر لاسه کولو د لارو د ډولونو پیاوړتیا او له نشه یي توکو سره د مبارزې له نورو تدبیرونو سره د حکومت د MDG له موخو سره سم د نشه یي توکو د اقتصاد د غوڅې او نسبي اندازې د کمولو په اړوند د حکومت د عمومي موخو د یوې برخې په توګه او له نشه يي توکو سره د مبارزې د نورو تدبیرونو په تو ګه ترسره کیږي

**ټولنیز خوندیتوب**

<u>د بېوزلۍ کمول:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د افغانستان د MDG موخو د ترلاسه کولو له لارې د هغو وګړو شمیر چې په یوه ورځ کې یې عاید تر یوه ډالره لږ دی، په کال کې په سلو کې دریو ته او د هغو وګړو شمیر چې د لوږې له امله ځوریږي، هرکال په سلو کې پنځو ته کمښت ومومي.

<u>بشري مسایل او د ناوړه پېښو په وړاندې غبرګون:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د ناوړه پېښو په وړاندې د تیارۍ او غبرګون یو اغیزمن نظام رامینځ ته کړای شي.

<u>معیوبین:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د یو خاص او ځانګړي پروګرام له لارې به معیوبینو ته د کار موندنې زمینې زیاتې کړای شي.

<u>ځوانانو او ملکي شویو سرتیروته د کار موندنه:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې د یو خاص او ځانګړي پروګرام له لارې په ځوانانو او ملکي شویو سرتیرو ته دکار موندنې زمینې زیاتې کړای شي.

<u>کډوال او داخلي بې ځایه شوي خلک:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به هغه ټول کډوال چې راستنیږي او هم داخلي بې ځایه شوی کورنی د هغوی د ژوند د شرایطو د بیا برابرولو او په اصلي سیمو کې د هغوی د ځای پرځای کولو لپاره له مرستو څخه برخمن شي او د ملي پراختیا د پروګرامونو له لارې به په ټولنه کې او په تیره بیا عمومي سیمو ته د هغوی د ورتګ ملاتړ وشي.

<u>مصیبت ځپلي ښځې:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به د هغو کورنیو شمیر چې سرپرستي یې د ښځو په غاړه ده او له سختۍ او بې وزلۍ سره مخامخ دی، په سلو کې شلو ته راټیټ کړای شي او د هغوی د کار موندلو زمینه به په سلو کی شلو ته زیاته کړای شي.

<u>له نشه یي توکو سره مبارزه:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به حکومت د نشه یي توکو لپاره د غوښتنې د کمښت او د روږدو کسانو لپاره د ښې درملنې د امکاناتو د ټینګولو لپاره پروګرامونه پلي کړي.

**اقتصادي واکمني او د خصوصي سکتور پرمختیا**

<u>مالي اداره:</u> د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال (۲۰۰۷) ترپایه پورې به حکومت د مالي ادارې لپاره د څرګندو موخو د رامینځ ته کولو او تر لاسه کولو له لارې د هیواد د مرکز او ولایتونو په کچه، په مالي ادارو کی ښه والی او شفافیت ټینګ کړي. په دغو موخو کی چې د نړیوالی په موافقې او دهغې ترڅارنې لاندې تر سره شول، د بیوزلۍ د له مینځه وړلو په هکله د ودې

پروګرام هم شامل دی. د حکومت د ښه حساب ورکولو په وړاندې او چوکاټ کې به مرستندویان زیاتې هلې ځلې وکړي، ترڅو د افغانستان سره د بهرنیو مرستو ونډه چې د حکومت اصلي بودجې ته ورځي زیاته کړي.

<u>کورني عواید:</u> د افغانستان د بودجې ټول کورني عواید چې په ۱۳۸۳ هجري لمریز (۲۰۰٤) کې په سلو کې څلور اعشاریه پنځه کورني ناخالص تولیدات و، د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به دغه تولیدات په تدریجي توګه په سلو کې اتو ته ورسیږي. اټکل کیږي چې په اصلي بودجه او بهرنۍ پرمختیایي بودجه کې د عادي لګښتونو په ګډون په ټولو عادي لګښتونو باندی عواید به په ۱۳۸۳ هجري لمریز کال (۲۰۰٤) کی په سلو کې له ۲۸ څخه په ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) کې په سلو کې ٥۸ ته زیات کړای شي. په پایله کې به د دویمې ګټې ضمیمه د مندرجو اصولو له مخې په دغو برخو کې پر له پسې اړتیا موجوده وي (۱) د اصلي بودجې لپاره بهرنۍ مرستې، او (۲) په هغو مرستو کې د نرخونو اغیزمن زیاتوالی چې د بهرنۍ پرمختیایي بودجې له لارې عادي لګښتونه تمویلوي.

<u>د خصوصي سکتور او سوداګرۍ پرمختیا:</u> د ۱۳۸٥ هجري لمریز کال (۲۰۰٦) تر پایه پورې به د پانګونې په اړوند ټول قوانین، مقررات او لاربنودني ساده او همغږي شي، او د ۱۳۸٦ هجري لمریز کال (۲۰۰۷) ترپایه پورې به پلې کړای شي. د سوداګریزو ادارو نوی قوانین به د ۱۳۸٥ هجري لمریز کال (۲۰۰٦) تر پایه پورې په ولسي جرګه کې طرحه کړای شي، او د حکومتي تصدیو د پلورلو په هکله د حکومت تګلاره به د ۱۳۸۸ هجري لمریز کال (۲۰۰۹) ترپایه پورې بشپړه شي.

<u>مالي خدمتونه او مارکیټونه:</u> د ټولو مهمو سکټورنو او بانکي او غیربانکي مالي موسسو لپاره منل شوي نړیوال احتیاطي مقررې د ۱۳۸٦ هجري لمریز کال (۲۰۰۷) ترپایه پورې تدوین کیږي. تر ۱۳۸٦ هجري لمریز کال (۲۰۰۷) تر پایه پورې د مرکزي بانک د څارنې رول پیاوړی کیږي. او د ۱۳۸٦ هجري لمریز کال (۲۰۰۷) ترپایه پورې به د حکومتي تجارتي بانکونو بیا سمبالښت او جوړښت بشپړ شي. هغه حکومتي بانکونه چې بیا یې جواز نه دی ترلاسه کړی د ۱۳۸٥ هجري لمریز کال (۲۰۰٦ میلادي) ترپایه پورې به منحل کیږي.

<u>سیمه ییزې همکارۍ:</u> د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال (۲۰۱۰) تر پایه پورې به افغانستان او ګاونډي هیوادونه یې د سرحدونو دګډې اداري او دوه یا څو اړخیزو سوداګرۍ او ټرانزیټي نورو تړونونو له لارې داسې لاره هواره کړي چې په ډیر لنډ وخت کې د افغانستان له لارې د مالونو او توکو ټرانزیټ تر سره شي. افغانستان د بریښنا د دوه اړخیزې پیرودنې له لارې په هیواد کې د بریښنا اوسنۍ اندازه به زیاته کړي. افغانستان او ګاونډیان به یې داسې تړون لیکونه لاسلیک کړي چې له مخې به یې افغانستان وکولای شي چې له خپلو ګاونډیو هیوادونو څخه هیواد ته مسلکي کارګران راولي. او په عین حال کې به افغانان دا امکان ولري چې د سیمې په هیوادونو کې د کار زمینه پیدا کړي او د خپل لاس ګټه هیواد ته و لیږدوي.

**دویمه کڼه ضمیمه**
**له افغانستان سره د مرستو د اغیزمنتیا ښه والی**

نړیوالې ټولنې د ۱۳۸۰ هجري کال (دسمبر ۲۰۰۱) له وروستیو وختو راهیسې، په افغانستان کې د ډیموکراسۍ پر بنسټ د حکومت د راټلونکې لپاره د یادونې وړ پانګونه کړېده. دا تړون لیک پر هماغه ژمنو بیا ټینګار کوونکی سند بلل کیږي. د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه د افغانستان د خاصو اړتیاو په محسوسولو سره د پاریس د اعلامیې له مخې د افغانستان سره د مرستو او د مرستندویو د ملاتړ لپاره د هغو د پایلو په لا اغیزمنتوب ژمن دي.

دپاریس د اعلامیې او په دغه تړون لیک کې د مندرجې همکارۍ د اصولو له مخې: حکومت او نړیواله مرستندویه ټولنه له افغانستان سره تړون کوي چې له دغه تړون لیک سره سم د مرستو د اغیزمنتوب د ښه و الي اصول دادي:

۱: د افغانستان حکومت د لومړیتوبونو د ټاکلو، د پرمختیایي تګلارې او د هغې په چوکاټ کې د هیواد د اړتیاوو د ټاکلو او د مرستندویو هیوادونو همغږي کولو، لارښوونه کوي.

۲: د هغو نړیوالو مرستو په اړوند چې له افغانستان سره کیږي، هم د حکومت او هم د مرستندویو مراجعو له خوا شفافیت او حساب ورکول.

د دغو اصولو له مخې او له افغانستان سره د مرستو د اغیزمنتوب د پیاوړتیا په موخه حکومت به دغه چارې ترسره کړي:

- د افغانستان د ملي پراختیا د تګلارې برابرول چې په مفصله توګه پکې لومړیتوبونه په نښه شوي دي، د افغانستان د MDG د موخو د معیارونو په ګډون د ځارنې له معیارونو سره.
- د ګمرکي عوایدو او مالیاتو له لارې او د عامه هوساینې او حمل او نقل د خدمتونو د لګښتونو د اخیستلو له لارې د کورنیو عوایدو په تولید کې د حکومت د ځواکمنۍ پیاوړتیا.
- د حکومت د اصلي بودجې له لارې د مرستو د لیږدولو د معیارونو په هکله له تمویلوونکو، نړیوالو مالي موسسو او د ملګرو ملتونو د ادارو سره تړون او له دغو معیارونو سره سم له مرستو څخه کار اخیستنه او پرکړنو باندې ځارنه.
- د دغه تړون لیک مندرجو معیارونو ته د رسیدو په موخې د مرستندویه مراجعو له مرستو څخه دګا ر اخیستنې او د تر سره شویو کړنو په هکله د افغانستان د پرمختیایي ټولنې له لارې ولسي جرګې او د افغانستان ټولو خلکو او مرستندویه مراجعو ته د منظم رپورټ ورکول.

<u>مرستندویه مراجع به دغه چارې تر سره کړي:</u>

- د افغانستان د ملي پراختیا د تګلارې په چوکاټ کې د مرستو برابرول له حکومت سره د پروګرامونو او پروژو په برخه کې همغږي رامینځ ته کیږي، تر څو پر لومړیتوبونو باندې تمرکز وشي، د تکرار څخه مخنیوی وشي او د نړیوالو مرستندویانو کړنې په ملي ښه ترسره شي ترڅو په لګښتونو کې سپما رامینځ ته شي.
- د زیاتیدونکو څو کلنو مرستو او مالي ژمنو برابرول چې د اټکل وړ وي، او حکومت وکولای شي خپله ملي تګلاره په ښه توګه پلې کړي. او په اړینو وختونو کې له قید او شرط پرته مرستې برابرې کړي.
- له هر یو مرستندویه سره د افغانستان د حکومت د دوه اړخیزو موافقو له مخې، د هغو مرستو د اندازې زیاتوالی چې د اصلي بودچې له لارې لګیږي او دغه راز د هغو مرستو د اندازې زیاتوالی د اټکل وړ په هغو لارو چارو

سره چې د افغانستان حکومت پکې ونډه ولري مصرف شي. لکه د افغانستان د بیا رغوني امانتي صندوق، د افغانستان لپاره د نظم او قانون وجهي صندوق، او له نشه یي توکو سره د مبارزې امانتي صندوق.

- د حکومتي لګښتونو د اداري سیستم له پرمختیا سره مرسته چې له مرستندویو سرچینو څخه په کار اخیستلو کې د شفافیت او حسا ب ورکولو د ښه والي لپاره اړینه ده او له اداري فساد سره مبارزه.
- د افغانانو د وړتیا په لوړولو کې اړتیاوو ته پاملرنه، د هغو مرستو لګښت چې دبهرنۍ بودجې له لارې تامین کیږي. پکار ده چې داسې ترسره شي چې په حکومتي ادارو، خصوصي سکتور او په غیر انتفاعي سکتورونو کې وړتیا رامینځ ته کړي.
- د پالیسیو د ترتیب په هکله ډاډ حاصلول، لکه د معاشونو د ورکړې پالیسي او د کورنیو بنسټونو ځواکمنول ترڅو د حکومت سره د پروګرامونو په عرضه کې په مینځمهالي او اوږد مهالي توګه مرسته وکړای شي.
- هغه مرستې چې د اصلي بودجې له لارې نه لګول کیږي نو مرستندویان به یې په اړوند لاندې هلې ځلې وکړي.
  - o لومړیتوبونو ته د پاملرنې او د راکړې ورکړې او نورو کړنو د تکرارولو له امله په لګښتونو کې د کمښت په موخه د حکومت له اړتیاو سره د تخنیکي مرستو همغږې کول.
  - o د پروژو په اداره کولو او بشپړولو کې د افغانستان د خصوصي سکتور د وړتیا د لوړولو په موخه د بهرنیو ادارو په لګښت او د پروژو په ثابت لګښت کې د کمښت راوستل.
  - o د پلې کوونکو موسسو په توګه له افغاني موسسو څخه زیاته کار اخیستنه او په بهرنیو هیوادونو کې د ازمویل شویو افغانانو په کار ګمارل.
  - o په افغانستان کې د ملکي او پوځي فعالیتونو لپاره د اړتیا وړ مواد د پیرودلو زیاتوالی، او
  - o د پروژو په پلې کولو کې په تیره بیا د بنسټیزو پروژو لپاره له افغاني موادو څخه کار اخیستنه
- د سیالۍ داوطلبي به د نړیوالو اصولو په چوکاټ کې، د داوطلبۍ په بهیر کې د افغانستان د خصوصي سکټور د ونډې پیاوړتیا او د پروژو د لګښتونو د کمښت او دوړتیا په خنډونو باندې د برې په موخه د مخ پر ودې هیوادونو د همکاریو اوتجربو څخه ګټه اخیستنه.
- د تړونونو د ژمنو او ورکړو (پرداخت) په ګډون د بهرنیو مرستو د بهیر په هکله، پر خپل وخت د شفافو او هراړخیزو معلوماتو برابرول. په داسې لارو چارو سره چې د افغانستان حکومت او ولسي جرګې ته د خپلو فعالیتونو د ترسره کول او هراړخیزه بودجوي رپوټونه وړاندې کړای شي. په دغه کار کې به د هغو مرستو ماهیت او اندازه چې د اصلي بودجې او د افغانستان د بهرنۍ بودجې له لارې وړاندې کیږي، سره یوځای وي.
- د بهرنۍ بودجې د کاروني، کیفیت او اغیزمنتو ب په هکله او هم د هغو څخه د ترلاسه شویو پایلو په هکله حکومت ته د رپورټ وړاندې کول.

د دغو دوه اړخیزو ژمنو موخه داده چې افغان حکومت ته د مرستندویو مراجعو مرستې په اغیزمنه او ګټوره توګه وکارول شي او زیات شفافیت او حساب ورکول پکې شامل وي. او افغانان او د تمویلوونکو هیوادونو مالیه ورکوونکي په دې وپوهیږي، چې د پیسو د لګښت په وړاندې ارزښتونه تر لاسه شویدي.

**دریمه ګڼه ضمیمه**
**څارنه او همغږي**

افغان حکومت او نړیواله ټولنه په دې باور دي چې د افغانستان تړون لیک بریالیتوب په ټاکل شویو مودو کې د پاملرنې وړ معیارونو د ترلاسه کولو لپاره سیاسي، امنیتي، او مالي پیاوړې او کلکې ژمنې غواړي. دغه راز د دغه تړون لیک د بریالیتوب لپاره د همغږۍ او څارنې د یوه اغیزمن میکانیزم رامینځ ته کولو ته اړتیا شته.

په همدې ډول د سکتوري نظم په اوسنیو میکانیزمونو برسیره د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه د افغانستان د حکومت د لوړ رتبه مقاماتو چې د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي او دغه راز د نړیوالې ټولنې د استازو په ګډون د هماهنګۍ او څارنې یوه ګډه کمیټه جوړوي. د همغږۍ دغه کمیټه د افغانستان د حکومت د یوه لوړ پوړي مقام چې د ولسمشر او په افغانستان کې دملګرو ملتونو د سر منشي د خاص استازي له خوا ټاکل کیږي، تر ګډې مشرۍ لاندې وي. موخه به یې د دغې تړون لیک په سمه توګه پلي کیدل وي.

دغه کمیټه به د افغانستان د حکومت او ملګرو ملتونو د کارکوونکو په ګډون یوه کوچنۍ دارالانشاه ولري چې د اړتیا په وخت به د تخنیکي کارپوهانو لخوا ورسره مرسته وشي. دغه کمیټه به د دغې تړون لیک د پلي کیدو د څیړولو او د لازمو اصلاحي وړاندیزونو د وړاندې کولو لپاره دوره یې او د اړتیا په وخت کې خاصې غونډې جوړوي.

د افغانستان دغه حکومتي ادارې او د همغږۍ سکتوري میکانیزمونه به، چې د افغانستان د ملي پراختیا د تګلارې په پلي کولو کې شامل دي، د تړون لیک د پلي کولو په برخه کې خپل آندونه وړاندې کړي. پر دې برسیره، دغه کمیټه به د څیړنو د ترسره کولو لپاره د ملګرو ملتونو د ادارې، د نړیوالو مالي مرکزونو، د مرستندویو سازمانونو، د نړیوالو امنیتي ځواکونو او د اړوندو نادولتي موسسو او د مدني ټولنو د استازو په ګډون د نړیوالې ټولنې نظریې د پاملرنې وړ وګرځوي.

د دغه تړون لیک د پلي کولو د بهیر د پرمختګ په هکله منظم رپوټونه به د همغږۍ او څارنې د ګډې کمیټې له خوا عامو خلکو ته وړاندې کړای شي.

## څلورمه ګڼه ضمیمه
## د افغانستان په هکله د لندن د کنفرانس برخه وال

**برخه وال هیوادونه:**

افغانستان (ګډمشرتوب)
استرالیا
اطریش
بحرین
بلجیم
برازیل
بروني
بلغاریا
کانادا
چین
د چک جمهوریت
ډنمارک
مصر
فنلنډ
فرانسه
جرمني
یونان
هنګري
ایسلند
هندوستان
ایران
ایتالیا
جاپان
اردن
قزاقستان
د کوریا جمهوریت
کویټ
قرغزستان
لیتوانیا
لوکزامبورګ
مالیزیا

هالنډ
نوی زیلاند
ناروی
پاکستان
پولنډ
پرتګال
قطر
رومانیا
روسیه
سعودي عربستان
هسپانیه
سویډن
سویس
تاجکستان
ترکیه
ترکمنستان
متحده عربي امارات
انګلستان (ګډه مشري)
د امریکا متحده ایالات
ازبکستان

**برخه والي موسسې**

د آغا خان بنیاد
د آسیا پراختیایي بانک
اروپایي کمیسیون
دشمالي اتلانتیک تړون (ناټو)
د اسلامي هیوادونو کنفرانس
ملګري ملتونه (ګډ مشرتوب)
اروپایي اتحادیه
اسلامي پراختیایي بانک
نړیوال بانک
نړیوال وجهي صندوق

**کتونکي**

ایرلنډ
کرواشیا
مالټا
ارجنټاین
قبرس
لیتویا
عمان
سلوانیا
چیلي
ایستونیا
مقدونیا
د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان
سنګاپور
سلواکیا

## ضمیمه ر

## د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ عمومي لنډیز

## ۱۳۹۱-۱۳۸۷

بسم الله الرحمن الرحیم

**زموږ لرلید د افغانستان د راتلونکی په هکله**

د ۱٤۰۰ هجري لمریز (۲۰۲۰ م) کال پورې به افغانستان لاندې لاس ته راوړونې ولري:

- د یو دموکراتیک سیاسي نظام درلودنکي هیواد چې په اسلامي اصولو او اساسي قانو ن برابر وي، د کورني امنیت او سولې څخه برخمن او د ګاونډیو سره به سوله ایزې اړیکې ولري او په نړیواله کچه به د درناوي خاوند وي.
- یو زغم لرونکی، ملي یووالي درلودونکي، ډیر ګوندیز، اسلامي ارزښتونو ته ژمن، او د ملي مشارکت، عدالت او ټولو ته د برابرو حقونو منونکی ملت به وي.
- دهیلو څخه ډکه نیکمرغه ټولنه به وي، چې د آزاد بازار، د ځواکمن خصوصي سکټور، ټولنیزې برابرۍ او د ژوندانه د چاپیریال د ښې ساتنې پر بنسټ به رامینځ ته شوي وي.

د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې موخې ۱۳۸۷- ۱۳۹۱ (۲۰۰۸-۲۰۱۳)

د افغانستان د ملي پر مختیا تګلاره داسي یو پلان دی چې د پنځلسو کلونو لپاره د افغانستان د پرمختیایي موخو(MDG) پربنسټ رامینځ ته شوی دی، او په افغانستان کې د بیوزلۍ د له مینځه وړلو لپاره د یو مهم لاسوند په ډول ورڅخه کار اخیستل کیږي. دغه تګلاره د افغانستان د تړون لیک پر اصولو، ستنو او معیارونو ولاړه ده. د افغانستان د ملي پرمختیایي تګلارې ستنې او اهداف په لاندې ډول دي.

۱. امنیت: ملي ټیکاو ته لاسرسی، د قوانینو د تطبیق د میکانیزمونو ځواکمنتیا، او د هر افغان وګړي لپاره د امنیت تامینول.

۲. حکومت داري، د قانون واکمني، او بشري حقونه د دموکراسۍ او د بشري حقونو ځواکمنول، د قانون واکمنتیا، د عامه خدمتونو رسول، او حساب ورکول.

۳. اقتصادي او ټولنیزه وده: د بیوزلۍ کمول، د آزاد بازار د لارې چې د خصوصي سکټور لخوا مخکې بیول کیږي د دوامداره او تلپاتې پراختیا تامینول، د بشري ودې د شاخصونو بهبود، او په پنځلسو کالو کې د افغانستان د پرمختیایي موخو (MDG) پر لور د کتنې وړ پرمختګ.

بسم الله الرحمن الرحیم

د نن څخه شپږ کاله مخکې د افغانستان خلکو او نړیوالې ټولنې لاسونه سره ورکړل ترڅو افغانستان د نړیوال تروېرزم له منګولو څخه وژغوري او د هیواد د بیارغوني کار چې د تروریزم ا و تا وتریخوالي څخه یې سر راپورته کړی و پیل کړي. موږ په دې مشترک سفر کې ډېر مزل وهلی دی.

په یوه ډیره لنډه موده کې موږ وکولای شول ترڅو د نړیوالی ټولنې په همکارۍ داسي یو اساسي قانون جوړکړو چې د ولسواکۍ ارزښتونه، د بیان آزادي، د ښځو د حقونو مساویتوب، تضمینوونکی دی. د افغانستان ملت د لومړي ځل لپاره په ټولټاکنو کې برخه واخیستله او د ولسي جرګې غړي یې وټاکل، څه نا څه پنځه میلیونه کډوال بیرته وطن ته راستانه شول، چې په تاریخ کې دا لومړی ځل دی چې په دومره لویه پیمانه خلک بیرته خپل پلرني هیواد ته راستنیږي.

په زرګونو ښوونځي جوړ شول، او د شپږو میلیونو څخه زیات هلکان او نجوني ښوونځیو ته ولاړل، چې د افغانستان په تاریخ کې دا یوه لویه شمیره زده کوونکي دي چې ښوونځیو ته ځي. په سلګونو روغتیایي کلینیکونه جوړ کړای شول. شپږ کاله د مخه روغتیایي آسانتیاو ته د خلکو لاسرسی ۹ په سلو کې و خو د غه سلنه اوس ۸۵ ته رسیدلې ده. معالجوي او تشخیصي خدمتونه چې په ۱۳۸۱ کې یې هیڅ شتون نه درلود اوس د ۴۰ په سلو کې څخه زیات دي. موږ تراوسه ۱۲۲۰۰ کیلومتره سړک بیا رغولی دی، چې دغه کار د خلکو د عوایدو او د ژوند د کچې د ښه والي سبب ګرځیدلی دی. د سړکونو د شبکې او د مواصلاتي بنسټونو په جوړیدو سره به افغانستان د سیمې د هیوادونو ترمینځ د یو اقتصادي پل په ډول را څرګند شي.

دغه لاس ته راوړنې د نړیوالې ټولنې له جدي ملاتړ او د افغانستان د خلکو د ټینګې ارادې پرته شونې نه وې. زه غواړم یو ټکي ته اشاره وکړم او هغه دا چې دغه لاس ته راوړنې باید موږ د خپل لوی مسوولیت څخه چې په مخکې یې لرو بې پروا نه کړي. د مخدره توکو او تروریزم ګواښ اوس هم افغانستان او سیمه له اغیز لاندې لري. ا و زموږ د پرمختیایي چارو په مخ کې خنډ دی. زموږ پرمختګونه لا اوس هم د خلکو د بې باورۍ د اغیزې لاندې دي. او دا ځکه چې د حکومت د کارونو د نه همغږۍ او د خدمتونو د رسولو ناکافي میکانیزمونه او نااغیزمنو مرستو خلک بې باوره کړیدي. د مرکزي حکومت او د سیمه ایزو ادارو ځواکمني، او د قضا بیا رغونه زموږ د ستونزمنو دندو څخه شمیرل کیږي.

زه خوښ یم چې د دغه ننګونو سره د مبارزې لپاره تاسې ته د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره درپیژنم. دغه تګلاره په هیواد کې د نه ستړې کیدونکو پراخو زحمتونو او مشورو په ترڅ کې رامینځ ته شوې ده. دغه تګلاره یو معتبر سند دی چې په خپله د افغانستان د خلکو لخوا د ټولو بشري ډګرونو په اړوند طرحه شوی ده. او د بیوزلۍ د له مینځه وړلو د سند په نوم هم یادیږي. زه بشپړ باور لرم چې د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره به موږ د افغانستان د ترون لیک او د افغانستان پرمختیایي موخو (MDG) ته په رسیدلو کې مرسته وکړي. همدغه راز لکه څنګه چې موږ د بهرنۍ نړۍ پورې د تړاو د کموالي او په خپل تلپاتي اقتصاد باندې د متکي کیدلو په لور روان یوو نو دغه تګلاره خپلو اوږد مهاله موخو ته د رسیدو او د کړنو د افغاني کیدلو لپاره یو ښه لار ښود ګڼم.

زه د نړیوالې ټولنې څخه د دوی د با ارزښته مرستو چې موږ سره یې کړیدي مننددوی یم، او د دې تګلارې له لارې چې اوس یې افغانان خاوندان دي، له ټولو همکارانو څخه غواړم چې ترڅو زموږ د ملي پرمختیا د هلو ځلو څخه ملاتړ وکړي. زه په دې برخه کې د ټولو افغانانو برخې اخیستلو ته سترګې په لار یم، او د ټولو افغاني او نړیوالو همکارانو څخه چې د دې تګلارې په جوړولو کې یې نه ستړې کیدونکې زحمتونه ګاللي دي قدرداني او مننه کوم. په اخر کې زه د افغانستان د ملي پرمختیا د دارالانشا د ټولو همکارانو او څارنې د کمیټې څخه هم مننددوی یم چې د دی تګلارې په جوړولو کې یې ونډه اخیستې ده.

حامد کرزی د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس.

### أ. سريزه

د افغانستان نوی حکومت د ۱۳۸۰ هجري لمريز کال په مني کې (د ۲۰۰۱کال په ورستيو) په داسي حال کې رامينځ ته شو چې خلک او دولت يې په بې سابقه ډول د معاصر تاريخ په لړ کې د بدبختيو او ورانيو سره مخامخ شوي وو. د هيواد پر فزيکي، بشري او ټولنيزو شتمنيو د ورانيو دغه پراختيا په افغانستان او نړيواله ټولنې په اوږو باندې يو تاريخي مسووليت وراچولې دی، دغه مسووليت دا دی ترڅو په افغانستان کې يو اسلامي، ډيرګونديز او د قانون واکمنی ته ژمن دولت چې ټول افغانان پکې په مساوي، سوله ايز او باعزته ډول ژوند وکړي او د خپلو باالقوه اقتصادي وړتياوو څخه په ښه شان ګټه واخلي، عامه خدمتونو ته لاسرسی ولري، او د دې هيواد د اتباعو په عنوان د مساوي حقونو درلودونکي وي دولت را مينځ ته شي.

د کتني وړ پرمختګونو او قربانيو د شتون سره سره، شپږ نيم کاله وروسته هم په بشپړ ډول خپلو موخو ته نه يوو رسيدلي. هم موږ او هم زموږ نړيوالو دوستانو د شته خنډونو د پراختيا او د برياليتوب د لازمي مودې په درلودلو سره هم هغې ته په کم نظر وکتل، ناامني، بيوزلي، فساد، او د نشه يي توکو پرمختلونکی صنعت، د دې خبرې ښکاروندی دی چې د افغانستان په وړاندې د ننګونو په ماهيت او حجم کې دومره بدلون نه دی راغلی، د افغانستان خلک د خپل بشري قوت په پوهيدو سره اوس هم بې وسي پاتې دي. مګر دغه بې وسي به هله له مينځه ولاړه شي، چې د ودې، امنيت او سياسي تګلارو، ترمينځ د افغانانو د کلتور او د سرچينو د محدويت په پام کې نيولو سره يو تعادل رامينځ ته شي. د وسايلو او د مهارتونو، همدا شان د حکومت او د نړيوالې ټولنې په سياسي ملاتړ افغانان کولای شي د خپلې ټولنې په پراخه بيا رغونې او د تلپاتې سولې په راوستلو کې مهم رول ولوبوي.

د افغانستان د ملي پراختيا تګلاره، په هغه ډيرو ستونزو باندې برياليتوب چې په هيواد کې شتون لري او د خلکو غوښتنو ته د مثبت ځواب ويلو لپاره د دوه کلونو د څيړنو وروسته د لومړيتوبونو په ټاکلو کې د ملي او ولايتي مشورو په پايله کې ترتيب کړای شوي ده. د افغانستان د ملي پراختيا تګلاره هغه موخو ته چې د افغانستان د پرمختيايي موخو (MDG) لخوا د راتلونکو پنځلس کلونو لپاره ټاکل شوي وي يو ښه لارښود ګڼل کيږي او خپله د افغانانو لخوا جوړه شوې ده. او د بيوزلی له مينځه وړلو لپاره د هيواد د ملي تګلارې په ښه ورځخه ګټه اخيستل کيږي. د دې لپاره چې دا تګلاره په برياليتوب سره پلې شي نو بايد د ملي وړتياو په لوړولو کې پانګونه وشي، لکه: پوهنه، انرژي، زراعت اوبه لګول، او د پخلاينې په پرمختګ، عدالت او بديل معيشت په زمينو کې. د افغانستان د ملي پراختيا تګلاره چې يوه مفصله ستراتيژي ده او ټول لګښتونه پکې محاسبه شوي دي، د افغانستان د ترون ليک پر بنسټ رامينځ ته شوی ده. داسې يوه طرح ده چې اوږدمهالو ټاکل شويو موخو ته د رسيدلو لپاره، د کارونو د افغاني کيدلو او د پرمختيا او د ثبات او تلپاتې ودې، او بشري انکشاف په هدف رامينځ ته شوې ده. د دې لپاره چې د افغانستان د ترون ليک اهدافو ته ورسيږو چې په سولې، ښې او سالمې حکومت دارۍ، او داسې ټولنيز او اقتصادي تلپاتې پرمختګ، چې پايله يې افغانانو ته د محسوسيدو وړ وي، نو بايد د لسګونو کلونو د ناکاميو، تاوتريخوالی او بې شميره رنځونو باندې د موفقيت څخه بل بديل نشته.

### ب. د ۱۳۸۰کال دقوس د مياشتې (دسمبر ۲۰۰۱) څخه تر اوسه پورې زموږ لاس ته راوړنې:

د بون پريکړه ليک چې د ۱۳۸۰ کال د قوس په ۱٤ نيټې (۵ دسمبر ۲۰۰۱) رامينځ ته شو نو افغانستان يې د يوې نوې دموکراتيکې دورې پر لور رهبري کړې. د بون د کنفرانس څخه وروسته ډير ژر يوه لنډمهالي اداره رامينځ ته شوه، چې د هغې څخه وروسته د يوې بيړنۍ لويې جرګې – چې د لسګوو کلونو څخه وروسته د افغانستان د خلکو اصلي نماينده ګانو پکې ګډون وکړ- په ترڅ کې يوه انتقالي اداره مينځ ته راغله. په ۱۳۸۳ (۲۰۰٤) کال کې د دريو لسيزو څخه وروسته افغانستان وکولای شول يو اساسي قانون ولري ترڅو د سياسي سيستم لپاره ورڅخه د يو بنسټ په توګه کار واخيستل شي. د دورې خپلواکې او عادلانه ټولټاکنې ترسره شوې، زموږ هيواد افغانستان د داسې يو ولسمشر لرونکی دی چې په دموکراتيک

ډول ټاکل شوی دی، همدغه راز د ملي شورا او ولایتي شورا درلودونکی هم دی. په شرایطو برابر ٧٦ په سلو کې خلکو د ولسمشرۍ په ټاکنو کې ګډون وکړ. د شورا ٢٧ په سلو کې غړي ښځینه غړي تشکیلوي.

د ١٣٨٠ کال را هیسې د سیاسي پرمختګونو په څنګ کې نور داسې عمده پرمختګونه لکه د شپږ میلینو ماشومان تګ لومړنیو او ثانوي ښوونځیو ته، چې ٣٥ په سلو کې یې انجوني وې، د بنسټیزو روغتیایي خدمتونو د هیواد ٨٥ په سلو کې وګړي د پوښښ لاندې نیولي، ٨٠ په سلو کې خلک د واکسینونو څخه برخمن شوي، د پنځه میلیونو څخه ډیر کډوال بیرته هیواد ته راستانه شوي، د ١٢٢٠٠ کیلومتره په شاوخوا کې د حلقوي سړک په شمول سړکونه رغول شي، د ٦٣٠٠٠ څخه زیات وسلوال خلک د ملکي کیدنې د پروسې سره یو ځای شوي. د ملي اردو او ملي پولیسو لپاره ټاکل شوې شمیره په بشپړیدو ده، د دولت اصلي اقتصادي بنسټونه، او ټولنیز خیریه بنسټونه بیا رامینځ ته کړای شول، او اوس با ارزښته بنسټیز خدمتونه وړاندې کوي. پولي واحد او د محاسباتو یو ملي واحد سیستم جوړ کړای شو. د لوی اقتصاد ټیکاو، مالي نظام، احتیاطي پولي سیاستونه، د پیسو د پړسوب د کچې ټیټوالی، او مالي عامه اداره را مینځ ته شوې ده. مخابراتي او تجارتي بانکداري چې د خصوصي سکتور لخوا مخکې وړل کیږي په بشپړ ډول فعال دي.

د بون د پریکړه لیک د بریالي بشپړتیا څخه وروسته د افغانستان دولت او نړیوالې ټولنې د افغانستان تړون لیک جوړ کړ، چې دغه تړون لیک د ١٣٨٤ (٢٠٠٦) د انګلستان د لندن په ښار کې منعقد شو، د بون پریکړه لیک د دولتي بنسټونو د بیا را مینځ ته کیدو سبب شو او د افغانستان د تړون لیک موخه د دغه بنسټونو په کار اچول و. دې موخې ته درسیدو په خاطر د افغانستان په تړون لیک کې د دولت جوړونې د ملاتړ، دیو لړ امنیتي معیارونو، حکومتدارۍ او اقتصادي او ټولنیزې ودې، له نشه یي توکو سره د ګډې مبارزې او سیمه ایزې همکارۍ په اړوند مسایل تعیین شویدي. د افغانستان دولت د افغانستان د تړون لیک په اساس د افغانستان د ملي پرمختیا تګلارې لومړنی سند ترتیب او وړاندې کړ، چې دغه سند اوس د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې په نامه یادیږي.

**ج. اوسنی حالت او ننګوني:**

په نړۍ که هیڅ داسې هیواد نشته چې د هغه ننګونو سره چې افغانستان مخامخ دی، مخامخ وي. زموږ هیواد د لسیزو د جګړو له امله په کنډوالو بدل شوی، بشري زیربنا، او فزیکي بنسټونه یې په بشپړ دول له مینځه تللي او یا هم ډیر زیانمن شوي دي. په اوس وخت کې د افغانستان خلک د بیوزلۍ سره مخامخ دي، مالي سرچینې لږې دي. چې دغه کار د خدمتونو په رسولو کې خنډ رامینځ ته کړی، د بنسټ پالو، تروریستانو او مجرمینو لخوا ورځ په ورځ نا امنۍ زیاتوالی موندلی دی، حکومت دارۍ کمزورې شوې، او اداري فساد شتون لري. د خصوصي سکتور ودې ته زمینه نه ده برابره، د مخدره توکو ډیریدونکې او پراخه صنعت خپلې منفي اغیزې شیندلې، او د بشري وړتیاو شتون په عامه او خصوصي سکتور کې ډیر لږ دي. پرستونزو بریالیتوب او د هیواد بیا رغونه، په داسې ډول چې په دوامداره ډول اقتصادي پرمختګ ته لاره برابره کړي، د نړیوالې ټولنې دوامداره مرستو ته ضرورت لري.

که چیرې نا امني په ځینو ولایاتو کې شتون ولري، او کمښت پکې را نشي، موږ نه شو کولای ټولنیزه او اقتصادي پرمختیا رامینځ ته کړو. د بنسټ پالنې او تروریسم د له مینځه وړلو لپاره د دولت او نړیوالې ټولنې د هلوځلو سره سره د ١٣٨٤ کال راهیسې، امنیتي وضع په تدریجي ډول خرابه شوې ده. د افغانستان په سویل او سویل ختیځ کې امنیت ځانګړې اهمیت لري، او د افغانستان د ملي پرمختیا دتګلارې د پلي کیدو یو شرط هم د امنیت شتون ګڼل کیږي. خو امنیت یواځینې عنصر نه دی، د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره هغه وخت بریالیتوب ته رسیږي چې دولت وکړای شي ترڅو په ټول هیواد کې د قانون د واکمنۍ ملاتړ وشي. او دغه واکمني هغه وخت رامینځ ته کیدای شي چې په مرکزي او محلي کچه ښه حکومت داري چې ټولو افغانانو ته خدمتونه عرضه کړي جوړه کړای شي.

د امنیت د تامین په لاره کې دوه ستونزې چې یو د بل سره په مستقیمه ډول اړیکه لري، شتون لري. په عامه سکتور کې د فساد موجودیت او د نشه یي توکو د صنعت چټک پرمختګ. اوسنۍ شمیرنې ښایي چې په ټول هیواد کې فساد شتون لري او په عامه ادارو کې دغه ورځ په ورځ زیاتیدونکی فساد د خصوصي پانګوونکو د ناهیلۍ سبب کیږي. چې دغه کار بیا د اقتصادي فعالیتونو لګښتونه او نور و ګواښونو ته زیاتوالی ورښیي. د هیواد په ځینو برخو کې د امنیت نه شتون، د کوکنارو کرلو ته زمینه برابره کړې ده او د نشه یي توکو صنعت یې زیات کړی دی. نشه یي توکو اقتصاد په نورو مشروع اقتصادي موکو باندې بشپړه اغیزه شیندلې ده. چې په نتیجه کې یې ډیرې پیسې لاس ته راځي او د تروریزم د فعالیتونو په زیاتیدا کې مرسته کوي. همداشان په دولتي ادارو کې د فساد د رامینځ ته کیدو سبب هم کیږي. همدغه راز حکومت باید د ټولنیزو خدمتونو په اړوند په ځانګړي ډول پوهنه او روغتیا د ځیرنې لاندې ونیسي، د سواد کچه په کلیوالو سیمو کې په ځانګړي ډول په ښځو کې ډیره ټیټه ده، روغتیایي شاخصونه هم د نړۍ په نسبت په افغانستان کې په ډیره ټیټه درجه کې قرار لري. د سیمې د هیوادونو په پرتله په افغانستان کې روغتیایي لګښتونه د یو پر څلورمې څخه هم ټیټ دي.

دولت په جدي قاطعیت سره د بازار د اقتصاد سره چې د خصوصي سکټور د لارې کنټرول شي ژمن دی. چې دغه کار په مداوم ډول د اقتصاد د پرمختګ سبب کیږي. او د کار په موندلو کې مرسته کوي. همدا شان د اقتصادي پرمختګ په مخکې هم یو لړ ستونزې شته چې باید د ځیرنې لاندې ونیول شي، تر څو زموږ هڅې بریالۍ شي.

۱. د هیواد فزیکي بنسټونه لکه، سړکونه، د اوبو او بریښنا رسونه، او ټول هغه زنځیري ارزښتونه چې کورنې او بهرنې بازارونه سره نښلوي، داسې خنډونه پکې موجود دي چې د هیواد اقتصادي پرمختګ ملاتړ وکړي او په بیوزلۍ کې کمښت رامینځ ته کړي.

۲. معنوي بنسټونه لکه د اقتصادي کړونو بشري او بنسټیزې لازمې وړتیاوې، هیڅ شتون نلري. د عامه او خصوصي سکتور په برخه کې د وړتیاوو لوړلو ته ډیره پاملرنه شوی ده خو د پرمختګ او پراختیا په اړوند افغانستان د ملي پرمختیا تګلارې موخو ته رسیدل ډیر وخت غواړي.

۳. اقتصادي حکومت داري کمزوري ده، دولت په دې لټه کې دی چې پراخ اقتصادي اصلاحات رامینځ ته کړي. خو د دغه اصلاحاتو د پلي کولو لپاره د بنسټیز او مقرراتي چوکاټ رامینځ ته کول ډیرو کلونو ته اړتیا لري.

٤. د اقتصادي او سیاسي انزوا په وخت کې د افغانستان سوداګریزې اړیکې، د سیمې د هیوادونو او نورې نړۍ سره ډیره ضربه لیدلې او باید بیا ورغول شي، د دې لپاره چې افغانستان یوځل بیا د سیمې او د نړۍ د اقتصاد سره تړاو ومومي نو باید د خصوصي سکتور پرمختګ ته لازمې لارې چارې برابرې شي.

٥. د مالي مسایلو او ځمکې پورې اړوند مسایلو لپاره مهمو بازارونو لا پراختیا نه ده موندلې، نو ځکه د خصوصي پانګوونکو فعالیت ډیر محدود دی. افغانستان د سوداګریزو او طبیعي سرچینو او زیرمو درلودونکی دی. چې د هغوی څخه په سمه ګټه اخیستنه به خلکو ته د کار موندنې زمینه هم برابره شي او هم به دولت ته په کافي اندازه عواید لاس ته ورشي.

کومه ناهمغږې او غیرمنظمه طریقه چې د افغانستان د پرمختګ او بیا رغونې لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، دهغې همغږې کول او منظمول په لومړیتوبونو کې حسابیږي. او باید هغه شکل ته چې د افغانستان د ملي پرمختیا تګلارې کې راغلي دي، بدلون ومومي. دې ته په پاملرنې سره چې د ا اوس هم یو لوی پیمانه مرستې د افغانستان د دولتي بودجې څخه بهر لګول کیږي، د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې په بریالۍ توګه پلي کیدلو لپاره لازمي ده چې د مرستو د اغیزمنتیا لپاره همغږې رامینځ ته کړای شي.

**د. د افغانستان د ملي پرمختیا تګلارې جوړول**

دولت د ملي پرمختیا پنځه کلنه طرح جوړه کړې ترڅو د هغې په وسیله امنیتي ستونزو حکومت دارۍ او پرمختیایي اړتیا و ته په پراخ ډول رسیدګي وشي. د افغانستان د ملي پرمختیا تګلارې د راتلونکو پنځلس کلونو لپاره د افغانستان د تړون لیک او د افغانستان د پرمختیایي موخو لاره تعقیب کړې او د دولت سره د دغه موخو په پلي کیدو کې مرسته کوي.

د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره، په ملي، ولایتي، او سیمه ییزه کچه د پراخو مشورو په پایله کې رامینځ ته شوې ده. په دغه ملي مشورو کې ټول دولتي او مدني بنسټونه، نا دولتي موسسې، فرهنګي ټولنې، مذهبي جمیعتونه، د قبایلو مشران، خصوصي سکتور، پرمختیایي کارپوهان او نړیواله ټولنه شامل دي. په ولایتي مشورو کې د والیانو، دولایتي ادارو نماینده ګانو، کلیوالي شوراګانو، د هر ولایت د ملي شورا وکیلانو، د مدني ټولنو د نمایندګانو، د ولایتي بیا رغوني دټیمونو د نماینده ګانو او مشهورو خلکو سره په ټولو ۳٤ ولایتونو کې خبرې اترې شوې دي. د ۱۷۰۰۰ څخه زیاتو خلکو چې پنځوس په سلو کې یې ښځې وې په دې مشورو کې په مستقیم ډول برخه اخیستلې ده.

د افغانستان د ملي پرمختیا تګلارې په هکله د دولایتي مشورو تر سره کول په لومړي ځل د پلازمینې او ولایاتو ترمینځ د کلیدي پوهاوي په مانا دي. او د دې لپاره چې د ولایاتو او مرکز ترمینځ تړاو ته ځواک وروبښي دغه طرح وړاندې شوې وه. د دې مشورو په پایله کې د کلیو په کچه ۱۸۵۰۰ پرمختیایي پلانونه،۲۹۰ پرمختیایي پلانونه د ولسوالیو په کچه او په پای کې ۳٤ انکشافي پلانونه د ولایتونو په کچه طرح کړای شول. ولایتي پلانونو د هر ولایت پرمختیایي اړتیاوې او لومړیتوبونه په ګوته کړي دي.

د دې تګلارې په ترتیبولو کې دولت د معلوماتو پر بنسټ او د بیوزلۍ د څیړنیزو طریقو پربنسټ پالیسي اختیار کړې ده. ترڅو د بیوزلۍ اصلي لاملونه او اغیزې ومومي. د دغه څیړنو پر بنسټ موږ وکولای شول تر څو د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره د ټولنې د بیوزلې طبقې د وضعیت سره سمه ترتیب کړو. د افغانستان د دولت موخه د بیوزلو خلکو په نظر کې نیولو څخه دا ده چې هره پانګونه په مستقیم ډول د بیوزلۍ په له مینځه وړلو باندې اغیزه وکړي، د هدفمندو او زمینه برابرونکو پالیسیو جوړول خلکو ته ټولنیز خوندیتوب ور په برخه کوي. په دې مانا چې د افغانستان د حکومت موخه داده ترڅو د ټولنې د تر ټولو بیوزلو وګړو د اقتصاد د مینځنۍ رشد، څخه ژر ښه والی ومومي. د هغه سروې چې د ۱۳۸٦ کال (۲۰۰۷) په پسرلي کې تر سره شوه او په ملي ډول خطرونه او آسیب پذیرۍ پکې و ارزول شوې په پایله کې څرګنده شوه چې د بیوزلۍ کچه ٤۲ په سلو (د هیواد ۱۲ میلیونه وګړي) چې سرانه عاید پکې تقریباً په میاشت کې ۱٤ ډالره و.

سر بیره پردې، د اټکلونو له مخې د افغانستان ٤٥ په سلو کې وګړي د غذایي بیوزلۍ سره مخامخ دي. یعنې دغه طبقه خلک نه شي کولای د لازمي انرژۍ د لاس ته راړولو لپاره چې په ورځ کې ۲۱۰۰ کالوري ده خواړوه برابر کړي. ۲۰ په سلو کې وګړي د بیوزلي کرښې ته نږدې دي نو د ا په دې مانا ده چې دوی هم د بیوزلۍ له خطر سره مخ دي. هم ملي مشورې (د ټولنې د هرم د لوړې کچې څخه تر ټیټې کچې) او هم ولایتي مشورې (د ټولنې د هرم د ټیټې کچې څخه پورته کچې ته) په سکتوري تګلارو کې ځای کړای شوي او د سکتوري ستراتیژیو په طرح کولو کې یې مرسته کړې ده. او د دې زمینه یې چې بودجه د مشخصو پروګرامونو پر بنسټ جوړه شي برابره کړې ده. د افغانستان د ملي پرمختیا تګلارې، د حکومت پرمختیایي لومړیتوبونه دمالي چوکاټ سره سم چې ټولو هیوادنیو اړتیاوو ته رسیدګي وکړي غوره کړي دي.

**هـ. د افغانستان د ملي پرمختیا تګلارې موخې**

**لومړی رکن: امنیت**
**اوږد مهالي هدف: ثبات ته رسیدل،د قانون پلي کیدل او په ټول هیواد کې د افغانانو لپاره وګړنیز امنیت راوستل:**

سرتاسري امنیت راوستل د حکومت دارۍ، د خصوصي سکتور د پرمختګ، د اقتصادي پراختیا، د بیوزلۍ د کمښت او د وګړنیزې آزادۍ څخه د ساتنې یو حیاتي او اغیزمن شرط ګڼل کیږي. د دې رکن په چوکاټ کې ستراتیژیکه موخه د دولت، وګړو او شتمنیو د امنیت ساتل، د همغږو ا و دایمي، دفاعي، امنیتي او قانوني نظم له پالیسیو له لارې، ده. حکومت د ملي امنیت په برخه کې پالیسي تدوین کړې ده. چې د امنیتي سکتور د اصلاحاتو د پروګرام له لارې پلې کیږي. دغه چاره به د افغان ملي امنیتي ځواک او د ناټو یا آیساف او ائتلافي ځواکونو تر مینځ همغږي ته بهبود او ښه والي ورو بښي.

**ننګونې:**
له دې څخه د مخه چې افغانستان په بشپړ ډول خپل امنیتي مسوولیت په غاړه واخلي، د ډیرو او جدي ننګونو سره مخامخ دی. تروریزم، بهرنۍ لاسوهنې، بې ثباتي، د حکومت دارۍ په برخه کې کمزورې ظرفیت، په ځینو برخو کې د حکومت له اغیزمن کنټرول څخه، په ځانګړي ډول په سویل او سویل ختیځ کې، مخنیوی کوي. د مخدره توکو په زیاته پیمانه تولید، اوس هم تروریستي ګروپونو ته مالي سرچینې په لاس ورکوي. ماینونه او ناچاودي مهمات، یو مهم ګواښ ګڼل کیږي. د ۱۳۸۰ (۲۰۰۱) کال را په دیخوا څه نا څه پنځه زره افغانان د ماینونو د چاودیدو له امله مړه یا ټپیان شوي دي. تر اوسه پورې د ۳٤ ولایتونو له جملې څخه دوه یې په بشپړ ډول د ماینونو څخه پاک شوي دي.

امنیتي اړتیاوو ته د رسیدنې لپاره یوازنۍ اوږد مهالې د حل لاره دا ده چې افغانستان وکړای شي د خپل هیواد امنیت په خپله وساتي، د امنیتي ځواکونو مالي ملاتړ په اوږدمهالي ډول خپله افغانستان پوره کړي. د اقتصادي پرمختګ په راتللو سره به دغه مسوولیت په خپله غاړه واخلي، یعني د امنیتي چارو افغاني کول. اما ترهغه چې افغانستان دغه مسوولیت ته د رسیدلو لپاره اقتصادي وړتیا مومي، نړیواله ټولنه باید د دغې تشې د ډکولو لپاره خپلې مرستې جاري وساتي.

**موخې:**
۱. **د افغانستان ملي اردو:** د افغانستان اوږدمهالي موخه د داسې یوې اردو جوړونه ده چې وکولای شي کورنی ثبات وساتي و د ملي حاکمیت څخه دفاع وکړي او په عین وخت کې د سیمه د امنیت په ساتنه کې هم ونډه واخلي. د دې موخو د لاس ته راوړلو لپاره د ځواکونو وروستنی شمیره لا د نړیوالې ټولنې او افغان حکومت لخوا نه ده ټاکل شوی. خو د ۸۰۰۰۰ (یا ٦٦۰۰ د روزنې لاندې) هغه شمیره ده چې د ۱۳۸٦ دسلواغې په میاشت (۲۰۰۸ فبروري) کې د څارنې او همغږۍ د مشترک بورد لخوا په یوه غونډه کې تصویب شوه. او دا داسې یو ټکی دی چې د نږدې راتلونکې لپاره موخې ټاکي. د ۱۳۸۹ د مرغومي (۲۰۱۰ ترپایه) به د افغانستان ملي اردو دغه موخې ته ورسیږي. او آن له دې شمیرې څخه به زیاته هم شي. دغه بریا به د افغانستان ملي اردو د عملیاتو په مستقلانه ډول چې ۷۵ په سلو کې به د کنډکونو او لواګانو (د بهرني ملاتړ او هوایي حمایت څخه په ګټې اخیستلو) لخوا ترسره کیږي. د افغانستان ملي اردو به ملي او سیمه ایز توازن په پام کې ساتي، او د یو درناوي وړ اردو په توګه به خپل اعتبار د حساب ورکونې، مسلکي توب، او امنیتي اړتیاوو ته د مثبت ځواب ورکولو له امله زیادت وربښي.

**۲. افغان ملي پولیس:** د پولیس په اړوند د افغانستان اوږدمهالي موخه د یو مسلکي پولیسي ځواک رامینځ ته کول دي چې په نړیوالو منل شویو حقوقي معیارونو برابر وي. بشري حقوقو مراعات کړي. د مسلکي کارمندانو د اداري لاندې وي. ښوونه او روزنه ولري، کافي تنخوا ورکړل شي. پلان جوړونه، مدیریت، او د لیاقت پر بنسټ د پولیسو د استخدام جوګه وي. او دغه ځواک وکړای شي چې د تروریستي ګواښونو او د نورو وسلوالو دولت ضد ګواښونو په مقابل کې د خلکو څخه ساتنه وکړي او په ټول هیواد کې په یو ډول قانون پلی کړي. دغه ځواک د دې جوګه هم وي چې د شرایطو او وضع په بدلون کې خپلې دندې په عنعنوي توګه هم ترسره کړي. د ۱۳۹۲ کال تر مرغومي (۲۰۱۳ ترپایه) به د کورنیو چارو زرات مخکې ټاکل شوې شمیره ۸۲۱۸۰ مسلکي پولیس ولري (د سرحدي پولیسو په شمول) دغه ځواک باید د کورني نظم او د قانون د پلي کیدلو وس ولري. او همدغه راز باید د محلي اوسیدنکو اړتیاوو ته ځواب ووایي او د کورنیو چارو د وزارت د سرپرستۍ لاندې به کار کوي.

**۳. د ناقانونه وسلوالو ډلو بې وسلې کول:** ټولې ناقانونه وسله والې ډلې باید د ۱۳۹۱ کال ترپایه (۲۰ مارچ ۲۰۱۱) پورې په ټولو ولایتونو کې له منځه ولاړې شي.

**٤. د ناچاودلو مهماتو له منځه وړل:** د ۱۳۸۹ تر مرغومي (۲۰۱۰ ترپایه) د افغانستان د پرمختیایي موخو پنځلس کلن پلان (MDG) او د اوټاوا تړون ته د افغانستان د ژمنو، له مخې به په ماینونو ککړې سیمې به تر ۷۰ په سلو کې کمښت ومومي. د ۱۳۸٦ (۲۰۰۷) کال پورې به د ماینونو زیرمتونونه په ښه او له منځه یوړل شي. همداشان ټول نا مصؤنه مهمات چې د ترمیم وړ نه وي او اضافي وي د ۱۳۸۹ (۲۰۱۰) کال پورې تخریب کړای شي.

**٥. د نشه يي توکو سره مبارزه:** د ۱۳۹۱ (۲۰۱۲/۱۳) کال پورې به د هغه ځمکو پراختیا چې کوکنار پکې کرل کیږي د ۱۳۸٦ (۲۰۰۷/۸) کال په پرتله به نیمې اندازې ته راښکته کړای شي.

**لومړیتوبونه:**
د افغانستان امنیتي سکتور د څو امنیتي دفاعیي، امنیت ساتني او د قانون د پلي کیدو له بنسټونو څخه جوړ دی. د امنیت د رکن لومړنی لومړیتوب د دغه امنیتي بنسټونو د وړتیا لوړول دی.

دویم لومړیتوب په د ې خبره باندې ډاډمن کیدل دي چې په امنیتي سکتور کې هر ډول هلې ځلې، جامع د یو بل بشپړوونکې، او همغږي دي. حکومت د پالیسیو او د ملي، جامع اوهمغږو تګلارو په بریالیتوب د پلي کیدو لپاره په امنیتي سکتور کې د اصلاحاتو د یو سالم پروګرام، د ملکي او پوځي مشترکو هلو ځلو ملاتړ، د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې په چارو کې د امنیتي ځواکو د نقش د زیاتیدو او د امنیتي ځواکونو د ملکي څانګو د اصلاحاتو په برخه کې په بشپړ ډول ژمن دی.

دریم لومړیتوب په دې سکتور کې دا دی ترڅو په تدریجي ډول د امنیت د مسوولیت چارې د نړیوالو همکارانو څخه افغاني امنیتي ځواکونو ته ولیږدول شي. په هره اندازه چې د آیساف/ناټو ځواکونه په مستقیم ډول دعملیاتو د کولو څخه په شا کیږي، ملي اردو او ملي پولیس به د عملیاتو رهبري په غاړه اخلي. او په نهایت کې به ټولو امنیتي ستونزو ته مثبت ځواب وویلای شي. او نړیوال همکاران به د دې ځواکونو لپاره یو ډول ملاتړ کوونکی او څارنیز مسوولیت خپل کړي. په عین وخت کې به ملي اردو د ملاتړ د لاس ته راوړلو او د اضافي ځواکونو د ضرورت په وخت کې له آیساف څخه مرسته ترلاسه کوي. د ملي اردو د وړتیاو د زیاتیدو سره به د نړیوالو ځواکونو په شمیر کې په تدریجي ډول کمښت راځي، او په پایله کې به د دغه ځواکونو په تلفاتو کې د کتنې وړ کمښت راشي. د ا چې په څومره چټکتیا سره کولای شو چې امنیتي ځواکونه په خپل ځان متکي کړو، د نړیوالو مرستو د اندازې او د دوی د کړونو د چټکوالي پورې اړه لري، ترڅو کومې ظرفیتي تشې چې اوس شتون لري ډکې شي. خو د افغانستان دولت تیاردی چې په دې لاره کې لومړني ګامونه پورته کړي.

**دوهم رکن: ښه حکومت داري، د قانون واکمني او د بشرحقونه**

**اوږد مهالی هدف: د دموکراتیکو فعالیتونو، د بشر د حقونو، د قانون واکمني، د عامه خدمتونو رسونه اود دولت د حساب ورکونې ځواکمنول.**

دموکراتیکه حکومتداري، د قانون واکمني، عدالت او بشري حقونه، زموږ لپاره د حیاتي اهمیت درلودونکي دي ترڅو خپلو ملي موخو ته چې د بیوزلۍ کمښت او د اقتصادي پرمختیا د کچې لوړول او په هماغه لوړه سطح کې ساتل دي ورسیږو. د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې، ستراتیژیکه موخه په دې سکتور کې د اسلامي ولسواکۍ چې پر اساسي قانون ولاړه وي تامینول دي. چې په دغه ولسواکۍ کې بیا درې قواوې په اغیزمن او سرتاسري ډول فعالیت وکړي. حساب ورکوونکي

اوسي، د قانون له واکمنۍ څخه ملاتړ وکړي او بشري حقونو ته درناوی ولري. حکومت هوډ لري چې ښه حکومتداري رامینځ ته کړي، او د خدمتونو په رسولو کې یو محسوس بهبود راولي. دې هدف ته د رسیدلو لپاره باید حکومت: (۱) په حکومتي ادارو کې په مرکزي او ولایتي کچه اصلاحات رامینځ ته اوملاتړ ورڅخه وکړي. او ډیر تاکید په شفافیت، لیاقت، او داسې مدیریت چې ښې پایلې لاس ته راوړي، وکړي. (۲) د قانون جوړوني پراوونه، د خپلواکه او منصفانه ټولټاکنو په شمول اصلاح کړي. دولت باید د خصوصي سکتور د سیال په ډول نه، بلکې د پالیسۍ جوړونکي، تنظیموونکي او ملاتړ کوونکي په توګه عمل وکړي.

**ننګوني**

سره له دې چې د رسمي او غیر رسمي حکومتدارۍ د جوړښتونو د ملاتړ، د بشري حقونو د پرمختګ او د قانونو د واکمنۍ په برخه کې یو څه لاس ته راوړني شوي دي، خو اوس هم د دې رکن د موخو د لاس ته راړولو په مخ کې مهمې ننګوني لا پرځای پاتې دي. دغه ننګوني دادي: (۱) ددولت سره په موازي ډول د څو دولتي او نادولتي جوړوښتونو شتون (۲) د اداري واحدونو مرکزي/ولایتي په اړوند د ابهاماتو شتون (۳) د دولتي سکتور کمزوري اداري او د حکومتي او مدیریتي وړتیاو و نه پرمختیا (٤) د اداري فساد لوړه کچه (٥) مالي ابهامات (٦) د قانون د جوړولو او پلي کولو کمزورتیا (۷) د ملي شورا کمزوري څارنه (۸) د سیمه ایزو او مدني ټولني د بنسټونو کمزوري (۹) نااغیزمن او نه تعریف شوی عدلي قضایي سیستم (۱۰) د ټولنیز جنسیت نابرابري (۱۱) د بشري حقونو د ملاتړ لپاره د کافي وړتیاوو نه شتون. که چیرې د حکومتدارۍ په ښه والي کې په چټک ډول بدلون را نه شي، نو د امنیت، بشري حقونو او اقتصادي پرمختګ په برخو کې د پرمختګ را مینځ ته کول به ډیر ستونزمن وي.

**لومړیتوبونه:**

د پورته یادو شویو کمزورتیاوو د له مینځه وړلو او جبران لپاره حکومت لاندې اقدامات د لاس لاندې لري:

**د ملي شورا تقویه کول:** د ملي شورا ظرفیت به لوړ کړل شي، ترڅو په څارنیزو او تقنیني دندو که روڼتیا او حساب ورکونه رامینځ ته شي.

**دعامه ادارو اصلاح:** د عامه ادارو د اصلاح څخه موخه دا ده چې دولتي بنسټونه د چارو د اغیزمنتیا لپاره تشویق شي او په ټاکل شویو پایلو باندې تاکید وکړي. د ملکي خدمتونو وړتیا به ځواکمنه کړای شي. د مثال په ډول د معاشونو په جوړښت، رتبو، د لیاقت پر بنسټ په دولتي ادارو کې د استخدام مسئلې ته پراختیا، د وړتیا پر بنسټ د مقررولو باوري کول، د دولتي ادراو په جوړښت باندې نوې کتنه او د هرې اداري دندو د تشخیص لپاره د جوړښت منطقي ارزونه، د روزنیزو پروګرامونو جوړول او دظرفیتونوپه لوړولو کې به بیا کتنه وشي.

**د اداري فساد په وړاندې د مبارزې اقدامات:** د حکومت په ټولو سطحو او قضائیه قوه کې دولت د اداري فساد سره د مبارزې په موخه، د اداري فساد د څارنې، د اداري فساد د ممکنه خطرونو د راکمولو لپاره د لا زیاتو پروګرامونو جوړولو او د شکایتونو د اوریدلو د میکانیزمونو په تقویه کولو باندې تمرکز کوي.

**معلوماتو ته د لاس رسۍ زیاتول:** حکومت به عامو خلکو ته د معلوماتو په ورکولو کې زیاتوالی راولي. خلکو ته به حق ورکړل شي چې د خپل ځان په اړوند ډیرو معلوماتو ته لاسرسی ولري.

**په حکومت کې د ښځو ونډې زیاتول:** حکومت به په افغانستان کې د ښځو د عملي ملي پلان په پلي کولو کې خپل مسوولیت په ښه توګه ادا کړي.

**د ناڅاپي پیښو د غبرګون او تیارۍ لرلو لپاره د یو اغیزمن سیستم جوړول:** حکومت ژمن دی چې د پیښو سره د مبارزې د ملي پلان د پلي کولو لپاره ظرفیتونه زیات کړي.

**د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون**: د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون وړتیا به ځواکمنه شي، ترڅو د راي ورکوونکو د ثبتولو، ټاکنیزو حوزو، او په شرایطو برابر وګړو نوم لړ لپاره یو منظم او دایمي سیستم را مینځ ته شي. او ټولټاکنې په ملي او ولایتي کچه د اساسي قانون پر بنسټ ترسره شي.

**د ملي هویت سند (تذکره):** حکومت به د یو واحد ملي هویت سند په جوړولو کې خپل مسوولیت ترسره کړي ترڅو حساب ورکونه، او عامه روڼتیا لوړه او اداري فساد راکم شي.

**جیودیزیک او کارتوګرافیک معلومات:** حکومت به د کلیو او ناحیو په حدودو بیا کتنه وکړي. او د ملي نقشه اخیستنې کارونه به بشپړ کړي.

**سرشمیرنه او بنسټیزې احصائیې:** حکومت لومړنۍ سرشمیرنه په د ۱۳۸۷ (۲۰۰۸) کال کې تر سره کوي او د بیوزلۍ او اقتصاد په هکله به د شمیرنو او ارقامو اساسي سیستم په ملي او ولایتي کچه رامینځ ته کړي. او د هغې پایلې او څیړنې به چاپ او خپرې کړي.

**د ځمکو اداره:** حکومت به د ځمکو د ثبت او ادارې یو عصري سیستم را مینځ ته کړي چې د هغې په ترڅ کې به په عا دلانه ډول لانجې حل او فصل کړای شي.

**سیمه ایزې ادارې:** حکومت به د سیمه ایزو ادارو قانون جوړ کړي. په سیمه ایزو ادارو او حکومتي جوړوښتونو که به د سیمه ایزو خلکو ګډون زیات کړي. ولایتي شوراګانې به تقویه کړي. داسې یو قانون به جوړ کړي چې د ولسوالیو د شوراګانو، ښاري شوراګانو او کلیوالو شوراګانو نقش به پکې تعریف شي. د ولسوالیو، ښارونو او کلیوالو شوراګانو ټا کنې به پلې کړي. د ولایتي ادراو جوړښتونه به اصلاح کړي. د ولایتي ملکي خدمتونو وړتیاوې به لوړې کړي. پلان جوړونه او بودجه جوړونه به بنسټیزه کړي. او د ښاروالیو د پلان او بودجې جوړونې ظرفیت به لوړ کړي. ولایتي چارې به د سیمه ایزو ادارو د خپلواک ریاست له لورې تسهیل او تنظیم کړای شي.

**د دولت سره اړیکې او د دولتي ادارو خپل مینځې اړیکې:** حکومت به د معلوماتو د تبادلې پالیسۍ او تګلارې او د ملي بودجې د جوړونې پړاوونه د دولت په مختلفو ادارو کې یو ترېلَه زیاتې کړي.

**دینې چارې:** حکومت د ټولنې په جوړښت او نورو ارزښتي ټولنیزو سیستمونو په اړوند د اسلام د مبین دین په نقش ښه خبر دی.

**بشري حقونه:** د ټولو افغانانو د بشري حقونو د ملاتړ په اړوند حکومت خپل ظرفیت ته وده ورکوي. د نړیوالو مکلفیتونو، لکه د شکنجې د مخنیوي نړیوال کنوانسیون، د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض له مینځه وړل، او د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون، په نظرکې نیولو سره قوانین جوړ او تصویبوي. حکومت به دسولې، عدالت، ملي پخلاینې او د بشر د حقونو په اړوند د حکومتي واحدونو د مسوولیت لپاره د پلان جوړونې ته ژمن دی.

**د عدلي او قضایي سکتور مهم لومړیتوبونه په لاندې ډول دي:**

**د بنسټیزو ظرفیتونو ښه والي ترڅو په دوامداره ډول عدلي او قضایي خدمتونه عرضه کړي:** حکومت د نورو حکومتي او مدني ټولنې د ادارو سره یوځای همغږۍ ته زیاتوالي ورکوي تر څو د قوانینو وضع کولو لپاره د ملي شورا تقنیني ظرفیتونه لوړ کړي. د حقوقي زده کړو ملي مرکز به جوړ کړي. د بهرنیو اړوند کارکوونکو او مدني ټولنو لپاره به فرصتونه برا بر کړای شي ترڅو د حقوقي پالیسۍ په تدوین او د قوانینو په تسوید کې ونډه واخلي. د عدالت د همغږۍ میکانیزم به ځواکمن

کړي ترڅو په ولایتو کې د عدلي او قضایي خدمتونو د ښه ترسره کولو جوګه شي. دغه د عدالت د همغږۍ میکانیزم به حکومت سره مرسته وکړي ترڅو په ولایتي کچه د قانون واکمني په سیستماتیک ډول د مرسته کوونکو مراجعو د همغږو او هدفمندو پروګرامونو له لارې، فني مرستو، روزنیزو پروګرامونو، ظرفیت جوړوني، ترانسپورتي زیربناګانو اود تجهیزاتو تامینولو ته د کابل څخه بهر هم پراختیا ورکړي.

**د عدالت د کیفیت ښه کول:** د عدلي او قضایي سکتور ستراتیژیک هدف د یوې اسلامي ټولنې جوړول دي. چې په هغې کې به قضاییه قوه یوه بې پرې او خپلواکه اداره وي، او د خپلې ټولنې د غړیو سلامتیا، امنیت، مذهب، شتمني، بشري حقونه، او اسلامي ارزښتونه د آزادۍ د رعایت کولو او د قانون په وړاندې د ټولو خلکو مساویتوب پر بنسټ ساتنه او ملاتړ کوي. حکومت به لاندې چارې ترسره کړي: (۱) د څېړنې د سیستم را مینځ ته کول ترڅو د جزایي قضیو د ځنډیدلو څخه چې د وکیل د نه شتون او قضیې ته د په وخت نه رسیدلو له امله رامینځ ته کیږي، کمښت رامینځ ته کړي. (۲) د جزاګانو په اړوند د پالیسیو برابرول. (۳) د ماشومانو په اړوند د عدلي پالیسیو پلي کول. (٤) د نویو رامینځ ته کیدونکو عدلي جزایي موضوعاتو او نورو مشترکو مسائلو ته د رسیدګۍ لپاره د ځانګړو پالیسي جوړوونکو واحدونو تاسیسول. (٥) د قضایي سکتور د اداري جوړښتونو ښه کول او د مدني محاکمو د حوزو تقسیمات د قضایي دعوی د ډول پر بنسټ. (٦) د رسمي او غیر رسمي عدلي ادارو ترمینځ د اړیکو ښه کول. (۷) په غیر رسمي عدلي سکتور باندې د څارنې رامینځ ته کول.

**موخې:**

۱. د عامه ادارو د اصلاحاتو پروګرام د ۱۳۹۱ (۲۰۱۳) پورې بشپړیږي

۲. په اداري فساد کې د پام وړ کمښت راوستل د ۱۳۹۱ (۲۰۱۳) پورې

۳. د ۱۳۹۱ (۲۰۱۳) پورې به د جزایي اجرااتو نوی قانون تنفیذ او خپور شي، او د هغې د پلي کولو لپاره به حقوقي کارکوونکو ته روزنیز پروګرامونه جوړ شي، او هغوی ته به په لیکلي بڼه د قانون په اړوند تفسیرونه هم ورکړل شي. او همدا شان به د ټولنیزو حقونو په اړوند د هیواد اوسیدنکو ته پوهاوی ورکړل شي.

٤. ۱۳۹۱ (۲۰۱۳) پورې به ټول قوانین، مقررې، او نور حقوقي اسناد تالیف، فهرست بندي شي، پوست کالي یا سافټ ویر به یې د حکومت په ویبپاڼه کې مراقبت او وساتل شي، همدغه راز به چاپ هم کړای شي او په هره کچه به ټولو دولتي ادارو ته تسلیم کړای شي. ترڅو د افغانستان ټول وګړي هغې ته لاسرسی پیدا کړي.

٥. ۱۳۹۱ (۲۰۱۳) پورې به ټولې حکومتي اداري او وزارتونه په غیر تبعیضي توګه د تقنیني اسنادو او مقررو د تسوید او وړاندیز وړتیا ولري.

**دریم رکن: اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا:**

**اوږد مهالی هدف: د بیوزلۍ کمښت، د آزاد بازار له لارې چې خصوصي سکتور یې رهبري کوي د تلپاتي او مداوم پرمختګ تامینول. د بشري پرمختیا د شاخصونو ښه والی، او د افغانستان د پنځلس کلنو پرمختیایي موخو (MDG) په لور د پام وړ پرمختګ.**

حکومت د هغو پالیسیو جوړولو ته چې د داسې آزاد بازار چې خصوصي سکتور یې رهبري کوي او و کولای شي چې د پام وړ تلپاتي اقتصادي پراختیا تامین کړي، ژمن دی. د افغانستان د ملي پر مختیا د تګلارې په چوکاټ کې د بیوزلۍ د له مینځه وړلو لپاره د خصوصي سکټور څخه ملاتړ یو اغیزمن نوښت دی چې د کار موندنې او د عوایدو د زیاتیدلو سبب کیږي. همداشان حکومت پوهیدلی دی چې سرچینې باید ډیرو بیوزلو او هغه خلکو ته چې په خطر کې قرار لري ورسیږي، او دغه کار هغه وخت تحقق مومي چې د مالي نظره رښې او مداومې پالیسۍ جوړې شي ترڅو د عاید په انتقال کې مرسته وکړي. د ۱۳۸۱ (۲۰۰۲) کال راهیسې، حکومت خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړی ترڅو خلکو ته روغتیایي او ښوونیز خدمتونه د

لومړیتوب په ډول برابر کړي. د دغه پالیسیو ځواکمنتیا به په ټول افغانستان کې د بشري پرمختیا د شاخصونو د ښه کولو لپاره ادامه ولري.

**ننګونې:**
سره د دې چې موږ وینو چې اوس مهال افغانستان د اقتصادي پرمختیا په لوړه کچه کې قرار لري. اما هیواد مو له ګڼ شمیر محدودیتونو سره مخامخ دی، چې باید پاملرنه ورته وشي. ترڅو د اوږده مهال لپاره اقتصادي پرمختیا او د بیوزلۍ کمښت دوام وکړي. د دغو محدودیتونو څخه ډیر جدي یې دوامداره بې ثباتي، د زیربنا ګانو خراب حالت، د بشري پرمختیا د پانګو او بنسټیزو وړتیاو ټیټه کچه، او اقتصادي نا مناسبه فضا ده. همد اشان اقتصادي پرمختیا په یوازې توګه د بیوزلۍ د کمښت او د بشري پرمختیا د شاخصونو د بهبود لپاره بسنه نه کوي. د دې رکن په پلي کولو کې بنسټیزه ننګونه د داسې فضا رامینځ ته کول دي چې په هغې کې اقتصاد سره د ټولو اړوندو ظرفیتونو یې په هم مهالي ډول عمل وکړي. او داسې ډاډ رامینځ ته شي چې د ټولنې خطر سره مخامخ خلک په حاشیه کې نه پاتې کیږي.

**موخې:**
۱. د هغو خلکو نسبت به چې په ورځ کې دیو ډالر څخه په لږ عاید ژوند کوي، په کال کې دریو په سلو کې راکم کړای شي.

۲. د هغو خلکو نسبت به چې د لوږې څخه رنځ وړي، په کال کې پنځه په سلو کې راکم کړای شي.

۳. د ۱۳۸۹ (۲۰۱۰ میلادي) کال پورې به په ښوونځیو کې د انجونو او هلکانو شاملیدل، په ترتیب سره ۶۰ او ۷۵ په سلو کې، ته لوړ شي.

٤. د ۱۳۸۹ (۲۰۱۰ میلادي) کال پورې به د ښځینه ښوونکو شمیر ۵۰ په سلو کې شي.

۵. ۷۰ په سلو کې افغاني ښوونکي به د ۱۳۸۹ (۲۰۱۰ میلادي) کال پورې د لیاقت آزموینې ورکړي.

٦. د پنځه کلونو څخه ښکته ماشومان د مړینې میزان به د ۱۳۹۱ (۲۰۱۲/۱۳ میلادي) کال پورې ۲۱ په سلو کې ته راټیټ شي.

۷. د میندو د مړینې اندازه به د ۱۳۹۱ (۲۰۱۲/۱۳ میلادي) کال پورې ۳۵ په سلو کې، راښکته کړای شي.

۸. د بنسټیزو روغتیایي خدمتونه مجموعه به پراختیا ومومي، او د ۱۳۸۹ (۲۰۱۰ میلادي) کال پورې به د افغانستان ۹۰ په سلو کې خلک د پوښښ لاندې راولي.

۹. د هغه خلکو نسبت به چې د څښاک پاکو اوبو او حفظ الصحې ته لاس رسې نه لري تر ۱٤۰۰ (۲۰۲۰ میلادي) کال پورې آن نیمایي ته راکم کړای شي. تر ۱۳۹۱ (۲۰۱۲/۱۳ میلادي) کال پورې به ۵۰ په سلو کې کورنۍ په کابل کې او ۳۰ په سلو کې کورنۍ به په نورو سیمو کې د نلونو له اوبو څخه ګټه واخلي. او ۵۰ فیصده کلي به د حفظ الصحې د آسانتیاو څخه برخمن شي.

**لومړیتوبونه:**
د آزاد بازار د پرمختګ لپاره، چې د خصوصي سکتور لخوا رهبري کیږي د زمینې د برابرولو پالیسۍ

په دغه برخه کې دولت درې لومړیتوبونه لري (۱) د خصوصي سکتور لپاره د حقوقي چوکاټ برابرول، لکه د سوداګرۍ پورې اړوندو (شرکتونه، شراکت، سوداګریز حکمیت او سوداګریز مینځګړیتوب، پریکړه لیکونه، استازیتوب، معیارات، د چاپ او خپریدا حق، سوداګریزې نښې او د امتیاز انحصار ثبتولو) د قوانینو تصویب او توشیح. (۲) د پورته ذکر شویو قوانینو د پلي کولو لپاره د مقرراتي چوکاټ برابرول. (۳) د پورته یادو شویو حقوقي مقرراتو پلي کول، دولت به دا موضوع هم په نظر کې ولري او ډاډ به ترلاسه کړي چې دا قوانین د افغانستان د ټولنیزو شرایطو سره اړخ لګوي او په عادلانه ډول پلي کیږي. ترڅو پانګه اچوونکي و کړای شي په راتلونکي کې په ډیرې آسانۍ سره د پانګونې هوډ وکړي.

دولت به خپل اقتصادي حاکمیت د خپلو پالیسیو په چوکات کې د خصوصي سکتور د پرمختګ او ملاتړ لپاره تقویه کړي. چې په دغه برخه کې باید لاندې اقدامات وشي: (۱) په راکړه ورکړه کې د اصلاحاتو د مینځه ته راوړلو په اړوند د بنسټیزو میکانیزمونو د مسوولیت څرګندول. (۲) د صنایعو او سوداګرۍ وزرات، د پانګونې څخه د ملاتړ د ادارې او د سوداګریزو معاملاتو او د دعوو د خلاصولو لپاره د حقوقي منظم سیستم جوړول. (۳) ځمکو ته د لاس رسي آسانول، لکه، دملکیت د حق په اړوند توضیحات، د ملکیت د لیږد په اړوند د کاردودونو تسهیل، او د اوږده مهال لپاره د ځمکو په اجاره ورکولو ضمانت، د سوداګریزو چارو لپاره د مهمو کاردودونو ساده کول لکه (ثبت، جواز، کورني فعالیتونه، د ګمرکي پراوونو ترسره کول، او پیسې ورکول) به ادامه ومومي، ترڅو د راکړې ورکړې پورې اړوند لګښتونه کم کړای شي.

دولت د خپلو تصدیو سهامي کولو او خصوصي کولو ته د خپلو کاري لومړیتوبونو په سر کې ځای ورکړی دی. او په دغه لومړیتوبونو کې د افغانستان د بریښنا موسسې سهامي کول هم راځي ترڅو یې اغیزمنتیا ډیره شي. د مالیې وزرات د هغه ټولو تصدیو لست، چې په راتلونکو درې کلونو کې به خصوصي یا سهامي شي، جوړ کړی دی. په خصوصي سکتور کې ټول سیالان کولای شي په عادلانه ډول د اړوندو دولتي ادارو لخوا ملاتړ ترلاسه کړي.

دولت د کورني عوایدو او کورنیو خصوصي تولیداتو ملاتړ کوي او د داسې سیاستونو چې په وارداتو او صادراتو باندې مالیه کمه کړي پلوي کوي. لازمه ده چې هغه ځانګړې رقابتي صنایع چې افغانستان ورڅخه رقابتي ګټه اوچتوي، ځواکمن کړای شي. د مالیې وزرات مسوولیت لري چې د تعرفو د جوړښت په اړوند د نورو اړوندو خواو سره په مشوره یو منظم سیستم را مینځ ته کړي. د سوداګرۍ او د سیمې د هیوادونو سره د افغانستان د ستراتیژیک مو قعیت په نظر کې نیولو او د آسانتیاو د برابرونکو پالیسیو او د ترانزیت او سوداګرۍ د ملاتړ د طرزالعملونو په پام کې نیولو سره د سوداګریزو اړیکو ټینګول، د دولت د لومړیتوبونو څخه شمیرل کیږي. په لنډمهال ډول د اغیزمنو ګمرکي مقرراتو او د صادراتو او وارداتو لپاره د وخت کمول د سیمه ایزو معیارونو سره انډولول د حکومت د پاملرنې په مرکز کې ځای لري. دولت ژمن دی چې د نړیوال سوداګریز سازمان غړیتوب تر لاسه کړي.

مالي سیستم، په ځانګړي ډول بانکداري او د کوچنیو پورونو ورکړه په چټکتیا سره پرمختګ کوي، سره له دې چې د مالي خدمتونو کچه لا اوس هم ډیره ټیټه ده. ډیر لږ شمیر خلک رسمي مالي خدمتونو ته لاسرسی لري. دیو ځواکمن مالي سکتور را مینځ ته کول چې د هیواد اړتیاوو ته ځواب ورکوونکی وي. کولای شي یو د هغه خنډونو څخه چې د خصوصي سکتور لخوا داخلي عوایدو د زیاتیدو مخنیوی کوي د مخه لیرې کړي.

د مالي سکتور لپاره د لومړنی لومړیتوب د دغه سکتور لپاره د قانوني چو کاټ رامینځ ته کول دي، او دغه قانوني چوکاټ کولای شي د څلورګونو قوانینو په تصویب سره رامینځ ته شي (د راکړې ورکړې مصؤنیت، رهن، اجاره او پولي تعهدات) چې اوس مهال د تعلیق په حالت کې قرار لري. اود دقیقو مقرراتو د پلي کیدل د بانکدارۍ د سکتورد ځواکمنتیا سبب کیږي. دوهمه درجه لومړیتوب د مالي خدمتونو رسول کلیوالو سیمو ته او د کوچنیو متوسطو اقتصادي تشبثاتو را مینځ ته کول دي. حکومت به د پښتني بانک او د افغان ملي بانک د خصوصي کولو لپاره ستراتیژي جوړه کړي. ترڅو جوړښتونه اصلاح کړای شي. د مینځ مهالي دورې لپاره به حکومت هلې ځلې وکړي ترڅو د مالي اعتباراتو د معلوماتو په اړوند اداره، د مالي شخړو د فیصلو لپاره محاکماتي دیوان رامینځ ته کړي. او د بیمې مناسب قانون د مالي سکتور د تشویق لپاره پلی کړي.

**بنسټونه او طبيعي زيرمې:**

سره له دې چې بنسټونو او طبيعي زيرمو په وروستيو پنځه کلونو کې په چټک ډول پرمختګ کړی دی، افغانستان اوس هم د ګاونډيو هيوادونو په پرتله د بنسټونو په برخه کې ډير وروسته پاتې دی. د سړکونو بد وضعيت، او د منظمې بريښنا نه شتون د صنايعو او خصوصي سوداګرۍ له خنډونو څخه شميرل کيږي. د حکومت پاليسي د عامه لګښتونو په برخه کې، د بنسټونو جوړونه د خپلو موخو په لومړيتوبونو کې شميري، ترڅو د خصوصي پانګونې، کورنيو توليداتو، د کارموندنې د موکو او د عوايدو د زياتيدلو او د بيوزلۍ د کمښت موضوع ادامه پيدا کړي.

**انرژي:**

د بيوزلۍ د کمښت، د خصوصي سکتور ځواکمنتيا او په کليواله کچه د خصوصي سکتور پرمختګ لپاره د انرژۍ د سکتور پراختيا ډيره اړينه موضوع ګڼل کيږي. د افغانستان د ملي پرمختيا د تګلارې موخه په دې اړوند لاندې ذکر کيږي: د خصوصي سکتور د پانګونې په واسطه د ډاډمنې او تاديې وړ انرژي برابرول او د انرژۍ په برخه کې دولتي پانګونې او څارنې رامينځ ته کول دي. د ملي پرمختيا لپاره مينځ مهالې موخې په لاندې ډول دي: (۱) په ښارونو کې لږترلږه ٦٥ په سلو کې کورنو ته د بريښنا رسول او ۹۰ په سلو کې د نه استوګنې تاسيساتو ته او ۲۵ په سلو کې کورنو ته په کليوالو سيمو کې د بريښنا رسول (۲) تر ۷۵ په سلو کې لګښتونه به د بريښنا د ملي شبکې له مصرف کوونکو څخه بيرته لاس ته راشي، او (۳) د بيا نوې کيدونکې انرژۍ څخه د ګټې اخيستنې لپاره د لازمو تګلارو جوړول.

اوس مهال افغانستان د بريښنا د توليد له نظره په جدي ډول په ټيټه کچه کې قرار لري، او د ګاونډيو هيوادونو څخه د بريښنا د اخيستلو په پريکړه ليکونو باندې متکي دی. د اټکلونو له مخې اوس مهال په ټول هيواد کې د ۲۰ په سلو کې څخه لږ خلک د دولتي بريښنا (د بريښنا د شبکو) څخه ګټه اخلي، هغه هم په نوبتي ډول د ټاکل شويو محدودو ساعتونو لپاره. د بريښنا د مهمو پروژو لکه، د کوکچې، کونړ، باغ درې، ګلبهار، سروبي ۲ او د شبرغان د ګازو او نفتو په برياليتوب سره پلي کول به د افغانستان لپاره د انرژۍ له نظره يوه ډاډمنه راتلونکې برابره کړي. د نوموړې تګلارې نور کليدي عناصر په لاندې ډول يادولای شو: (۱) د بريښنا د ملي شبکې پراختيا د ظرفيتونو او کيفيتي بنسټونو د بيا رغونې له لارې په کابل او نور و مهمو سيمو کې (يعنې د بريښنا د مزيو توزيع، سب سټيشنونه، او ميټرونه) د شمال ختيځو، سويل ختيځو، ختيځو او لويديځو سيمو د بريښنا د سيستمونو پراختيا (۲) په کليواله کچه د بريښنايي خدمتونو ته د لاسرسي زياتول د کوچنيو بريښنايي سرچينو لکه د اوبو، لمريز، ډيزلي بريښنا او نورې بريښنا زيږونکو وسايلو له لارې. په دغه برخو کې د سوداګريز فعاليتونه تشويقيږي. او فني معيارات به رامينځ ته شي ترڅو خلک د بريښنا د لګښت، دوام، او د انرژۍ د مصؤنيت په اړه ډاډمن شي. (۳) د لګښتونو د جبران لپاره د يو اغيزمن ميکانيزم را مينځ ته کول ترڅو موجوده انرژيتيکې فعاليتونه دبرښنا موسسې له لارې سهامي کړای شي. (٤) د انرژۍ د سکتور د ښه والي لپاره د يو همغږي فعاليت رامينځ ته کول چې ټولې خواوې پکې شامل وي او دغه کار به د انرژۍ اړوند يو بين الوزارتي کميسيون لخوا ترسره شي.

په ټول هيواد کې په ډاډمن ډول برښنا ته لاسرسی، د کورنيو سرچينو څخه د ګټې اخيستلو او د وارداتي برښنا له لارې د دغه ستراتيژۍ پايلې ګڼل کيږي. دولت په دې لټه کی دی چې د برښنا د توليد، خرڅلاو او توزيع لپاره خصوصي پانګه اچوونکو ته د پانګونې زمينه برابره کړي. په کليو کې د بيوزلۍ د له مينځه وړولو او د کارې موکو د زياتيدلو او کوچنيو تشبثاتو زياتيدل د برښنايي شبکو په سکتور کې د خصوصي پانګونې پورې اړه لري.

**کرهنه او د کليو پراختيا:**

د افغانستان د ملي پرمختيا د تګلارې هدف په کرهنيزه او د کليو پراختيا په برخه کې د خصوصي سکتور راجلبول دي ترڅو دا اوسنې کرهنيز سيستم په يو سوداګريز زراعتي سيستم ته په بدلولو کې پانګونه وکړي چې د ژوندانه يوه با ارزښته سرچينه بلل کيږي. دولت به د کرهنې او کليو پراختيا په برخه کې يوه همغږه او منسجم پروګرام پلې کړي ترڅو دغه دوه

موخې لاس ته راوړي: (۱) د بیوزلۍ په کچه کې کمښت راوستل او (۲) د بدیل معیشت برابرول. زراعتي او کلیواله پراختیایي ستراتیژۍ د داسې یو پلان بیانوونکی ده چې په راتلونکی کې هلې ځلې وشي ترڅو بیوزلي د اقتصادي سیستم د بیا احیا کولو له لارې له مینځه یوسي، ډېر تمرکز به په کلیوالو سیمو کې پر بیوزله او خطر ته مخامخ خلکو باندې وي. د کوکنارو د له مینځه وړلو لپاره د هڅو زیاتیدل، او د دغو هڅو اهمیت، د کرهنیزو فعالیتونو چټکې پراختیا، او د بزګرانو حالت د بیوزلۍ د خط د کچې څخه د راټیټیدلو د مخنیوي لپاره له هر وخت مخکې څخه اړین دي. او د بدیل معیشت په را مینځ ته کولو کې پانګونه د حل د مهمو لارو چارو څخه یوه ګڼل کیږي.

ډیری بزګران د بزګرۍ له لارې د خپل ژوندانه د ډیرو کمو لګښتونو یا لږ څه ډیرو لګښتونو د لاس ته راوړلو جوګه دي. نو له دې امله هغه کورنۍ چې د ژوندانه اړتیاوې یې یوازې د کرهنې پورې تړلې دي، د معیشیتي مصؤنیت د نه شتون سره مخامخ دي، او آن په ځینو وختونو کې د خپل ژوند د اړتیاو د برابرولو لپاره پوروونو اخیستلو ته مخه کوي. چې په پایله کې یې خطر ته د مخامخ کیدو لاملونه په هیواد کې د طبیعي پیښو او خوړو د کمښت له امله زیات شوي دي. زراعتي او کلیواله پراختیایي ستراتیژي داسې پروګرامونه په نظر کې لري چې د کلیوالو خلکو د ژوندانه د کچې د ښه والي لپاره جوړ شوي دي. ترڅو له دې لارې د هغوی د خوړو خوندیتوب تامین شي او بنسټیز خدمتونه ورته برابر کړای شي. عواید یې د مشروع کاري موکو له لارې زیات شي، او بالاخره په یو سالم او خوندي چاپیریال کې ژوند وکړي. دغه فعالیتونه په دوه مهمو برخو ویشل شوي دي: (۱) کرهڼه او د کلیو پراخه پراختیا (۲) د سوداګرۍ د زون نوښت او د کلیو پراختیا وزارت هغه پنځلس پروګرامونه چې د زراعتي او کلیوالي پراختیایي ستراتیژۍ اهدافو ته پرې ورسیږو عبارت دي له: د ملي پیوستون پروګرام، د خوړو د خوندیتوب ملي پروګرام، سیمه ایز ملي پرمختیایي پروګرام، د مالدارۍ کرهنې او د کلیو د پراختیا پراخ پروګرام، د ملي منابعو او کرهنیزې پراختیاې پروګرام، د کلیو د اوبو رسولو او حفظ الصحي ملي پروګرام، د اوبو لګولو او د کلیو د پراختیا پراخ پروګرام، د ملي سرچینو او د کرهنې او د کلیو پراختیا پراخ پروګرام، د مراقبت سیستم، د کلیوالي سیمو د بریښنا رسوني پروګرام، د کلیوالي تشبثاتو پروګرام، د څیړنې او پراختیا سیستم، د چټک غبرګون د کرهنیز او کلیو د پراختیا پروګرام، او د وړتیاوو د لوړوونکي کرهنیز او د کلیو د پراختیا پراخ پروګرام.

**ترانسپورت:**

د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې موخه د ترانسپورت په برخه کې د یوې همغږې او خوندې ترانسپورتي شبکې جوړول دي چې په ډاډمن ډول خلک او سوداګریز مالونه په خوندي ډول په هیواد کې دننه او د هیواد څخه بهر لیږدوي رالیږدوي. په سیمه کې د لویو لارو د سیستم بشپړول، د ۵۳۳ کیلومتره سړک بیا رغونه (د ولایتونو په مرکز کې) د ښاري ترانسپورت لپاره د ۶۲۹۰ کیلومتره سړک، د ښاري سړکونو د کیفیت د ښه کیدو، د سړک ساتنې او مراقبت، سره به د سړکونو د شبکې پلان جوړونه او ترانسپورتي خدمتونه، تقویه شي. دولت به داسې یو سیستم جوړ او پلي کړي چې د سړکونو د ساتنې او مراقبت څخه د هغوی د لګښت او پایښت په پام کې نیولو سره ډاډ حاصل کړي.

برسیره پردې، د ترانسپورت په برخه کې مهم نوښتونه او لومړیتوبونه په دې ډول دي: (۱) په کابل کې دنوي هوایي ډګر جوړول، (۲) د کندهار، هرات، او مزارشریف د هوایي ډګرونو بیا رغونه (۳) د سیمې په کچه د نویو هوایي ډګرونو جوړول، (٤) د اورګاډې د پټلۍ د پروژې طرح کول (۵) د ګاونډیو هیوادونو سره د ترانزیت په برخه کې د نویو تړونونو لاسلیکول چې دغه نوي تړونونه به د ضرورت وړ سوداګریزو توکو د کم وخت په نیولو سره د لیږد مرسته وکړي. د ۱۳۸۹ (۲۰۱۰ میلادي) کال پورې به افغانستان د ګاونډیو هیوادونو سره د پولو په اداره او همداشان د توکو لیږد د ترانزیت له لارې ډیر لږ وخت ته راکم کړي. او س مهال داسې پلانونه د لاس لاندې دي چې د کابل نړیوال هوایي ډګر او همدغه راز د ملکي هوانوردۍ نورې ادارې د هوانوردۍ د نړیوالو سازمانونو او د نړیوال هوایي ترانسپورت د ټولنې د معیاراتو سره برابر کړي. په همدغه هڅه کې به د هوانوردۍ یوه نوې اداره هم رامینځ ته شي چې رقابتي هوایي ترانسپورت ته پکې وده ورکړل شي.

**کانونه:**

داسي تمه کيږي چي د کانونو او طبيعي زيرمو استخراج به د هيواد د ناخالص توليد په زياتوالي او د صادراتو او عوايدو په زياتوالي کي مرسته وکړي. دکانونو په اړوند د افغانستان د ملي پرمختيا د تګلارې موخي دادي: (۱) د خصوصي سکتور د پانګوني راجلبول (۲) د منرالونو د سرچينو تنظيم او ترويج او پرمختيا، (۳) د جيولوژيکي سرچينو د سمي سروې او ثبت په هکله د ډاډ حاصلول. او دغه موخي د نويو مقررو او قوانينو په را مينځ ته کولو سره چي د کانونو د استخراج ملاتړ وکړي او د خصوصي سکتور پانګونه د کانونو په کشف کي جلب کړي، د پلي کيدو وړ دي. د کانونو او طبيعي زيرمو په برخه کي يوه مهمه بريا د عينکو د مس د کان په اړوند د تړون ليک لاسليکول دي. دغه تړون ليک د يو بهرني هيواد سره د ۲،۸ ميلياره ډالرو په ارزښت لاسليک کړاى شوى دى.

د کانونو د لومړيتوبونو د ټاکلو په اړوند حکومت لاندې اقدامات ترسره کوي: (۱) د کانونو او طبيعي زيرمو په استخراج کي د مالي ګټي ډيريدل (۲) د لازمو وړتياوو او مديريتي شفافيت درلودونکي سيستم رامينځ ته کول (۳) د کانونو او طبعي زيرمو په برخه کي د پانګوني د نهايي کولو لپاره د مختلفو قوانينو او مقررو پلي کول (٤) په هيواد کي د منرالي زيرمو دقيقه محاسبه ترڅو د هغوى څخه د ګټي اخيستلو لپاره يوه اوږدمهالي او پايښت لرونکي ستراتيژي جوړه کړاى شي. د پانګوونکو د اعتماد راجلبول د افغانستان د کانونو د قوانينو په رڼا کي به پانګونه زيادښت ومومي.

**د اوبو د سرچينو اداره:**

دولت به د لنډمهال او مينځمهال لپاره يوه همغږې تګلاره د اوبو د سرچينو د ادارې او همدغه راز د سيندويو د حوزو د ادارې لپاره ر امينځ ته کړي ترڅو د اوبو د سرچينو د پرمختګ او پلان جوړوني لپاره ورڅخه ګټه واخلي. د افغانستان د ملي پرمختيا د تګلارې موخه په هيواد کي د اوبو د سرچينو وده، په داسي ډول چي بيوزلي کمه کړي، او په اقتصادي او ټولنيزه برخه کي د دوامدار پرمختګ سبب شي. د ټولو افغانانو د ژوندانه کيفيت به ښه والى ومومي، او د راتلونکو نسلونو لپاره به د اوبو کافي سرچيني حفظ شي.

د کرنيزو ځمکو په خړوبولو کي د هيواد ۹۵ په سلو کي اوبه مصرفوي. په ۱۳۵۰ (۱۹۷۰ ميلادي) کلونو کي تقريباً ۳،٦ ميليونه هکتاره ځمکه کرل کيدله او په مختلفو لارو چارو به خړوبيدله، مګر اوس مهال يوازې ۱،۳ ميليونه هکتاره ځمکه د خړوبولو جوګه ده. چي د دغه جملې يوازې لس په سلو کي يې د مهندسى د سيستم پر بنسټ خړوبيږي نوره ټوله ځمکه په رواجي او عنعوي توګه خړوبيږي. اوبه خور ځمکي د للمي ځمکو په نسبت درې چنده زيات حاصلات ورکوي. په افغانستان کي د ۸،۳ ميليونه هکتاره د کرني وړ ځمکي څخه ٥،۸ ميليونه هکتاره يې د خړوبيدلو وړ ده، د اوبو لګولو د سيستم اداره، د افغانستان د حکومت يو د لومړيتوبونو څخه شميرل کيږي. د ا وبو لګولو د تخريب شويو يا د مينځه تللو سيستمونو په بيا جوړولو کي د پام وړ پانګونه شوې ده. مګر د اوبو دلګښت په اغيزمنتيا کي د پانګوونو د جلب په اړوند ډيره لږ څه شوي دي. د حکومت يو د بنسټيزو لومړيتوبونو څخه د کوکچې، ګمبيري او کامي بندونو پراختيا ده.

په هيواد کي هماغه د پخواني ډول اوبو لګولو د سيستمونو رغول لا اوس هم په لومړيتوبونو کي راځي، او د زراعتي توليداتو او د بيوزلى په کمولو کي د کليوالو کورنيو سره مرسته کولاى شي. د اوبه لګولو او حفظ الصحي په برخه کي د خدمتونو د کمښت د له مينځه وړلو لپاره به دولت د اوبو لګولو او حفظ الصحي پروژې د لومړيتوب په ډول په کار واچوي. په لنډمهال يا مينځ مهال کي به حکومت هايدرولوژيکي سروې بشپړې کړي. او د کرنيزو ځمکو د بيا رغوني لپاره به بندونه جوړ کړي.

**معلوماتي او مخابراتي تکنالوژي:**

د افغانستان د ملي پرمختيا تګلارې يوه ستراتيژيکه موخه داده چي د هيواد ۸۰ په سلو کي خلک په متوازن ډول د معلوماتي تکنالوژۍ او مخابراتي خدمتونو څخه برخمن شي. تر ۱۳۸۹ (۲۰۱۰ ميلادي) کال پورې به د معلوماتي او مخابراتي سکتور لومړيتوبونه دا وي: د نوري فايبر د پروژې بشپړول او معلوماتو ته په چټک ډول د رسيدواو د ګرځنده تليفون د

درلودو لپاره د مسي کيبل غزول، د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ د قانون پلي کول، به د خصوصي سکتور د پانگوني د جلبولو او په دغه سکتور کي د پرمختگ لپاره ډير اړين وي. د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ شورا به د مخابراتو دوزارت له لارې هڅه وکړي ترڅو دولتي ظرفيت د کمپيوټر د لارې په عصري ا و مسلکي توگه د بريښنايي حکومت دارۍ په ډول، لوړي کړي. د حکومت دارۍ کيفيت به ښه والي وموومي او اداري فساد به کم شي. او داسي تمه کيږي چي په دې برخه کي به خصوصي سکتور ډيره پانگونه وکړي.

**ښاري پراختيا:**

د ښاري کيدلو د چټکي پروسي اغيزمن مديريت د هيواد په ښيا رغونه کي ځانگړې اهميت لري. د ولايتي پراختيا د پلان جوړوني په اړونده پروسه کي د افغانستان د ملي پرمختيا تگلارې اته، د ښاري پراختيا پلانونه طرح کړي دي. او په دغه برخه کي د افغانستان د ملي پرمختيا د تگلارې موخي، د خلکو د وس او توان سره سم د سرپناه د خدمتونو برابرول يو ځای د اقتصادي دوامداره پرمختگ سره دي. چي دغه کار به د ښاري ملي پروگرام د لارې تر سره شي. او د ځمکي ملي پاليسي او د ښاري پراختيا پلانونه پکي شامل دي. د دغه هڅو پايلي به په لاندې ډول وي: (۱) د ښاروالیو د وړتیاو لوړول ترڅو ښاري پراختيا اداره او خدمتونه وړاندې کړي، (۲) د بنسټونو بهتره همغږي او د ښاري مهمو شاخصونو څخه څارنه (۳) د ښاري اوسيدونکو لپاره د بنسټيزو خدمتونو زياتوالی (٤) په تدريجي توگه ۵۰ په سلو کي د نارسمي ځمکو رسمي کول. (۵) د عامه اسانتياو او خدمتونو ښه والی او همدغه راز د نويو ښاري سيمو پراختيا لکه د کابل نوی ښار د کابل شمال ته په ده سبز سيمه کي (٦) د وس او توان سره سم د سرپناه گانو زياتوالی چي ۵۰ په سلو کي به يي د خانه سازۍ د تصدی له لارې او ۳۰ په سلو کي به هغه ځمکي وي چي د پير او پلور لپاره ورڅخه د مارکيټونو په برخه کي گټه اخيستل کيږي او د اقتصادي پلوه مناسبو مالي سرچينو ته لاسرسی. (۷) د شنو ا و خلاصو سيمو په رامنځ ته کولو سره د ښاري چاپيريال ښه کول.

لويه ننگونه چي د ښاري چټکي پراختيا په مخ کي پرته ده، دمالياتي سيستم جوړونه او د لگښتونو جبران دی. چي د غه ماليه ورکونه په اغيزمن ډول د ښاري خدمتونو په رسولو کي ډيره مرسته کوي. دغه کار به خصوصي سکتور ته زمينه برابره کړي چي ښاري خدمتونه د دولتي سکتور په لړه مرسته د بيوزلو ښاريانو لپاره برابر کړي. د نه پلان شويو ښاري سيمو او دبې نقشي يا نارسمي سيمو د پراختيا د مخنيوي لپاره دزونونو د وړتياوو او د ښاري پلان جوړوني نوې اداره بايد تقويه، او ملاتړ يې وشي.

**ښوونه او روزنه:**

دولت غواړي چي باسواده او لوستي اتباع ولري. د ۱۳۸۱ (۲۰۰۲ ميلادي) کال څخه را په ديخوا، دولت د پوهني په سکتور کي ډيره پانگونه کړي ده، او د دې موخي د لاس ته راړولو لپاره چي د افغانستان د ماشومانو لپاره د تعليم او تربيي زمينه برابره کړي. بې سوادۍ کي کمښت راولي، او کاري ځواکمن ځواک رامنځ ته کړي ډير برياليتوبونه ترلاسه کړي دي. همدغه راز دولت پرمختيايي موخو ته د رسيدلو لپاره هم ژمن دی، او د افغانستان د ملي پرمختيا د تگلارې موخه د ښووني او روزني په برخه کي داده چي دولت دغه پورته موخو باندې برياليتوب وموومي.

دولت غواړي ترڅو د افغانستان د سواد، د پوهني د کيفيت په ښه والي، دپوهني د سيستم پراختيا ترڅو ډير زده کوونکي جذب کړي، د ټولو خلکو لاس رسی پوهني ته، لوړو زده کړو ته د خلکو لاسرسی، او د لوړو زده کړو د کيفيت او ظرفيت لوړول او په مسلکي مهارتونو کي د لوړوالي، کچه لا ډيره لوړه شي.

د بنسټيزو تعليماتو برابرول او په هيواد کي د نالوستی د کچي ټيټول، د افغانستان د حکومت يو لومړيتوب دی چي د افغانستان د ملي پرمختيا د تگلارې د پلي کيدو په مهال کي به هم د لومړيتوب په ډول پاتي وي. دولت ژمن دی ترڅو هغه لومړيتوبونه چي د افغانستان د پوهني په ملي ستراتيژۍ کي ټاکل شوي دي، پلي کړي. دغه پروگرامونه څه داسي دي: (۱) عمومي زده کړې (چي ٦۰ په سلو کي انجوني او ۷۵ په سلو کي هلکان په ښوونځيو کي شامل شي.) (۲) د ښوونکو روزنه او هڅوی لپاره د کاري شرايطو برابرول (۳) د معارف د بنسټونو پرمختيا او بيا رغونه (٤) د تعليمي نصاب او درسي

موادو بهبود (۵) د سواد زده کړه او غیر رسمي تعلیمات (٦) اسلامي زده کړې (۷) مسلکي او تخنیکي زده کړې (۸) د پوهنې د اداري اصلاح او پراختیا.

په دغه برخه کې دوهم لومړیتوب دادی چې د پوهنې اداره، سیمه ایزو چاروالکو ته د تعلیمي خدمتونو د رسولو د مسوولیت ورسپارلو له لارې ښه کړای شي، او په عین وخت کې د پوهنې د وزارت، د لوړو زده کړو وزارت، او د کار ټولنیزو او شهیدانو او معلولینو د چارو وزارت، پلان جوړونه او څارنیزه برخه تقویه شي، د حرفه یي زده کړو په برخه کې مهم لومړیتوب د حرفه یي زده کړو برابرول، او د مهارتونو د پراختیا پروګرامونه دي چې د کار بازار پکې په نظر کې هم و نیول شي. همدا شان د همغږۍ او د ظرفیتونو لوړول د حرفه یي تعلیماتو د روزنیز بورډ له لارې.

**کلتور او رسنۍ:**
د دغه سکتور لرلید په لاندې ډول دی: (۱) په ټول هیواد کې ښځو او نارینه و ته رسیدونکو، آزادو او خپلواکو رسنیو څخه مداوم او پراخ ملاتړ. (۲) د افغانستان د کلتوري او فرهنګي میراثونو ساتنه (۳) د کلتورې پنځونو څخه ملاتړ.

په دغه برخه کې مهمي موخې دادي: د لرغون پیژندنې له اړخه د ارزښت لرونکو سیمو او ناثبت شویو تاریخي یادګارونو تثبیتول او خطر ته مخامخ سیمو ساتنه، د رسنیو د نوي قانون طرح کول اود آزادو رسنیو د پراختیا څخه په ټول هیواد کې ملاتړ او په نړیواله کچه د هغه هڅو دوام چې غلا شوي هنري آثار بیرته و موندل شي.

**روغتیا او خواړه:**
د ټولو معیارونو په پرتلنې سره، د افغانستان خلک د یو نامساعد روغتیایي حالت څخه رنځ وړي، د افغانستان روغتیایي شاخصونه د نړۍ د روغتیایي شاخصونو په پرتله په ډیره ټیټه کچه کې قرار لري. د سیمې د بل هر هیواد په پرتله په افغانستان کې روغتیایي حالت د یو ناورین سره مخامخ دی، د عمر متوقعه کچه ډیره ټیټه ده، د میندو، نویو زیږیدولو ماشومانو او د پنځه کلونو څخه ټیټ کوچنیانو د مړینې کچه ډیره لوړه ده، او خوارځواکي په هیواد کې په ډیره لوړه پیمانه په خپریدو ده.

د روغتیایي سکتور عمده لومړیتوب دادی چې هغو روغتیایي مسایلو ته چې لومړیتوب لري د بنسټیزو روغتیایي خدمتونو له لارې په عمومي او ټولیز ډول د پوښښ لاندې راولي. دولت به د روغتیایي خدمتونو د ټولګې پلې کیدو ته ادامه ورکوي، او هغه مراجع به تقویه کړي چې د ناروغانو سره مرسته کوي چې د لومړنیو روغتیایي مرکزونو دخدمتونو څخه ګټه واخلي. په ځانګړي ډول دولت غواړي چې د میندو د روغتیایي خدمتونه د کورنیو د لاسرسوونو او د میندو پورې اړوند مسائیلو له لارې او د میندو او ماشومانو د خوړو د وضعیت، د ساري ناروغیو د کنترول د او هغوې نا مناسبه اغیزو په پام کې نیولو سره د خلکو روغتیایي حالت ښه کړي. د دغه روغتیایي مشخصو اقداماتو د ملاتړ لپاره دولت د روغتیایي خدمتونو د رسولو لپاره یوه بنسټیز او جامع پروګرام په پام کې نیولی دی. دغه پروګرام د دې لپاره جوړ شوی دی ترڅوپه روغتیایي ملي سیستم کې نا برابري او د اغیزمنتیا زیاتوالی او د روغتیایي خدمتونو کیفیت، اداره او څارنه ورڅخه وکړي.

د افغانستان د ملي پرمختیا تګلارې موخې د افغانستان د تړون لیک او د افغانستان د پنځلس کلونو د پرمختیایي موخو (MDG) په چوکاټ کې د روغتیا په اړوند په لاندې ډول دي: د ۱۳۸۹ (۲۰۱۰ میلادي) کال ترپایه به د افغانستان د MDG موخو اساس به (الف) د روغتیایي بنسټیزو خدمتونه ټولکه به پراختیا ومومي ترڅو لږ تر لږه ۹۰ په سلو کې وګړي د پوښښ لاندې راولي، (ب) د میندو د مړینې کچه به ۱۵ په سلو کې راټیټه کړای شي، (ج) ټولو د پنځه کلونو څخه ټیټ ماشومان به د وقایې وړ ناروغیو په مقابل کې د واکسینونو په واسطه خوندي کړای شي او د ماشومانو د مړینې کچه به ۲۰ په سلو کې راښکته کړای شي. (د) د هغو ماشومانو چې عمر یې د پنځه کلونو څخه کم وي به د ۱۳۸۲ او ۱۳۹٤ کلونو ترمینځ به یې د مړینې کچه ۵۰ په سلو کې او د ۱۳۸۲ څخه تر ۱٤۰۰ پورې به یې د مړینې کچه د یو پر دریمې برخې

پورې راټیټ کړای شي (هـ) د میندو د مړینې کچه به د ۱۳۸۱څخه تر ۱۳۹٤ پورې ۵۰ په سلو کې او د ۱۳۸۱ څخه تر ۱٤۰۰ هجري لمریز کال پورې به ۲۵ په سلو کې نوره هم راټیټه کړای شي. (و) د ۱٤۰۰ کال پورې به د ایدز د خپرواوي نه مخنیوي وشي (ز) د ملاریا او د نورو عامو ناروغیو د واقعاتو مخنیوې او کمښت تر ۱٤۰۰ هجري لمریز کال پورې.

**ټولنیز خوندیتوب:**

هغه معلومات چې د افغانستان د کورنیو د سروې په پایله کې لاس ته راغلي دي، دا ښیي چې په افغانستان کې د بیوزلۍ او د نرخونو د تغییر په تیره د خوراکي توکو د بیې د لوړیدلو او بیوزلیو په مقابل د خطرته مخامخ خلکو کچه ډیره لوړه ده. د بیوزلیو د له منځه وړلو لپاره یو شرط، ځواکمن اقتصادي پرمختګ دی، خو یوازې اقتصادي پرمختګ هم بسنه نه کوي. د اغیزمن اقتصادي پرمختګ لپاره حکومت د عوایدو د زیاتوالي لپاره پالیسۍ جوړوي، چې د غه پالیسی به د مالي نظره پاییدونکې وي او د افغانستان د عنعنوي او اسلامي ارزښتونو پر بنسټ به د هیواد ډیر بیوزلي او خطر ته مخامخ وګړي په نښه کړي.

د بیوزلۍ د کمښت لپاره د ټولنیزي خوندیتوب له نظره هدفمندو او پاییدونکي مالي اقدامات د مهمو عناصرو څخه شمیرل کیږي. دولت د عوایدو د زیاتیدلو لپاره د اصلاحاتو پالیسۍ رامینځ ته کوي او دغه پالیسی به د ټولنې پر ډیرو بیوزلو خلکو متمرکزې وي. د ملي او اغیزمنو ملاتړ کوونکو پروګرامونو له لارې به بیوزلو سیمو ته کافي منابع ځانګړې کړي. دولت ژمن دې چې ناهدفمندانه سبسایدۍ لکه د انرژۍ سبسایدۍ لیري کړي، او د کار او ټولنیزو او شهیدانو او معلولینو د وزرات د مدیریتي د وړتیاوو په لوړلو او د همغږو پروګرامونو په خپلولو به د کار موندنې او ټولنیز خدمتونو زمینې برابرې کړي.

دولت به له هغه افغانانو سره چې د طبیعي پیښو، ناامنیو، او د کډوالۍ څخه د بیرته راستنیدو په وخت کې متضرر شوې وي، مرستې وکړي. په راتلونکو پنځه کلونو یا د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د مودې په ترځه کې ۲،۵ میلیونه نور کډوال کولای شي چې هیواد ته راستانه شي. د دغه شمیر کډوالو د جذب شمیر په هیواد کې لا تراواسه شونی نه دی. په دغه برخه کې د نړیوالې ټولنې د پام وړ مرستې ته اړتیا شته، ترڅو د سرچینو او د شتمنیو د مسیر د بدلون څخه مخنیوی وشي. د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزرات د کډوالو او راستنیدونکو د ملاتړ پروګرام د نورو وزارتونو سره یوځای پلی او همغږی کوي. د افغانستان د پیښو سره د مبارزې اداره، نورې بشردوستانه مرستې او د دولت تیارۍ به د طبیعي پیښو په وخت کې منسجمې کړای شي.

**مشترک مسایل:**

شپږ حیاتي مسلې دي چې د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې څخه ملاتړ کوي. چې په دغو مسایلو کې د ملي تګلارې ټول ارکان او سکتورنه باید په همغږې ډول اقدامات وکړي. دغه مسایل د یوبل سره اړیکې لري او په ګډه توګه د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې او د افغانستان د پنځلس کلنو پرمختیایي موخو د پلي کیدو په لار کې خنډ او ننګونې رامینځ ته کوي. دولت د نړیوالې ټولنې په مرسته د دغو ننګونو د له مینځه وړلو په کارکې ژمن دی.

**د نشه یي توکو سره مبارزه:**

د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې یوه موخه د مخدره توکو د صنعت له مینځه وړل دي چې هیواد، سیمې او نورو زیاتو سیمو ته یې جدي ګواښ متوجه کړی دی. دولت ژمن دی چې د کوکنارو د کښت ځمکې د ۱۳۹۱ (۲۰۱۲/۱۳ میلادي) کاله پورې د ۱۳۸٦ (۲۰۰۷/۸ میلادي کال) په پرتله نیمې اندازې ته راکمې کړي. دولت پلان لري چې په ۱۳۸۷ هجري لمریز (۲۰۰۸/۹ میلادي کال کې له ۵۰۰۰۰ هکټاره ځمکه د کوکنارو له کښت څخه پاکه کړي.

هر هغه څوک چې د نشه یي توکو صنعت مخکې وړي د دولت د هرې لاس ته راوړنې او د مشروعیت د کسبولو او په هیواد که د ټیکاو راوستلو سره مخالف دي. تروریستي فعالیتونه تمویلوي او د فساد د زیاتیدو سبب کیږي. د مخدره توکو په اړوند د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره د نشه یي توکو د مخنیوي او کنترول غبرګون دی. دغه تګلاره اته یو د بل پورې

اړوند رکنونه لري، چې د نشه يي توکو قاچاق او مصرف رهبري کوي: دغه ارکان لاندې مسايلو ته رسيدګي کوي: (۱) بديل معيشت (۲) د بنسټونو جوړونه (۳) معلوماتي کمپاين (٤) د نشه يي توکو په اړوند د قوانينو پلي کول (٥) جنايي عدالت (٦) له مينځه وړل (۷) نشه يي توکو ته د تقاضا کمول او د روږدو کسانو درملنه (۸) د مخدره توکو د کنټرول د تګلارې په پلي کولو کې سيمه ايزه همکاري به د هغه مودې په اوږدو کې چې د افغانستان د ملي پرمختيا د تګلارې له لوري ټاکل شويده بيا بيا کتل او غني کيږي.

د مخدره توکو د کنټرول په تګلاره کې يو مهم عنصر د هيواد د ولايتونو په کچه د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې پيل دی. او د نشه يي توکو په ضد وزرات به په دغه پروسه کې رهبري کوونکی رول لوبوي. د سيمه ايزو ارګانونو اداره، د کليو د پراختيا وزارت، ولايتي پراختيايي شوراګانې او واليان به هم په زياتيدونکي ډول د نشه يي توکو سره د مبارزې په پلان جوړونه او پلي کولو کې ونډه اخلي. کوم مهم ټکي چې په دې برخه کې شتون لري، دا دی چې هغه واليان چې د نشه يي توکو په ضد مبارزه کې فعاله ونډه اخلي، تشويقي امتيازات به ورته ورکول کيږي او دغه کار به د هغوی د برياليتوبونو د ارزولو په کچه کې شميرل کيږي.

د مخدره توکو پرضد مبارزه کې نور لومړيتوبونه دادي: د بديل معيشت د پروګرامونو د اغيزمنتيا د زياتولو لپاره ګامونه اوچتول د تمويل او پلي کوونکو له لارې همدغه راز د مخدره توکو سره د مبارزې په وجهي صندوق کې اصلاحات راوستل، او په اداره کې يې د افغانانو نقش زياتول، او د دغه وجهي صندوق د اغيزمنتيا زياتول.

**د اداري فساد سره مبارزه:**

اداري فساد د ښې حکومت دارۍ په وړاندې يو مهم خنډ ګڼل کيږي. د افغانستان د دولت موخه د فساد په ضد تګلاره کې دادی چې، يوه ښه سالمه عامه اداري رامينځ ته کړي چې په پاک نفسی او حساب ورکوني سره د قوانينو مطابق، مناسب پراختيايي، اقتصادي او ټولنيزې زميني برابرې کړي. په سياسي پريکړو کې خپل ناپيليلتوب وساتي، سرچيني ښې اداره کړي او د خدمتونو په اغيزمن ډول رسولو کې د مدني ټولني او خصوصي سکتور په ګډون باندې باوري وي.

د دولت تګلاره د نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې، په دولتي اداراتو او قضايي سيستم کې د پام وړ اصلاحاتو راوستلو باندې، همدغه راز د مخدره توکو د له مينځه وړلو په اړوند د پلي کيدونکو اقداماتو باندې متمرکزه ده. په مشخص ډول حکومت غواړي چې په لاندې اقداماتو باندې تمرکز وکړي: (۱) د اداري فساد د مخنيوي پورې د اړوندو قوانينو او طرزالعملونو تعديل او تنفيذ (۲) د مغلقو اداري جوړښتونو اصلاح چې همدغه پيچلتيا يې اداري فساد ته لاره هواروي (۳) د اداري طرزالعملونو ساده کول او آسانول (٤) د په فساد ککړو کارکوونکو ګوښه کول او د لياقت پر بنسټ د خلکو د ګمارلو د پروسي تطبيقول (٥) د مالي او اداري مسايلو او د راکړې ورکړې د تفتيش او کنټرول د طرز العملونو اصلاح او تقويه کول، او (٦) د دولتي کارمندانو لپاره د کافي معاش او امتيازاتو په نظر کې نيول.

دولت په دې موضوع خبر دی چې د فساد پر ضد انډوليزه او منظمه طريقه خپلول او د مختلفو وسايلو څخه کار اخيستل، او د هغوی د اغيزمنتيا ارزول د اداري فساد پر ضد د مبارزې له لازمي توکو څخه شميرل کيږي. مخنيوی، کشف او عدلي قضايي تعقيب، او د خلکو د پوهاوي د کچې لوړول د فساد په ضد د مبارزي د تګلارې مهم توکي دي. دولت به داډمنتيا ترلاسه کړي چې ټول ارګانونه، سيستمونه، او د خدمتونو د رسولو پروسې په داسې توګه عمل وکړي چې د فساد د راټوکيدو مسئله پکې ډيره لږه وي. د حکومت پورې اړوندو غير حکومتي ادارو، لکه ملي شورا، رسنی، او مدني ټولنو لپاره به هم د شفافيت او حساب ورکوني د زياتولو په خاطر اقدامات وشي.

**د وړتياوو لوړونه:**

د انساني او بنسټیزو وړتیاو کموالي د هغو خنډونو له جملې څخه دي چې د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د پلي کیدو په لار کې پراته دي. د وړتیاوو کموالی د سرچینو څخه د لازمې ګټې نه اخیستنې، د اقداماتو دنه اغیزمنتیا، او د پایلو په لاس ته راوړلو کې د نه بریالیتوب سبب کیږي. حکومت به په عامه سکتور کې د ظرفیتونو د لوړولو په خاطر لازم بنسټیز میکانیزمونه رامینځ ته کړي. خو په مناسبو وختونو کې به د خصوصي سکتور په ملاتړ کې هم اقدامات وکړي ترڅو د دې میکانیزمونو لکه: د تعلیماتو د مسلکي بورډ څخه ګټه واخلي.

د بین الوزارتي کمیسیون مهم مسوولیت او دنده به د وړتیاوو لوړول وي. چې د یوې واحدې مرجع په توګه به هم دولت او هم تمویل کوونکو ته راپور ورکوي. بین الوزارتي کمیسیون به د وړتیاوو د لوړولو لپاره یوه همغږې تګلاره چې د اداري پلوه اغیزمنه وي او د مرستو او مالي جریانونه به په ښه ډول کنټرول کړي. د تکراري پروسو څخه به مخنیوی وکړي او ډاډ به حاصل کړي چې د ظرفیتونو د لوړولو په برخه کې په زیاتیدونکی او دوامداره توګه لوړتیا رامینځ ته شوې ده.

حکومت د عامه سکتور د ظرفیتونو د لوړولو او د اداري اصلاحاتو په برخه کې یو جامع پروګرام د لاس لاندې لري. د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې لومړیتوبونه د وړتیاوو د لوړولو په برخه کې دادي: د ملکي مامورینو د مهارتونو د لوړولو لپاره د یوې جامع روزنیزې طرحې جوړول، د ملکي خدمتونو د روزنیز مرکز تاسیسول، د نړیوالو فني مرستو اداره کول ترڅو نورو ته د مهارتونو او تجربو لیږد چټک کړای شي، د مدیریتي ظرفیتونو د پروګرامونو د لارې په لنډ مهالي توګه د وړتیاو اوچتول.

**د ټولنیز جنسیت برابري (جندر)**

د افغانستان د پرمختیایي موخو د بریالیتوب یو شرط په افغاني ټولنه کې د ښځو تاریخي محرومیت له مینځه وړل دي. د حکومت لرلید دا دی چې یو سوله دوست او پرمختللی ملت ولري، چیرته چې ښځې او نارینه د امنیت، او مساوي حقونو او د ژوندانه په ټولو چارو کې د برابر کاري فرصت څخه برخمن وي. حکومت ژمن دی ترڅو خپل مکلفیتونه، چې د ښځو لپاره لکه څنګه چې په اساسي قانون، د افغانستان د پنځلس کلنو موخو، د افغانستان تړون لیک او نورو نړیوالو میثاقونو کې راغلي دي. پرمختیایي پروګرامونه برابر کړي. د افغانستان د ملي پرمختیا تګلارې ټولو سکتورنو لپاره د اسې یو چوکاټ برابر کړې چې په هغې که د جندر مسئله په هر اړخیز ډول حل شوې ده. ترڅو په ټولنه کې د ښځو وضعیت، ټولنیز-اقتصادي شرایطو او پر مختیایي فرصتونو ته پکې د هغوی لاسرسی تضمین شي. دټولنیز جنسیت د برابرۍ د تګلارې پلي کول د ټولو دولتي ادارو په ملي او ولایتي کچه ده. د ښځو چارو وزارت د ښځو د پرمختګ، په برخه کې یو همغږی کوونکی، څارنیز او لارښودونکی نقش لري.

**د ژوندانه چاپیریال:**

د ژوندانه چاپیریال یوه مشترکه موضوع ده چې د ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا څخه ملاتړ کوي. د حکومت موخه د ژوندانه د چاپیریال په اړوند دا ده چې د افغانانو لپاره د ژوندانه د چاپیریال د ساتنې، خوندیتوب او ښه والي له لارې د ښه کیفیت ژوند برابر کړي. او همداشان ډاډ رامینځ ته شي چې راتلونکي نسلونه د اوسنی پاییدونکي پرمختیا څخه ګټه اخیستلای شي. د یو لومړیتوب په بڼه دولت د ژوندانه د چاپیریال ساتنې ادارې وړتیا لوړوي ترڅو خپله انتظامي، همغږې کوونکې او څارنیز دندې ترسره کړي او په ضمن کې د اړوندو وزارتخانو سره په مشوره د پروګرامونو د طرح کولو جوګه شي. بل لنډ مهالی لومړیتوب دادی ترڅو د ژوندانه د چاپیریال ساتنې سیستم په ګډ ډول د ژوندانه د چاپیریال ساتنې د ملي ادارې او د اړوندو وزارتونو له لورې چې د ژوندانه د چاپیریال او د پرمختیایي پروژو څخه څارنه کوي، وارزول شي.

**سیمه ایزه همکاري:**

افغانستان په یو ستراتیژیک موقعیت کې پروت هیواد دی، چې مرکزي او جنوبي آسیا سره نښلوي. او همدغه راز یې د چین او لیري ختیځ او مینځني ختیځ او اروپا لپاره سوداګریزه لاره جوړه کړې ده. اوس مهال افغانستان د امنیتي ګواښ سره

مخامخ دی چې په سیمه باندې یې مهم اغیز شیندلی دی. او کولای شي چې یوازې د سیمه ایزو همکاریو له لارې په دغه ستونزه باندې بریالی شي.

د فرصتونو او زمینو برابولو د دغه ستراتیژیک موقعیت څخه، د یو پل په بڼه چې مرکزي او جنوبي آسیا، او مینځنی ختیځ او لیرې پروت ختیځ سره نښلوي ګټه اخیستل کیږي. او د سیمې په ثبات او نیکمرغۍ کې مرسته کوي. او همدغه راز د سوداګرۍ او پانګونې کچه هم زیاتوي. په دغه برخه کې د دولت لومړیتوبونه دادي: (۱) دوه اړخیزو او سیمه ایزو نوښتونه او تړونونه چې د ترانزیت، ترانسپورت، او پانګوونې په برخه کې ترسره کیږي نو د افغانستان ونډه او رهبري پکې تقویه کیږي. (۲) د جامع تصمیمونو نیول د هیواد د اوبو د بریښنا څخه د ګټې اخیستلو په منظور (۳) د کډوالو د بیرته راستنیدو لپاره د آسانتیاوو برابریدل (٤) په سرحدي ادارو کې د سیمه ایزې همکارۍ زیاتیدل د سرحدي جرمونو لکه: د وسلې او نشه یي توکو قاچاق، مخنیوی کوي. دولت په دې خبره پوه شوی دی چې د سیمې د هیوادونو په ځانګړي ډول د پاکستان د همکارۍ پرته خپله موخه چې د امنیت راوستل دي نه شي پوره کولای.

**و: د ستر اقتصاد چوکاټ:**

با کیفیته او پاییدونکی اقتصادي پرمختګ د بیوزلۍ د له مینځه وړلو او د کار موندني لپاره یو مهم ځواک ګڼل کیږي. په دې وروستیو کې د دولت لخوا د پولي او مالي سیاست د ښه والي او پرمختګ د هڅو او د اسعارو او د بدلون د نرخ د ثابت ساتلو له لارې د اقتصادي پرمختګ ملاتړ کیږي. سره له دې چې د افغانستان اقتصادي پرمختګ تر اوسه په اغیزمن ډول د بیوزلۍ د کمښت او د کار موندنې په برخه کې دومره اغیزه نه ده کړې او په لویه پیمانه د بهرنیو مرستو له خوایې ملاتړ شوی دی.

د هیواد د ملي پرمختیا تګلاره د بیوزلۍ د له مینځه وړلو، او د پرمختیایي پایلو د لاس ته راوړلو لپاره جوړه شوې ده. چې دغه موضوع ډیرۍ د ستر اقتصاد د ټیکاو د ساتلو او د پرمختیایي سرچینو د رامینځ ته کولو په ځانګړي ډول په خصوصي سکتور باندې متکي ده. د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره به د مالي ثبات په برخه کې چې اهمیت یې د ډیروز بیوزلو هیوادونو سره د مرستندویه پورونو د بښېریدو په برخه کې شتون لري اوهم به د کورني عاید دزیاتیدو سره مرسته وکړي. د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې بریالیتوب د ملاتړ، دولت په مینځ مهالي مالي چوکاټ باندې، چې د افغانستان لپاره د ثابت مالي مسیر ټاکل دي، ولاړ دی. د افغانستان بانک د دې لپاره چې د مالي پړسوب کچه ډیره ټیټه وساتي او موجوده د پیسو د تبادلې ثبات ټینګ کړي خپلو هڅو ته ادامه ورکوي.

د اوسنیو محدودیتونو د شتون سره، دولت ژمن دی چې د یو ځواکمن اقتصادي بازار د رامینځ ته کولو لپاره چې په خصوصي سکتور ولاړ وي کار وکړي. او دا په دې مانا ده چې اوس هم په لنډمهالي ډول د دولت او تمویل کوونکو مراجعو لخوا د پانګونې ښه وخت دی او په مینځ مهالي او اوږد مهالي موده کې تمه کیږي چې خصوصي پانګونې به د اقتصاد پر پرمختګ د پام وړ اغیزه وکړي او په دغه ډول به اقتصادي زیاتیدونکی پرمختګ د عوایدو د زیاتیدلو سبب شي چې بیا به بیوزلي او غریب خلک د هغې څخه ګټه واخلي او دولت به په دې قادر کړي چې ټولنیز خدمتونه زیات کړي او په خصوصي سکتور کې به خلکو ته د کار کولو زمینې برابرې شي.

د دې موضوع په پام کې ساتلو سره، دې موخې ته رسیدل، وخت ته اړتیا لري، ځکه دولت خپل ځان د ټولنیز خوندیتوب د پروګرامونو په پلي کولو کې هغه هم د ټولنې هغو خلکو سره چې ډیر د خطر سره مخامخ دي-په دوامداره ډول- شریک ګڼي.

دولت تصمیم لري چې د خصوصي سکتور د پرمختګ سره، هغه هم په رقابتي ډول او د تولیداتو په کچه کې د پام وړ زیاتوالي په صورت کې مرسته وکړي. د سیمه ایزو معیارونو له نظره، اوس مهال، د افغانستان صادرات چې د وچې میوې

او قالینو د صادراتو پورې تړلي دي، په ډېره ټيټه کچه کې قرار لري. خو په وروستیو کلونو کې یو لړ نویو تولیدي صنایع هم راښکاره شوي دي. ځینو خو یې لا د ځانه صادراتي وړتیا هم ښودلې ده. لکه، د لبنیاتو محصولات، ګبین، سمنټ، د لمرګلي تولیدات، شیشه، جغندر یا لبلبو، د بادامو غوزي او کشمیري شالونه. دولت به د لا زیاتو تخنیکي مرستو غوښتونکی شي، ترڅو د شرکتونو وړتیا د دې صنایعو او یا د نورو صنایعو په تولید کې د اغیزمن رقابت له لارې په صادراتي باالقوه بازارونو کې زیات کړي.

د مسو، طبیعي ګازو، پطرولو او نورو ارزښتناکو پراخ انکشاف به د پام وړ صادراتي پرمختګ کې مرسته وکړي. چې د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې په هر کال کې به د ١٦ څخه تر ١٧ په سلو کې پورې پرمختګ و ښيي. باید وویل شي چې د خصوصي سکتور پرمختګ به هم د صادراتو په پراختیا کې زیاتوالی راولي. همدغه راز دولت ژمن دی ترڅو د صادراتو حجم زیات کړي. او د ارزښتناکه صادراتو او د یو سوداګریز آزاد سیاست د ځواکمنتیا په لورې ګام اوچت کړي. د سوداګریز سکتور لپاره د ښو زمینو برابرول، د دولت یو مهم لومړیتوب شمېرل کېږي، او هم د سیالی او هم د صادراتي پراختیا په برخه کې مرسته وکړي. د کانونو د سکتور پراخیدنه، او د صادراتو پرمختګ، د سرچینو د استخراج او ګټې اخیستنې څخه تمه کیږي چې د اقتصادي پرمختګ د یوې مهمې منبع په توګه، د کرنیزو فعالیتونو په څنګ کې د اوچت ارزښت درلودونکی دی چې دغه دواړه به د کارموندنې په برخه کې مرستندویه واقع شي.

مالي دقیق سیاستونه، د ستر اقتصاد او د عامه منابعو داختصاص د ټیکاو ساتونکو وسایلو څخه شمیرل کیږي. د مالي ثبات لپاره د دولت مینځ مهاله موخه دا ده چې د عادي بودجې لګښتونه د داخلي عوایدو څخه پوره کړي. د عادي بودجې انډول (پرته د بلاعوضه مرستو څخه) داسې وړاندیز کیږي چې د ٤٠ فیصده نا خالصه داخلي تولیداتو د کسر څخه په ١٣٨٦ (٢٠٠٧/٨ميلادي) کال کې یې شتون درلود، به تر ١٣٩١ (٢٠١٢/١٣ میلادي) کال پورې په یوې انډولیزه بودجې بدله شي. د افغانستان خوزښت د مالي ثبات او د پورونو د دقیق مدیریت په لور د مالي پروسې یوه لازمي برخه ګڼل کیږي. افغانستان به د محدودو پورونو څخه د مشخصو پروژو او پروګرامونو په پلي کولو کې ګټه واخلي.

په لنډ او مینځ مهال کې د عامه لګښتونو لومړیتوب د ملي امنیت، او د خصوصي تشبثاتو د تشویق او د زیاتو تولیدوونکو بنسټونو د رامینځ ته کولو په برخه کې پانګونه ده. سره له دې چې امنیتي سکتور د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د لومړیتوبونو څخه شمیرل کیږي. خو داسې تمه کیږي چې د دغه تګلارې د پلي کیدلو د مهال په وخت کې به امنیتي سکتور د بهرنیو مرستو له لارې تمویل شي. د عامه لګښتونو پورې اړوند سیاستونه به د خصوصي سکتور پرمختګ آسانه کړي او د تولید وړتیا به پکې ډېره کړي. چې دغه کار به په خپل نوبت د بیوزلی د کمښت سبب شي. د دولت پلان دادی چې د خپلې اختصاص شوې بودجې د لګښت وړتیاوې په ټولو برخو کې زیاتې کړي.

په وروستیو پنځو کلونو کې، بهرنیو مرستو د هیواد ٦٠ په سلو کې ناخالصه تولید تشکیلوه، د بهرنیو مرستو څه نا څه یو پر دریمه برخه د اصلي بودجې له لارې لګول شوې ده. او باقي پاتې یې د دولت له بودجې څخه بهر لګول شوی ده. د تمویل کوونکو مراجعو د لګښتونو او د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د لومړیتوبونو په یوه کړښه کې راوستل یا تطابق ورکول د ډیرو لویو ننګونو څخه شمیرل کیږي. د دولت یو لوی تشویش د بهرنیو مرستو د بې ثباتی په اړوند بالقوه منفي اغیزه ده، دولت د مرکزي بانک زیرمې ساتلې دي. او په مینځ مهالي موده کې د مالي انعطاف پذیری د سیاست پورې اړوند اقدامات په کار اچوي.

د عوایدو زیاتوالي د عوایدو د ادارې د ښه والي، د عملي اقداماتو او د مالیاتو پراخوالی له لارې د مالي ثبات او د مرستو پورې د نه تړاو لازمي برخې جوړوي. دولت ژمن دی ترڅو د ١٣٩١ (٢٠١٢ میلادي) کال پورې د عادي بودجې ټول لګښتونه د د اخلي عوایدو څخه ترلاسه کړي. د داخلي عوایدو څخه د کار اخیستنې په برخه کې پرمختګونه رامینځ ته شوي دي، او د داخلي عوایدو څخه ګټه اخیستنه له ١٢،٨ ملیارده ډالرو څخه په ١٣٨٣ (٢٠٠٤/٥ میلادي) کال کې ٢٨،٨ میلیارده ډالرو ته په ١٣٨٥ (٢٠٠٦/٧ میلادي) کال کې لوړه شوې ده. او تمه کیږي چې د عوایدو او ناخالصه داخلي تولیداتو نسبت

به ۱۰ تر ۱۱ په سلو کې د ناخالصه داخلي تولید تر ۱۳۹۱ هجري لمریز (۲۰۱۲/۱۳ میلادي) کال پورې لوړ کړای شي. خو له دې سره به هم د ا په نړۍ کې ټیټه ترینه کچه وي. د عوایدو د تولید لپاره بیرنی لومړیتوب د عملي هڅو تقویه کول او د ملي شورا تشویق دی ترڅو پر عایداتو د مالیاتو قانون کې د حکومت لخوا وړاندیز شوي تعدیلات ومني او یا نوي قوانین تصویب کړي. خو د لنډ مهال لپاره به د دولت مهم سیاست دا وي چې د مالیاتي ادارو د وړتیاو د لوړولو او ښه کولو د پالیسۍ له لارې په عوایدو کې زیاتوالی راولي. د مینځ مهالي مودې لپاره به په لګښتونو د مالیاتو وضع کول د عوایدو په زیاتوالي کې مهم نقش ولوبوي.

**ز ـ د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د تمویلولو لپاره مشارکت:**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت کابینې د مالي لومړیتوبونو او د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د سکتورنو یوه سقفي بودجه په لاندې ډول چې په لومړۍ شمیره جدول کې ښودل شوې ده تصویب کړه. د دغه سکتوري سقفي بودجه د پرمختیایي اړتیاوو، د تیرو کلونو د مالي منابعو د معلوماتو او د داخلي عوایدو د وړاندوینې پر بنسټ جوړه شوې ده.

د سکتوري سقفي بودجې د لومړیتوبونو پلي کیدل، د مینځ مهالي چوکاټ په رامینځ ته کولو کې مهم رولو لوبولی دی. او دعمومي بودجې سره په مستقیم ډول اړیکې لري. د ۱۳۸۷ هجري لمریز (۲۰۰۸/۹ میلادي) کال په پیل کیدو سره مینځ مهالي مالي چوکاټ به هغه لومړیتوبونه احتوا کړي چې د افغانستان د ملي پرمختیایي تګلاره کې ذکر شوي وو. او د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د پلي کیدلو لپاره به د ملي بودجې له لارې زمینه برابره کړي.

د لګښت له نظره به امنیت داسې یو سکتور شي چې د ډیر لوړ لومړیتوب درلودونکی به وي. د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې په موده کې به په ټولیز ډول د وړاندوینې پر بنسټ د امنیت په برخه کې ۱٤،۲ ملیارده امریکایي ډالره لګښت راشي. د دې سکتور تمویل په ابتدایي ډول د نړیوالو لګښتونو د لارې ترسه کیږي. دولت وړاندوینه کوي چې په راتلونکو کلونو کې به د امنیتي خطرونو د کمیدولو په صورت کې امنیتي مرستو ته اړتیا کمه شي. د افغانستان د بې ثباتۍ په نظر کې نیولو سره دولت په باالقوه توګه کولای شي د امنیتي سکتور په بودجه کې به په راتلونکې کې بدلونونه راولي.

په لنډمهالي موده کې دولت د خپلو عامه لګښتونو په پروګرامونو، د بنسټونو په برخه کې د پانګه اچوونو، کرهڼه او د کلیو پراختیا په برخه کې، د دې سکتورونو په لوی اهمیت پوهیدلو سره، د خصوصي سکتور د پرمختګ، او د کارمندانو د ګمارلو په بهبود باندې تمرکز وکړي. د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د پلي کیدو په موده کې به دولت ډیرې سرچینې په زیاتیدونکي ډول پر ښوونې او روزنې، ښې حکومتدارۍ، روغتیا او ټولنیز خوندیتوب باندې متمرکزې کړي. دولت ژمن دی ترڅو پر هغه لومړیتوبونو توجه وکړي چې د اقتصادي واکمنتیا او د خصوصي سکتور د پراخیدولو لپاره د چاپیریال په برابرولو کې تري کار اخیستل کیږي.

**د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې قیمت ټاکنه او د سکتورنو د لومړیتوبونو په نښه کول:**

د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې قیمت ټاکنه لا تراوسه نه ده بشپړه شوې. د دغه تګلارې د جوړولو په وخت کې دا خبره څرګنده شوه چې په ډیرۍ سکتورنو کې د لګښتونو او همداراز د پانګې اچوونې د جزئیاتو په اړوند معلومات وجود نه لري. برسیره پردې بشپړه قیمت ټاکنه د سکتوري موخو د لومړیتوبونو د پیژندنې او تشخیص څخه د مخه د مهمو پایلو پر بنسټ ممکنه نه وه. نو تصمیم پر دې شو، چې په لومړي پړاو کې به هغه درې سکتورونه چې د نسبتاً بنسټیز لوړو وړتیاوو څخه برخمن دي قیمت ټاکنه به یې وشي. روغتیایي سکتور، ښوونه او روزنه او د ترانسپورت له فرعي سکتور څخه سرکونه د آزمایښتي ټاکنې لپاره انتخاب شول. د مالیې وزرات د دې پروسې رهبري په غاړه واخیستله، او د اړوند وزارتونو سره په دې برخه او په ضمن کې په ولایتي کچه د قیمت ټاکنې په پروسه کې د شاملولو همکاري کوي. د لومړیتوبونو د

درلودونکو سکتورنو یعني امنیت، ټولنیز خوندیتوب او د بنسټیزو سکتورونو په باقي پاتې برخو باندې د قیمت ټاکنې کار لا د پخوا څخه پیل شوی دی. تمه کیږي چې د دغو سکتورنو د قیمت ټاکنې پروسه به د ۱۳۸۷ هجري لمریز کال د دوبې (۲۰۰۸ میلادي) پورې بشپړه شي.

**ح- د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د پلي کولو لپاره متوقعه مرستې:**

د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې ټولیز لګښت په پنځه کلنه دوره کې ۵۰،۱ میلیارد ډالره تخمین شوی دی. چې له دې جملې څخه د افغانستان حکومت ٦،٨ ملیارده ډالره برابر کړي او پاتې ٤٣،٢ میلیارده به یې د بهرنیو مرستو له لارې برابرې کړای شي. ۵۰،۱ میلیارده ډالره تخمین، د بهرنیو مرستو په لګښت کې د اصلي بودجې له لارې ډېر زیاتوالی ګڼل کیږي. خو که چیرې بهرنۍ مرستې د دولت د بودجې څخه پرته ولګول شي، نو بیابه ټولیز مخارج یکې زیات شي او په دې توګه به د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د پلي کیدو لپاره مرستو ته ټولیزه اړتیا زیاته شي، او په راتلونکو پنځه کلونو کې به په دغه لګښتونو کې د پام وړ زیاتوالی راشي.

د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې په موده کې به هیواد په بهرنیو مرستو متکي وي، د دولت موخه په مینځ مهاله موده کې په بهرنیو مرستو د اتکا کموالي او په داخلي عوایدو کې دوامداره زیاتوالی دی. په دې ترتیب سره دولت داسې پالیسی د لاس لاندې نیولې دي، چې په افغانستان کې د اقتصادي چارو د ځواکمنتیا سبب شي او دعوایدو راټولولو د ښه والي سبب شي. په ضمن کې حکومت هڅه کوي چې خپل نړیوال همکاران تشویق کړي چې د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د موخو د لاس ته راوړلو لپاره خپلو همکاریو او ژمنو ته د څو کالو لپاره ادامه ورکړي. دغه چاره به د حکومت سره د لګښتونو په مورد کې د ښې پلان جوړونې، د لومړیتوبونو ښې ادارې او د مینځ مهالي مودې لپاره د مرستو په وړاندوینو کې، مرسته وکړي

**ح. د مرستو اغیزمنتیا:**

که چیرې د مرستو په اغیزمنتیا کې د پام وړ پرمختګ نه رامینځ ته کیږي، نو افغانستان به ونه شي کولای ترڅو هغو اهدافو ته چې د افغانستان د ملي پرمختیا په تګلاره کې یې ټاکلي دي ورسیږي. آن که د بهرنیو مرستو په کچه کې زیاتوالی هم راشي. دولت ژمن دی ترڅو د نړیوالو پرمختیایي مرستو څخه په اعظمي توګه ګټه واخلي، د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره د خپل عملي چوکاټ، څارنې او ارزونې سره، د مرستو د اغیزمنتیا لپاره یو بنسټ اېښی دی. دولت د مرستو د اغیزمنتیا تګلاره د پاریس د پریکړه لیک او د افغانستان سره د نړیوالې ټولنې د ژمنو پر اساس جوړه کړې ده.

د مرستو د اغیزمنتیا په تګلاره کې مهم لومړیتوب دادی چې تمویل کوونکې مراجع تشویق شي چې د خپلو مرستو زیاته برخه د افغانستان اصلي بودجې ته انتقال او مصرف کړي. داسې نښې نښانې موجودې دي چې هغه مرستې چې د دولت د ملي بودجې له لارې ترسره شوې دي نو ډیرې ښې پایلې یې درلودلې دي. په مقابل کې دولت ژمن دی چې عامه مالي اداره، تدارکات او نور عامه سکتورنه د ظرفیتونو د جذب او د مالي څارنې په برخه کې تقویه کړي.

د مرستو د اغیزمنتیا ستراتیژي لاندې لومړیتوبونو درلودونکې د اصولو اوپالیسو پر بنسټ جوړه شوې ده:

- افغاني مالکیت: د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د جوړیدو له لارې، دولت هغه لومړیتوبونه تشریح کوي، کوم چې د افغانستان د پرمختیایي موخو لپاره لازم دي.
- د نړیوالو مرستو تطابق د هغه لومړیتوبونو سره چې د افغانستان د ملي پرمختیا په تګلاره کې بیان شوي:

د افغانستان نړیوال همکاران کولای شي چې د مرستو د اغیزمنتیا د ښه والي لپاره د سکتوري نهایي ټاکل شوي حد او د لومړیتوب لرونکو پروګرامو د دسپلین له لارې او په عین وخت کې د همغږۍ د بهبود له لارې چې په چټک ډول د معلوماتو دشریکولو او دپالیسي په اړوند د خبرو اترو په افقي ډول (د تمویل کوونکو مراجعواو دولتي ادارو ترمینځ) او په عمودي ډول (د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو او د سیمه ایزو ادارو ترمینځ) مرسته وکړي.

- همغږي: د مرستو دجریاناتو په اړوند معلومات او وړاندویني، د انتقال د لګښتونو او د موازي مالي وجوهو د میکانیزمونو کمول، د دولتي دوایرو ترمینځ د همغږۍ را مینځ ته کول، او د تخنیکي مرستو د اداري ځواکمنتیا کولای شي د مرستو په اغیزمنتیا کي مرسته وکړي.
- پایلو ته لاسرسی: دولت ژمن دی ترڅو داسې پالیسۍ جوړې کړي، چې موخه یې د شفافیت، د وړتیاوو لوړول، د دولتي مرستو راجذبول، د عامه مالي ادارو ښه والي، د اداري فساد له مینځه وړل، د پایښت رامینځ ته کول او په فعالیتونو کې د حفظ او مراقبت د لګښتونو تداوم وي.
- حساب ورکونه او دوه اړخیزه همکاري: ګډو موخواو لرلیدونو ته د رسیدلو لپاره به دولت د پاریس د پریکړه لیک د څارنې دسروې، د مالي ادارې د چارو ارزول د یوې داسې وسیلې په توګه چې په دواړو خواوو باندې حساب ورکونه لازمي کړي او د مرستو د اغیزمنتیا په برخه کې، ګډون وکړي.

**ط. پلي کیدونکی چوکاټ:**

ملي بودجه د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د پلي کیدلو یوه مهمه وسیله ګڼل کیږي. او په دې ترتیب، ټول اړوند وزارتونه، خپل پروګرامونه او پروژې د ملي پرمختیا دتګلارې د سکتوري ستراتیژیو په مطابق طرح او تنظیموي. سکتوري پروګرامونه او پروژې، د قیمت ټاکنې څخه وروسته، یو وار بیا تنظیم او لومړیتوبونه یې ټاکل کیږي، ترڅو د مینځ مهالي سقفي بودجې سره برابر شي. د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې پلي کیدونکي چوکاټ د ملي بودجې یو واحد او همغږی طرزالعمل او د پروژو تقنیني پلې کوونکی چوکاټ دی. نو د دې له امله نړیوالې ټولنې ته لازمه ده چې خپلې همکارۍ د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د لومړیتوبونو سره مطابق عیاره او ترتیب کړي. د دغه اصل پر بنسټ، د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې، عامه پانګوني پروګرام به جوړ شي ترڅو د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې یوځای کیدل د مالي چوکاټ د بودجې او وخت تر مینځ برابر کړای شي.

د وزارتونو د لګښتونو د کنترول او تفتیش دفتر به ځواکمن کړای شي، مګر او سمهال د کنترول او تفتیش په دفتر کې د ظرفیتونو کموالی محسوسیږي نو د لنډې مودې لپاره به دغه مسوولیت د مالیې وزارت په غاړه واخلي، کابینه به د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د څارنیزې کمیټې له لارې ټولې پلي کیدونکې پروسې څخه څارنه وکړي او ټول فعالیتونه به همغږي کړي. مګر اړونده وزارتونه او نور دولتي ارګانونه به د دغې تګلارې پلي کیدنه په غاړه لري. د مالیې وزارت مسوول دی ترڅو ځان ډادمن کړي چې د اړوندو وزارتونو پروژې او پروګرامونه، د مینځ مهالي مالي چوکاټ، او ملي قیمت ګذاري شوې بودجه تنظیم او توحید شوي دي. د څارنې او همغږۍ ګډ بورډ د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د او د افغانستان د تړون لیک د افغانستان د دولت او د نړیوالې ټولنې د لوړترینه مسوول میکانیزم په توګه پیژندل کیږي، د دولت او تمویل کوونکو مراجعو ګډ بنسټونه لکه مشورتي او کاري ګروپونه به په مداوم ډول د یوې ټولنې په حیث د مرستو د همغږۍ کولو د ښه والي، د پالیسیو په اړوند د دیالوګ، او د پروګرامونو د پلي کولو، او د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې سره د تموي ل کوونکو مراجعو د پروګرامونو د همغږي کولو لپاره کار کوي.

**ي. څارنه، ارزونه او راپور ورکول:**

د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې څارنه او ارزونه به د پلي کیدونکي چوکاټ یوه بشپړوونکي برخه وي. یادې شوی تګلارې په ښکاره ډول، موخې، نظریات، پایلې، لاس ته راوړنې او اغیزشیندونکي شاخصونه طرح کړي دي. مګر د احصایې د کمزورې پروسې، د یو لړ مهمو پرمختیاوو او د بیوزلۍ د شاخصونو د معلوماتو اساس لا تر اوسه نه دی رامینځ ته شوی، نو لازمه ده، چې د څارنې او بررسې تر مینځ توپیر ته قایل شو: نظریات او پایلې یا د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د پلي کیدونکي پروګرام څارنه، او د لاس ته راوړنو د پایلو او د لوړې کچې د دولتي بنسټونو د څارنې (څارنیزه

کمیټه او کابینه) او د همغږۍ او څارنې ګډ بورډ، د ډاډ د ترلاسه کولو په موخه، چې د افغانستان ستراتیژیک لومړیتوبونه په یو استقامت کې قرار لري.

د همغږۍ د ګډ بورد دارالانشا، څېړنو، د پالیسیو ارزونو، او ستراتیژي ګانو او په ضمن کې د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې او د افغانستان د تړون لیک څخه ګډ څارنیز او همغږي کوونکي بورد ته راپور تقدیموي. د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د پرمختګ کلنی راپور به بیا د نړیوال بانک او نړیوال وجهي صندوق بورډونو ته دپای ټکي ته درسیدو لپاره د ډیرو پوروړو هیوادونو د پروګرام له لارې تسلیمیږي، د هرکار د راپور او د هرې دوه کلنې ارزونې څخه وروسته به د افغانستان د ملي پرمختیا/د بیوزلی د کمښت د تګلارې یو نوی سند د نوموړي بورډ په هراړخیزه همکارۍ جوړ او د پروګرامونو او معیارونو اغیزې به د اروزنې لاندې ونیسي. نوي جوړ شوي اسناد به په عام ډول خپاره شي او دولت لپاره به دغه فرصت مهیا کړي ترڅو د پالیسیو د تنظیم له لارې خپلو د نظر وړ پایلو ته ورسیږي. دولتي لګښتونه به هم وارزول شي، او د بودجي د دوران سره سم به څارنه او سکتوري راپور ورکونه په ربع وار ډول ترسره شي.

د څارنې او راپور ورکوني مرکزي سیستم به د اقتصاد وزرات، د ګډ څارنیز او همغږي کوونکي بورډ لخوا طرح شي. دغه سیستم او د احصائیې مرکزي اداره به د منظمو معلوماتو په راټولولو او څارنیز سیستم کې کار وکړي. مرکزي احصائیه به معلوماتو د مختلفو لارو، لکه د سروې ګانو له لارې راټول کړي. دغه راټول شوي معلومات به بیا د څارنې او راپور وروکوني سیستم پروسس کړي، د وزارتونو بودجوي څارنه او راپور ورکونه به په غاړه واخلي، مختلفي څارنیزې پروسې به آسانې کړي. او باالاخره به دغه معلومات خپاروه او نشر کړي. مرکزي احصائیه به د مهمو ملي احصائیو د راټولونکي، لومړني او ثانوي، او د څارنې او راپور ورکوني د سیستم لپاره به د یوې سرچینې بڼه غوره کړي. د دې لپاره چې مرکزي احصائیه وکولای شي تر څوپه لوړه کچه د شاخصونو په اړوند شمیرو او معلوماتو او د هغوی اغیزې په ټیټه کچه باندې رامینځ ته کړي نو د بشري ظرفیتونو له پلوه باید ځواکمنه کړای شي. د مرکزي احصائیي د وسایلو څخه یوه یې هم د خطر او خطر ته مخامختیا ارزول په کورنیو کچو دي. چې دهغې په واسطه د بیوزلی کچه محاسبه کیدلای شي. د خطر او خطر ته د مخامختیا د اروزلو د سیستم نقش ته باید ډیره پراختیا ورکړل شي ترڅو د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې اغیزمنتیا ته په ښه توګه انعکاس ورکړي.

وزارتونه به خپل کار ته چې د سکتوري معلوماتو راټولول دي ادامه ورکړي ترڅو د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې پایلې او لاس ته راوړنې پرې وڅارل شي. وزارتونه به خپلې ولایتي نماینده ګی تقویت کړي ترڅو د شاخصونو د ډولونو په تفکیک سره په ولایتونو کې د پرمختګ د کچې د ارزولو لپاره معلومات راټول کړي. د افغانستان د بودجې د څارنې سیستم، او د افغانستان د مالي ادارې د معلوماتو سیستم، چې د مالیې وزرات له لوري اداره کیږي، به د داخلي او خارجي لګښتونو په اړوند د مالي مینځ مهالي موازي چوکاټ له لارې معلومات برابر کړي.

خپلواکه څارنه هم د څارنې او راپور ورکونې یوه مهمه برخه ده، مدني ټولنه، نا دولتي موسسات، او رسنی به د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې خارجي څارنه ترسره کوي. د دې تګلارې پلي کیدل، او ارزول به د همکارانو، ولایتي نماینده ګانو، او نړیوالو استازو سره په مشوره کې ترسره شي.

د مالي نړیوالو بنستونو، د نړیوالې ټولنې او د ملګرو ملتونو د سازمانونو نقش د لاندې موضوعاتو لپاره د ارزښت درلودنکی دی. (۱) د څیړنو او ارزونو د مخ ته وړلو لپاره (۲) د مهمو معلوماتو د پوښښ او زماني میعادونو لپاره (۳) د موجوده سر چینو د مستند سازۍ لپاره (٤) د اوسنیو بهرنیو مرستو د کچې په اړند د معلوماتو برابرول او په مینځ مهاله موده کې د مرستي د کچې وړاندوینه.

**ک. پایله:**

ګرچه په تیرو شپږو کلونو کې د پام وړ لاس ته راوړنې مینځ ته راغلي دي، خو افغانستان او نړیوالې ټولنې، د ورانیو کچې ته په کمه سترګه وکتل او لازم وخت او لګښتونه یې په پام کې ونه نیول، پرمختګونه تل د ستونزاو د خلکو د هیلو په زیاتیدلو سره د ننګونو سره مخامخ وو.

په افغانستان کې د نوې راټوکیدلې ولسواکۍ اړتیا وه ترڅو یو نیکمرغه افغانستان چې اقتصادي پرمختګ او د بیوزلۍ کمښت پکې رامینځ ته شي. په دغه برخه کې بریالیتوب د پرمختګ کوونکي خصوصي او دولتي سکتور د منابعو په شتون کې، چې د فزیکي، سوداګریزو، قانوني، او په ټولو وګړو باندې د اقتصادي پرمختګ د مساوي تقسیم بنسټونه جوړ کړي، اړه لري. په عین وخت کې اقتصادي پرمختګ، د بیوزلۍ له مینځه وړل، د سولې او امنیت راوستلو او په ټول هیواد او ولایتونو کې د ثبات د ټینګښت او د دولتي ارګانونو د بنسټیزو وړتیاوو د لوړلو پرته شوني نه دي.

د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې له لارې، دولت په کلکه ژمن دی ترڅو هغه موخې چې د افغانستان په تړون لیک او د MDG په موخو کې ورڅخه یادونه شوې ده ترلاسه کړي. او دغه ژمنتیا په لاندې ټکو پور اړه لري: (۱) ملي ثبات راوستل، (۲) د قانون د واکمنۍ، د ولسواکۍ او د بشري حقونو ټینګ ملاتړ، (۳) د عامه خدمتونو او د دولت د حساب ورکونې ښه والې، او په دغه موضوع کې هغه هڅې هم شاملې دي، چې بیوزلۍ کې کمښت روالي او د پاییدونکي پرمختګ چې د اقتصادي پرمختیا کوم چې د خصوصي سکتور له لارې رهبري کیږي ا وهمدغه راز د انساني پرمختیا له شاخصونو څخه بشپړ ډاډ حاصلول دي. برسیره پر دې، د ټولو انکشافي ډګرونو د چټکتیا په موخه په ټولو مهمو سکټورنو لکه، کرهنه، انرژي، اوبه لګول او د ښوونې او روزنې په سکتورونو کې پانګوونې ته اړتیا ضروري ګڼل کیږي.

د پراخو مشورو څخه وروسته چې په هغو کې په زرګونو افغانانو او نړیوالو همکارانو ګډون درلود، د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره جوړه شوه، ترڅو ډاډ حاصل شي چې د پیژندل شویو لومړیتوبونو پراختیا د هغو ننګونو چې هیواد ورسره مخامخ دې متناسبه ده. په دې لاره کې بریالیتوب هله رامینځ ته کیدای شي، چې په همغږي، او پاییدونکي دول د نړیوالو همکارانو لخوا مو ښه ملاتړ وشي. په دې برخه کې د مرستو اغیزمنتیا ډیره مهمه ګڼل کیږي. تر څو د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې اجنډا، خپله د افغانانو لخوا، په ځانګړي ډول د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې د لومړیتوبونو او د دولت د اصلي بودجې له لارې په اغیزمنه توګه پلې شي.

د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره د یوې ملي تګلارې د سر لیک لاندې د ثبات، نیکمرغۍ او د سولې د سالمې واکمنۍ په اړوند یوه واحده او په بریالیتوب د ترسره کیدو لپاره یو ګډه لاره غوره کړې ده. لکه څنګه چې موږ د افغانستان د تړون لیک د په بریالیتوب د ترسره کیدو او د افغانستان د وګړو په ژوندانه کې د مثبت بدلون په لورې خوزښت کوو، نو د دې تګلارې د پلي کیدو لپاره د نړیوالې ټولنې، ټینګې او پاییدونکې مالي او سیاسي ژمنتیا ته اړتیا لرو. تر ټولو مهمه خو لا دا ده چې موږ د دې ګډې هڅې لپاره د دولت، خصوصي سکتور، مدنې ټولنې، نړیوالې ټولنې او ټولو افغانانو مشارکت او همکارۍ ته اړتیا لرو.

د یو بل سره په همکارۍ به موږ وکړای شو ترڅو د افغانستان د خلکو لپاره خپل لرلید په حقیقت بدل کړو.

## د افغانستان د ملاتړ په نړیوال کنفرانس (د افغانستان د ملي پرمختیا د تګلارې په کنفرانس) کې ګډون کوونکي هیوادونه او موسسې

**ګډونکوونکی هیوادونه:**

افغانستان (ګډ مشرتوب)
البانیا
استرالیا
اطریش
بحرین
بنګله دیش
بلجیم
برازیل
بروني
بلغاریا
کانادا
چیلي
چین
کرواشیا
قبرس
د چک جمهوریت
ډنمارک
مصر
ایستونیا
فینلنډ
فرانسه (ګډ مشرتوب)
مقدونیا
جرمني
یونان
هنګري
آیسلند
هندوستان
اندونیزیا
ایران
آیرلند
ایتالیا
جاپان
اردن
قزاقستان
د کوریا جمهوریت
کویټ
قرغزستان
لیتویا
لیبیا
لیتوانیا
لوکزامبورګ
مالیزیا
مالتا
هالنډ
نوې زیلاند
ناروی
عمان
پاکستان
پولنډ
پرتګال
قطر
رومانیا
روسیه
سعودي عربستان
سینګاپور
سلواکیا
سلوانیا
هسپانیه
سویډن
سویس
تاجکستان
ترکمنستان
متحده عربي امارات
انګلستان
د امریکا متحده آیالات
ازبکستان

**ګډون کوونکی موسسې**

د آغا خان بنیاد
آسیایي پراختیایي بانک
اروپایي کمیسیون
د شمالي اتلانتیک تړون (ناټو)
اسلامي پراختیایي بانک
د اروپایي اتحادیي استازي (سکرترجنرال)
نړیوال وجهي صندوق
ملګري ملتونه (ګډ مشرتوب)
نړیوال بانک
د اسلامي کنفرانس سازمان

**کتونکي**

د افغانستان لپاره د مرستو د
د اقتصادي همکاریو موسسه
د سره صلیب نړیواله کمیټه
د اقتصادي همکاریو او پرمختګ موسسه
د سیمه ایزو همکاریو لپاره د جنوبي آسیا ټولنه
اروپایي پارلمان
په اروپا کې د امنیت او همکاري سازمان

د دې لنډیز متن په انګریزي http:// www.embassyofafghanistan.org/document/resume_ANDS.pdf

اوټوله تګلاره په دغه ویبپانه کې موندلی شئ

http://www.embassyofafghanistan.org/documents/Afghanistan_National_Development_Strategy_eng.pdf

## ضمیمه ز

## د افغانستان د نړیوالې ټولنې د مرستندویانو لست

**(په ملیونونو ډالرو)**

| مرسته کوونکي | د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي د پلي کولو لپاره د ژمنه شویو پیسو اندازه | | | د ۱۳۸۰ څخه تر ۱۳۸۹ (جنوري ۲۰۰۲ ترمارچ ۲۰۱۱) تولي ژمنه شوي |
|---|---|---|---|---|
| | نوي | زري | تولي | |
| آسیايي پراختیايي بانک | ۵۰۰ | ۸۰۰ | ۱۳۰۰ | ۲۲۰۰ |
| آغا خان | ۱۰۰ | | ۱۰۰ | ۲۰۰ |
| استرالیا | ۲۳۲,۳٦ | | ۲۳۲,۳٦ | ٤٤۰،۲۳ |
| اطریش | ۰ | | ۰ | ۱٤ |
| بلجیم | ٤٦,۸۰ | | ٤٦،۸۰ | ۸٦،۸۰ |
| برازیل | ۱ | | ۱ | ۱ |
| کانادا | ٦۰۰ | | ٦۰۰ | ۱٤۷۹،۰۵ |
| چین | ۷،۵۰ | | ۷،۵۰ | ۱۹٦،۵۰ |
| کرواشیا | ۲۸،۱۰ | | ۲۸،۱۰ | ۲۸،۱۰ |
| د چک جمهوریت | ۲۲ | | ۲۲ | ۲۲ |
| ډنمارک | ٤۳۰ | ۰ | ٤۳۰ | ٦۸۳،۰٤ |
| اروپايي کمیسیون | | ۷۸۰ | ۷۸۰ | ۱۷٦۸،٦۵ |
| اي، سي، اچ، او | ۰ | ۰ | ۰ | ۲٦۸،۲۰ |
| مصر | ۲ | | ۲ | ۲ |
| ایستونیا | | | ۰ | ۰،۳۰ |
| فینلنډ | ۳۰ | ٤۵ | ۷۵ | ۱۵۲ |
| فرانسه | ۱۲٦،۸۰ | ۳۸،۷۰ | ۱٦۵،۵۰ | ۲۰٦ |
| جرمني | ۲۸۰،۸۰ | ۳۷٤،٤۰ | ٦۵۵،۲۰ | ۱۱۰۸،۳۲ |
| ګلوبل فنډ | | | ۰ | ۱۱،٤۸ |
| یونان | ۳،۱۰ | | ۳،۱۰ | ۱۲،۷۰ |
| هنګري | ۳ | | ۳ | ۳ |
| هندوستان | ٤۵۰ | | ٤۵۰ | ۱۲۰۰ |
| ایران | ۳۵۰ | | ۳۵۰ | ۱۱٦٤ |
| آیرلنډ | ۱۳،۵۰ | | ۱۳،۵۰ | ۳۳،٤۰ |
| اسلامي پراختیايي بانک | | | ۰ | ۷۰ |
| ایټالیا | ۲۳٤ | | ۲۳٤ | ٦۳۷،۳٦ |
| جاپان | ۵۵۰ | | ۵۵۰ | ۱۹۰۰ |
| قزاقستان | ۰ | | ۰ | ٤ |
| د کوریا جمهوریت | ۳۰ | | ۳۰ | ۸٦،۲۰ |
| کویت | ۳۰ | | ۳۰ | ۷۵ |
| لوکزامبورک | ۰ | | ۰ | ۷،۲۰ |
| مالتا | ۰،۳۰ | | ۰,۳۰ | ۰،۳۰ |
| هالنډ | ۱۲۰۹ | | ۱۲۰۹ | ۱٦۹۷ |
| نوې زیلانډ | ۱۵ | | ۱۵ | ۳۰،۸۵ |
| ناروې | ٦٦۹ | ٦ | ٦۷۵ | ۹۷۷ |
| عمان | ۳ | | ۳ | ۹ |
| د اسلامي کنفرانس موسسه | ۰ | | ۰ | ۱۵ |
| پاکستان | ۲۰ | | ۲۰ | ۳۰۵ |
| پولنډ | ۱،۳۰ | | ۱،۳۰ | ٦،۳۳ |
| پرتګال | ۰ | | ۰ | ۱،۲۰ |
| قطر | ٤ | | ٤ | ۲٤ |
| فدراتیفه روسیه | ۰ | ۰ | ۰ | ۱٤۱ |
| سعودي عربستا | ۰ | ۰ | ۰ | ۵۳۳ |
| سلواکیا | ۱ | | ۱ | ۱ |
| هسپانیه | ۲۳٤ | | ۲۳٤ | ٤۸٦،٤۷ |
| سویډن | ۰ | | ۰ | ۲۸۸،٦۰ |
| سویس | | | ۰ | ۱۳٤ |
| تایوان | ۰ | | ۰ | ۲۸،٦۰ |
| ترکیه | ۱۰۰ | | ۱۰۰ | ۱۹۰ |
| متحده عربي امارات | ۲۵۰ | | ۲۵۰ | ۳۲۳،۷۰ |
| انګلستان | ۱۲۰۰ | | ۱۲۰۰ | ۲۸۹۷ |
| ملګري ملتونه | ۰ | ۰ | ۰ | ۲۵۲،٤۰ |
| متحده آيالات | ۷۰۹۵،٤۰ | ۳۱۰٤،٦۰ | ۱۰۲۰۰ | ۳۱۸۵۱،۸٦ |
| ویتنام | ۰،۰۱ | | ۰،۰۱ | ۰،۰۱ |
| نړیوال بانک | ٤۳۳ | ٦٦۷ | ۱۱۰۰ | ۲۸۰۳ |
| نور مرسته کوونکي | ۰ | ۰ | ۰ | ۹۲،۷۷ |
| تولي | ۱۵۳۰۵،۹۷ | ۵۸۱۵،۷۰ | ۲۱۱۲۱،٦۷ | ۵۷،۱٤۹٦۲ |

## ماخذونه


د افغانستان تړون لیک، د افغانستان په اړوند د لندن کنفرانس د جنوري د ۳۱ څخه د فبروري تر ۱ پورې

د افغانستان د کلیو د پراختیا وزارت او د مرکزي احصائیې اداره، *د ملي خطراتو ارزونه ۲۰۰۵ افغانستان*

د افغانستان د ملي پرمختیا تګلاره، د افغانستان د ملاتړ لپاره نړیوال کنفرانس ۱۲ جون ۲۰۰۸ کال په پورته ذکر شوي سایټ کې یې موندلای شئ.

اندرسون، جان وارډ (د جون دیارلسمه او دوه زره اتم کال) نړیوالې ټولنې نور ۲۱ میلیارده ډالره مرسته د افغانستان لپاره، واشنګټن پوست له ویبپاڼې څخه
http://wwww.washingtonpost.com/wp-dyn/content/2008/06/12/AR008061200269_pf.html

د جمهوري ریاست لپاره د مطالعاتو مرکز(جنوري ۳۰. ۲۰۰۸) د افغانستان د مطالعاتو دګروپ راپور

د استخباراتو مرکزي اداره (دیرشم د جنوري ۲۰۰۸) د سي آی اې، نړیوال معلوماتي کتاب- افغانستان له https://www.cia.gov/library/publications/the-world-factbook/geos/af.html له ویبپاڼې څخه پر ۷ د اکتوبر د ۲۰۰۸ کال

د افغانستان څخه د ملاتړ د نړیوال کنفرانس اعلامیه ۱۲ د جون ۲۰۰۸ کال له:

http://unama-afg.org/_latestnews/2008/Paris-con-Declaration-june12.pdf ویبپاڼې څخه

د کورنیو چارو وزارت، دیموکراسۍ بیرو، بشري حقونه، او کار، (د مارچ ۱۱، ۲۰۰۸ کال) د بشري حقونو په اړوند هیوادنۍ راپور -۲۰۰۷ له http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrpt/2007/100611.htm ویبپاڼې څخه

د حکومت د حساب ورکونې دفتر، (د ۲۰۰۵ کال د جولای میاشت) د ځینو پرمختګونو سره، د امنیتي وضعې خرابیدل او نور خنډونه د متحده ایالاتو اهدافو ته ګواښ پیښوي (GAO-05-742) واشنګټن ډي سي، متحده آیالات

د حکومت د حساب ورکونې دفتر، (د ۲۰۰۷ کال دمې میاشت) په افغانستان کې د امنیت تامینول، او بیا رغونه یې (GAO-07-801SP) واشنګټن ډي سي، متحده آیالات

د حکومت د حساب ورکونې دفتر (د ۲۰۰۸ کال د جون دمیاشتې ۱۳) د ترویزم په ضد جګړه: د دفاع وزارت په اړوند راپور ورکړل شوي مکلفیتونه (GAO-08-853R) واشنګټن ډي سي، متحده آیالات

کاتزمن، کینت، د کانګرس د څیړنو خدمتونه (د ۲۰۰۵ کال د اپریل میاشت) افغانستان: ولسمشریزې او پارلماني ټولټاکنې (CRS RS21922) واشنګټن ډي سي، متحده آیالات د کانګرس کتابتون

کاتزمن، کینت، د کانګرس د څیړنو خدمتونه (د ۲۰۰۸ د جون دمیاشتې ٦) افغانستان: دجګړې څخه وروسته، حکومت داري، امنیت او د متحده آیالاتو پالیسي (CRS RL 30588) واشنګټن ډي سي، متحده آیالات د کانګرس کتابتون

نیگروپونتي، جان او سپنتا، رنګین دادفر (د ۲۰۰۸ کال دسپتمبر د میاشتي ۲۵) د افغانستان د ستراتیژیک مشارکت په اړوند
د افغانستان او متحده آیالاتو ګډه بیانیه له http://www.state.gov/r/pa/prs/ps/2008/sept/110323.htm
ویبپاڼي څخه

د دفاع د وزارت دفتر (۲۰۰۸) د افغانستان د ثبات او امنیت په لور د پرمختګ راپور (۱۲۳۰)

سروري محمد اسحق (n.d:) د اسیا پراختیایي لرلید- سویلي آسیا د افغانستان اسلامي جمهوریت له دې
http://www.adb.org/Documents/Books/ADO/2008/AFG.asp ویبپاڼي څخه